


دنیا د مینے کور (پښتو ناول) پرویز شیخ

دنیا دَ مینے کوردې خو ناترسه ستمګرو
تهٔ ماسره دشمن کړے زهٔ یې تاسره دشمن کړم
په خپله خونه نه یم ، څهٔ ورانه څهٔ ویجاړه
فکرونه دَ ګلونو، دَ بلبلو او چمن کړم

# دَ پښتو ناول

Pukhto.Net
پښتو

# دنیا دَ مینے کور

**مصنف**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو، انگلش)**

Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)

www.pukhto.net

**ټول حقوق محفوظ دي**

د کتاب نوم : دنیا دَ مینے کور

لیکوال : پرویز شېخ

اشاعت : جنوری 2013ء

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور

بیعه: (200) روپۍ

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پېښور

یونیورسټی بک شاپ

دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پېښور

www.pukhto.net



**ډالۍ :**

د نوموړی شاعر، ادیب، ، کالم نګار، تنقید نګار
په پښتو او پښتنو مئین فخر دوآبه (چارسده)
تمغۀ حسن کارکردګی ښاغلی **سلیم راز** په نوم

Pukhto.Net
پښتو

پرویز شیخ

## ړومبې باب

شایان ډیر په توندۍ دَ کور په لاره روان وو خو ناصافی یې په زړۀ کښې څه راغلل نو په نیمۍ لاره کښې خپه نیولې او ډبډې شو۔ اودریدو او دَ خیالونو په دنیا کښې مختلفو وسوسو او تلوسو سره مخ شو، هغه ته داسې ښکاریده لکه چې هغۀ دَ ثنا دَ مینې په جوارۍ کښې هر څۀ بائیلل، خپل اعتبار هم او خپل عزت او غیرت هم ۔ هغه سره دا فکر ملګرې شو چې هغه به دَ مشر خان او مشرې بی بی نه علاوه خپل مور پلار سره سترګې څنګه لګوی ؟ هغوی له به څۀ جواب ورکوی او دَ هغوی تسلی به څنګه کوی ؟ که مشرخان دَ هغه نه تپوس اوکړی چې "شایانه، تۀ خو ما خپل بچې ګڼلې ؟ تۀ خو دَ ثنا دَ عزت محافظ وې، بلکه زمونږ دَ ټول کور دَ عزت محافظ وې، تا داسې ولې کول ؟ تانه خو زما دَ دومره بې غیرتۍ امید نه وو ۔ تانه خو زما دَ کور او دَ کور دَ زنانۀ ستر، پړده نه وه څکه چې ته خو زما دَ کور سړې بلکه زما بچې وې" نو هغه به دَ هغۀ دَ "ولې" څۀ جواب کوی ؟ که دَ هغۀ خپل مور پلار دَ هغۀ نه دَ هغۀ دَ کړو وضاحت اوغواړی نو هغه به ورته څۀ وائی ؟ دا چی دا هر څه دروغ دی ؟ که هغه هغوی ته سوګندونه اوخوری نو آیا هغوی به دَ هغۀ په خوله باور اوکړی ؟ او که هغوی ورته اووائی چی "شایانه، تۀ خو دَ هغوی په تالی او دَ هغوی په نغری لوې شوې یې ۔ زمونږ ټول کور دَ هغوی په خیر خیرات او عشر زکوٰة چلیږی تا دومره بې ننګی او نامردی ولې اوکړه ؟ نو دَ


www.pukhto.net



هغوی دَ "ولې" به هغه څۀ جواب کوی "؟

دې سره هغه ته دَ مشرې بی بی خبره هم مخکښې شوه چی "څه روک شه چی بیا دې په دې طرف اونه وینم ۔ که مشرخان درنه خبر شونو ټکړې ټکړې به دې کړی او سپو ته به دې واچوی ۔ هغۀ ته دَ خپلې سزا او عبرتناک انجام یوه خیالی نقشه هم مخکښې شوه ۔ دَ یرې یوه سړیکه دَ هغۀ دَ زړۀ نه پورې راپورې اووته او ټول بدن یې اوبوګنیدو۔ هغه ته خپل ځان دَ خپل ځان او دَ خلقو په نظر کښې سپک، کچه او ملامته ښکاریدو خو دَ هغۀ ضمیر مطمئن وو ۔ د دې په رڼا کښې هغه دَ شپې په تیاره کښې په نامعلومه منزل روان شو۔

شایان دَ پنځلسو، شپاړسو کالو یو ښکلې ځوان وو ۔ هغه دَ شینکۍ ډهیرۍ دَ سیف علی خان ایکې یو ځوې، دَ هغه دَ ژوند سهاره، د زړۀ ټکور او دَ هغۀ دَ ښځې یاسمین بی بی دَ سترګو تور وو ۔ دَ هغۀ ښکلې دنګه ځوانی، څیره وجود، غټې بادامی سترګې، سور سپین مخ، نرۍ لوړه پوزه او په اوږو پراتۀ لوې لوې ویښته دَ فطرتی حسن یوه ځلانده کرشمه وه، په تعلیمی میدان کښې تر لسمه پورې لاړو خو دَ مالی مشکلاتو، دَ پلار دَ بیمارۍ او دَ نورو وړو لویو کشالو په وجه یې نور سبق اونه ویلے شو ۔

دَ هغه پلار سیف علی خان اګر چه په ذات خان خیل وو او پلار په نیکۀ دَ خپل جائیداد حجرې او ډیرې ډانډې خاوند وو خو په سؤنو جریبه زمکه، دوکانونه، دَ همسایهٔ مینې او شاملات یې دَ مور دَ

مرګ نه پس خرڅ کړل او ټولے پیسے یې په نشو تماشو ، شرابو کبابو ، فضول خرچۍ او شاه خرچۍ دوړه کړې ۔ دَ جائیداد نه علاوه سیف علی خان له خدائ هر نعمت ورکړے وو خو دَ اولاد دَ نعمت نه محروم وو ۔ پوره پنځلس کاله یې دَ واده شوی وو خو دَ اولاد څۀ امید یې تر سره شوے نه وو ۔ دَ پېښور نه واخله تر لاهور او کراچۍ پورې ښځه او خاوند په ډاکټرانو ، حکیمانو ، پیرانو ، فقیرانو او په زیارتونو اوګرځیدل خو دَ اولاد دَ امید څۀ پلوشه یې په نظر نشوه ۔ دَ هغه مور به چې خوشې کور او هغوی ته کتل نو سترګې به یې ډکیدے او تشیدے ۔ دَ هغۀ اولاد لیدل دَ هغے دَ زړۀ ارمان وو ۔ چې اونشوه نو بیا یې سیف علی خان ته دَ بل واده مشوره ورکړه خو هغۀ یاسمین بی بی دومره په مینه واده کړې وه او دومره مینه یې ورکوله چې دَ بلې ښځې خیال هم دَ هغۀ په زړۀ کښې نشو راتلې ۔ او دغسے یاسمین بی بی هم وه ۔ هغے دَ پاره دَ دنیا لویه خوشحالی صرف او صرف دَ هغے خاوند وو۔ هغه به چې هر ځائے وه او دَ هغۀ دَ خپو درب به یې وورېدو نو هر څۀ به یې په ځائے پرېښودل او هغه ته به مخکښې ولاړه وه ۔ یو خوا دَ هغه دَ مور دَ زړۀ ارمان وو بل خوا دَ هغۀ دَ ښځے مینه وه ۔ هم دغه وجه وه چې څو څو ځله یې دَ مور خبره په خندا واړوله خو چې اونشوه نو مور ورته خپله ښځه اولمسوله ۔ هغے غریبې دَ خوښې په مخکښې څه ویلے شو ؟ په زړۀ یې دَ صبر کاڼې کیښودو او دَ خوښې په خوله یې هغه ته دَ بلې ښځې اجازت ورکړو خو هغه اونه منله ۔ دَ کلی یارانو ،



www.pukhto.net



دوستانو او خواخوږو هم یو په یو دَ بل واده مشورے ورکړے خو هغوی له یې دومره رټلی جوابونه ورکړل چې بیا یو هم خوله پرے نکړے شوه۔

هلته دَ هغۀ دَ تربور ذوالفقار خان دَ بال بچ شمیر شپږو ته اورسیدو چې یوه پکښې جینۍ وه او پنځه هلکان وو ۔ ذوالفقار خان به دَ سیف علی خان دَ سیزلو دَ پاره دَ هر اولاد په ځیګون ډزے هم کولے او دَ ډزو واله سرو له به یې ښه زبردسته ډوډۍ هم کوله ۔ سیف علی خان ته پته وه چې هغه دا هر څۀ دَ هغۀ دَ قصده کوی ۔ سیف علی خان دَ ذوالفقار خان دَ رومبی ځوی دَ ځیګون نه علاوه دَ هغه دَ نور اولاد په ځیګون نه ډزے اوکړے او نه ئے مبارکی ورکړه او دغه رنګے دَ هغۀ مور او ښځې هم اوکړل ۔ البته که چرته لاړه کوڅه کښې به په مخه ورغۍ او سترګې به یې ورسره اولګیدے نو مبارکی به یې ورکړه خو بیا به په خپله مبارکۍ پښیمانه وو ځکه چې هغه به ترینه په خندا تپوس اوکړو ستا څنګه چل دے ، څۀ شته که نشته ؟ سیف علی خان به دَ هغۀ خبره په خندا واړوله او روان به شو ترینه ۔

یوه ورځ معلومه نه ده چې په کوم غرض او په کوم نیت ذوالفقار خان خپل کشر ځوې وقار خان غیږ کښې اونیوو او سیف علی خان کره ورغۍ ۔ هلته یې هغه یاسمین بی بی له غیږ کښې ورکړو ۔ یاسمین بی بی ډیره خوشحاله شوه هغه یې ښکل کړو او زړۀ پورے یې اونیوو خو دَ هغے خوابنځے هغه ماشوم دَ هغے دَ غیږ نه واخستو ۔ هغه له یې واپس ورکړو او ورته یې اووې "دا دے خدائ ستا نصیب کړی ۔ ستا

اولاد دے ۔ ستا دَ زړۀ ټکړه ده ۔ دے له به خداې خپل ورکړی ۔ دَ خداې نه مایوسه نه یو ۔ دواړه دَ خیره ځوانان دی "۔ ذوالفقار خان خپل ځوې په غیږ کښې اونیوو او زوړنده شونډے دَ هغوی دَ کوره نا امیده اووتو۔ دے نه پس هغۀ دَ یوبل په خوله سیف علی خان ته هم دغه ټنګ وورو۔ خو ټولوله هغۀ هغه جوابونه ورکړل کوم چې دَ هغه مور ذوالفقار خان له ورکړے وو۔ یو څو ورځے پس دَ خپل ناظر دَ یو تپوس په جواب کښې ذوالفقار خان په ډکه حجره کښې په ډاګه اووې ، "وه سَاده سړیه ، اولاد خو دَ زړۀ غوښې وی ۔ دَ زړۀ غوښې څوک دَ ځان نه شوکولے شی ؟ . .دا خو مِ دَ هغۀ دغه ټل ، ټکړے ته چل جوړ کړے وو خو چې بیا مِ سوچ اوکړو نو زۀ ترینه په خپله روستو شوم او په زړۀ کښې مِ اووې چې دَ هغۀ څوک دی ؟ دَ هغه ټول جائیداد او دوکانونه مخکښې روستو ماته او زما بال بچ ته پاتی دی "۔ دَ ذوالفقار خان دا عکسی خبره ټکې په ټکې دَ سیف علی خان غوږونو ته اورسیده ۔ په دے پیغور هغه سره لمبه شو خو دَ هغۀ مخکښې یې هیڅ اونه وې ، پاڅیدو او کور ته روان شو ۔

دَ ذوالفقار خان طنزیه خبره دَ سیف علی خان مور ته هم اورسیده او دَ هغۀ ښځی ته هم ۔ یاسمین بی بی دَ بے اولادئ دا پیغور په خپل زړۀ تیر او هیر کړو خو دَ سیف علی خان مور دا خبره زړۀ ته واچوله او دَ ډیر خفګان نه یې بوغمه شوه ۔ دا بوغمه تر هغے چلیده چې سترګې یې پټې شوې ۔ دَ هغے دَ مرګ نه پس دَ سیف علی خان دَ صلاح



www.pukhto.net



مصلحت او "ووړه مکوه " څوک پاتې نشو ۔ هغه ته داسې محسوسه شوه چې دَ هغه دَ خپو لاندے زمکه اوتختیده او هغه لاندے روان دے ۔ هغه ته ځان یواځې بلکه نیمګړے ښکاره شوه ۔ دے سره سره هغه سره خپله یره هم ملګرے شوه چې هسې نه دَ جائیداد دَ پاره یې څوک مړ کړی ۔ ښځی هم ورته دَ محتاط اوسیدو مشوره ورکړه او په خپله به یې هم دَ نظر لاندې ساتو ۔

یو ځل دَ شپې په تیارۀ کښې دَ هغه په کور دَ حملے او دَ هغۀ دَ ویشتلو تابیا هم شوې وه ۔ سړې دَ هغۀ کورته وراوختې وو او دَ هغۀ کټ له یې په غلو قدمونو ځان رسوو خو چې یاسمین بی بی دَ هغۀ په ښکالو پوهـ شوه نو دَ مخے سره یې پرے طماچه اوچلوله ۔ سړې اونه لګیدو خو دومره اویریدو چې منډه یې کړه او چی په ځان پوهیدو نو په کوهی کښې پریوتے وو ۔ ډزو پسې ذوالفقار خان او دَ هغۀ ځامن هم وسله په لاس را اورسیدل او سیف علی خان ته یې وراوډبوو۔ سیف علی خان چی هغوی ته ورلړے کړو نو ذوالفقار خان په ساه ختلی انداز اووې " سیف علی خان ، ډزے په تا اوشوے ؟ هغۀ ورته اووې " "نه لالا ډزے مونږ اوکړې "

ذوالفقار خان :۔ ولې څۀ شک دے راغلې وو څه ؟ څه چې خداې خیر کړو ۔

سیف علی خان :۔ ماته خدای خیر کړو خو تۀ دے دا خپل سړې ځان سره بو ځه او په ملا یې اوټپوه ځکه چې ډیر دَ تورے کاریې کړې دے؟

ذوالفقار خان :۔ زما سرې ؟ زما سرې څوک دے او چرته دے ؟
سیف علی خان :۔ په دغه کوهی کښې پریوتې دے "سیف علی خان هغه له رسی ورکړی ۔ چې رسی کوهی ته لاندے کړی او راکاږی نو سرې ترینه بهر را اوځی ۔ دا سرې دَ ذوالفقار خان مشر ځوی اسد خان وو۔ ذوالفقار خان او دَ هغهٔ ځامنو رنګونه اووهل ۔ ذوالفقار خان ډیر لوبیدلے سړی وو۔ هغه خپل ځوی ته بد رد ویل شروع کړل او دَ مخے سره یې پرے دَ کلاشن کوف لتې اووهلو خو دَ هغهٔ ځامنو هغه اونیوو۔ بیایې هغه ته وې "داسې هم لا څوک کوی لکه تا چې اوکړل ، شابه دَ کاکاجی په خپو دے پریوځه "۔ اسد خان لوند خوشت وو او ګرګوزې یې کولے ۔ دا ګرګوزې څهٔ دَ لوندو جامو په وجه وو او څهٔ دَ یرے په وجه ۔ بهرحال هغه دَ سیف علی خان په خپو پریوتو ، دَ هغهٔ زنه یې اونیوه او دَ هغه نه یې معافی اوغوښته ۔ دَ ذوالفقار خان غصه لاسړه نه وه هغهٔ دَ خپل ځوی نه په څټ یو شړق اوویستلو او ورته یې اووې "تا دلته څهٔ کول ؟ دلته ولے راتلے ؟ شابه دانګه "۔ اسد خان واقعی منډه کړ خو په منډه کښې یې پلار ته اووې "زهٔ خو نه راتلم خو تا راته په خپله وی چې څه ورځه پرے ، یریږه مه مونږ درته بهر ولاړیو"
ذوالفقار خان :۔ څهٔ دے اووې ، رذیله ...( هغې پسې بهر منډه کړی) ځې به چرته ؟ ذوالفقار خان او دَ هغهٔ ځامن چی دَ سیف علی خان دَ کوره اوځی نو هغه دروازه بنده کړی او خپل کټ له راځی او په یو


www.pukhto.net



لوے سوچ کښې پریوځی ۔ یاسمین بی بی به مخکښې هم دَ شپې څوکۍ کوله خو کله چې دَ ذوالفقار خان یوې خدمتګارې دَ هغے خدمتګارې ته اووې چی "دَ ذوالفقار خان ارادے ډیرې خطرناکے دی ۔ هغه وائی چې سیف علی خان به مړ کړم او دَ هغهٔ په ښځه به نکاح اوتړم ۔ دغه رنګې به دَ هغهٔ د ټول جائیداد مالک شم "۔ نو بیا دَ هغے دَ شپې خوب حرام شو۔ ټوله شپه به یې طماچه په لاس څوکۍ کوله ۔ خبره دے له راغله چې بیا به سیف علی خان په خپل کور کښې دَ خپل سیوری نه هم یریدو ۔ دَ هغهٔ بهرنۍ سرګرمۍ اوهلے ځلے هم کمې شوې وې ۔ دا ټول چل دَ هغهٔ جائیداد ته جوړ وو ۔ اخر دا چې ښځې مشوره ورکړه چې خپل ټول جائیداد خرڅ کړی او ټولې روپۍ په سیند لاهو کړی خو چی تربورانو ته یې پاتې نشی ۔ هغې ورته صفا صفا اووې "چی تهٔ نه یې نو زهٔ به په جائیداد څهٔ اوکړم "۔
سیف علی خان دَ هغے مشوره خوښه کړه ۔ هغه ړومبې کار دا اوکړو چې دَ ځان دَ حفاظت دَ پاره یې دَ ګوتې ګوتې بدمعاشان راغونډ کړل او په حجره کښې یې ځان سره ډیره کړل ۔ دویم کار یې دا اوکړو چې خپله شاړه زمکه یې پلاټونه کړل او دَ هغے په خرڅ یې شروع اوکړه۔ ذوالفقار خان چې دَ هغهٔ دَ زمکے دَ خرڅ نه خبر شو نو دَ یوے جرګے په خوله یې هغهٔ ته اووې چی "جائیداد مهٔ خرڅوه دا زمونږ دَ مشرانو هډوکی دی "۔ سیف علی خان چې دَ هغهٔ په خبره غوږ اونه ګره وو نو بیا په خپله دَ سیف علی خان په پلاټونو او دوکانو یې سره دَ ځامنو او

سړو یو چکر اووهو او اخستونکو ته یې اووې چې "زمکے له نزدے رانشی دا زما ده "۔ دا خبره چې سیف علی خان ته اورسیده نو هغهٔ هم ورپسې سره دَ سړو چکر اووهلو ۔ ذوالفقار خان او دَ هغهٔ ځامن او سړی دَ مینځ نه اوتی وو خو دَ هغهٔ زمیدارۍ دَ زمکے نه پاره کړل ۔ په ځاروو یې ورلـه پړی واچول او ورته یې اووې چې "لاړ شی او ذوالفقار خان ته وایی چې سیف علی خان ستا په جائیداد کښې ولاړ دے او ستا ،ستا دَ سړو او ځامنو انتظار کوی "۔ ذوالفقار خان په خپله پټو ته لانه رو البته دَ کلی دَ مشرانو او سپین روبو یوه لویه جرګه یې وراولیږله ۔ سیف علی خان دَ جرګے په مخ دَ هغهٔ زمیدارو ته په پټو کښې دَ کار اجازت ورکړو ۔ دے نه پس به چې سیف علی خان کوم خوا او په کومه لاره تلو نو لس پنځلس سورے ټوپکې به ورپسې وې بلکه کله کله به یې لنده لاره پریښوده او په لویه لاره به دَ هغهٔ دَ حجرے په مخه تیر شول ۔ کله کله به یې شیبه نیمه دَ هغهٔ دَ حجرے مخے ته سره دَ سړو اودریدو او په څهٔ بهانه به یې چا سره خبرے کولے۔ ذوالفقار خان ، دَ هغهٔ ځامنو او سړو به هغه او دَ هغهٔ سړی لیدل خو ټول بـه ټیټې سترګې ناست وو ۔ ذوالفقار خان چې دَ سیف علی خان په سترګو پوهـ شو نو یخے اوبه پرې توې شوے او یخ کیناستو۔ بیا یې دَ یوې جرګے په خوله دَ هغه نه معافی اوغوښته خو سیف علی خان هغه معاف نه کړو بلکه زړے خبرے او زړے بخی یې هم ورپسې راوسپړدے ، او ټولے جرګے ته یې هغه کوز سترګے کړو ۔ چې اونشوه



www.pukhto.net



نو بیا یې دَ چا په ښودنه دَ ډیر لرے نه ورپسې عظیم خان راوستو ۔ عظیم خان ډیر مخوریز، مخلص او خبرلوث سړے وو۔ دَ هغه متعلق دا مشهوره وه چې کومه جرګه به ورانه شوه جوړه به اونشوه او ښخی به د نورو نه پاتے شوه نو بیا به هغه روغه جوړه هغه کوله خو چې کومه به دَ هغه نه پاتے شوه نو هغه به په خونړۍ دشمنۍ کښې بدله شوه ۔ اګر چې دا کیسونه خت ناخت او ډیر کم شوی وو خو بیا هم دَ خلقو دَ پاره ژوندی مثالونه وو۔

عظیم خان کښې یوه خبره بلـه وه او هغه دا چې هغه ډیر سپین سترګې سړې وو ۔ نه دَ چانه یریدو ، نه شرمیدو بلکه په ډاګه به یې اوړ ته اوړ او پړ ته پړ ویلے ۔ دَ ذوالفقار خان دَ بیان نه پس چې کله هغه دَ سیف علی خان خبرے واوریدے او دَ اسد خان دَ زیاتی نه خبر شو نو په ټوله جرګه کښې یې هغه ملامته کړو او دَ جوړے دَ پاره یې په ذوالفقار خان لوے عذر کیښودو ۔ کله چې ذوالفقار خان سرکښے له راؤړو نو بیا یې ورله جوړه اوکړه ۔ عظیم خان کښې یوه خوبی بله هم وه او هغه دا چې کله به یو فریق دَ هغهٔ خبره اونه منله نو بیا به مظلوم سره دَ هغه خلاف اودریدو ۔ ذوالفقار خان هله کونتې ماتے کړے چې عظیم خان دَ هغه خلاف سیف علی خان سره په پره کښې اودریدو ۔

دَ جوړے نه پس به یې هم چې کله دَ هغوی سیمې ته راپیښه اوکړه نو دَ سیف علی خان ټپوس به یې کوو او په ذوالفقار خان به یې هم نظر ساتو چې چرته بیا ورسره زیاتې اونکړی ۔

دَ پلاټونو خرڅولو سره په کروړونو روپۍ دَ سیف علی خان جیب له راغلې ۔ دې نه پس یې دَ دوکانونو په خرڅ شروع اوکړه ۔ دَ هر پلاټ او دوکان په خرڅون کښې دَ ناظر او منشیانو خپل خپل کمیشن وو او هغوی به ترینه خپل کمیشن اخستو ۔ د دې په بدله کښې به هغوی دَ سیف علی خان مدحې هم ویلې او دَ چا په سرونو یې سرپه هم نه کوله ۔ دې نه علاوه ټوپک مارو او بدمعاشانو له به یې هم دَ خوراک ، څښاک ، جامه پیزار او تنخواه نه علاوه لوې لوې انعامونه هم ورکول ۔ د دې په بدله کښې هغوی دَ هغهٔ دَ عزت دَ پاره خپل سرونه په تلو کښې اېښلی ووا و ځینې خو پکښې داسې وو چې هغوی دَ سیف علی خان او دَ هغهٔ دَ سخا په باره کښې وې چې "زمونږ خان له خدای دومره څهٔ ورکړ دی چې په دواړه لاسه یې نولی نو په خپل ژوند یې نشی ختمولې "۔ دې سره به سیف علی خان په کړس کړس اوخاندل ۔ دَ جیب نه به یې یو موټې زرګون را اوویستل او هغوی ته به یې دَ حجرې په میدان کښې ګزار کړل ۔ بیا دَ هر سړی خپل قسمت وو چې چا له به څهٔ په ګوتو ورغلل ۔

په کلی کښې سیف علی خان په لاهو خان مشهور شو ۔ څومره نوکران چې بهر په حجره کښې وو دومره خدمتګارې دَ هغهٔ ښځې سره په کور کښې هم وې ۔ یاسمین بی بی به خپه په خپه ناسته وه ۔ خدمتګارو به پخوله ، سړوله ، بهر حجرې ته به یې هم لیږله ، هغې ته به هم اېښلـه او په خپله به یې هم خوړله ۔ چې ماسخوتن به کور ته


www.pukhto.net



تلې نو ځان سره به یې ډک ډک تالی اینګولې او ستری ستری ډوډۍ اوړلې ۔ دې سره سره به یې تنخواګانی هم اخستې او بال بچ له به یې نوې زړه جامه پیزار هم اوړو ۔

وخت تیریدو سره هغه نورو خانانو او غټانو سره هم تعلقات پیدا کړل ۔ په لږه موده کښې دا تعلقات دومره جور شو چې دَ هغه په حجره کښې به هر وخت اوږدې اوږدې موټرې ولاړې وې او غټې غټې ستړې به په کټونو کښې غزیدلې پرتې وې او په ذوالفقار خان چا سلام هم نه اچوو۔ په حجره کښې به ګډان حلالیدل ، هم هلته به اورتیدل ، سرهٔ کیدل او خوړلې کیدل ۔ دغه غوړې زیړې ، اورتې او تلې لیدلې به میلمنو هم خوړلې او دَ هغه ټوپک مارو او نوکرانو هم ۔ دې نه علاوه دَ مری ، کاغان ، سوات ، ناران او لاهور ، کراچۍ پروګرامونه به هم جوړیدل او هغه به تر سره کیدل ۔ دَ پېښور په پی سی هوټل کښې خو به په هفته کښې دَ ډوډۍ او موسیقۍ یو پروګرام ضرور کیدو۔ خپل زوړ ماډل ګاډی یې خرڅ کړو او ځان له یې لینډ کروزر ګاډی واخستو۔ بیا به سرهٔ دَ سړو پی سی هوټل ته تلو ، شپه به یې اوکړه او بیا به راتلو ۔ چې کله یې دَ پی سی هوټل د ډوډۍ خوند واخستو نو بیا دَ کور ډوډۍ خوند نه ورکوو۔ کله به په خپله لاړو او کله به یې سړی اولیږل او هلته نه به یې تیاره راؤړه۔

چې دَ پلاټونو او دوکانونو تیارې روپۍ یې ختمې کړې نو بیا یې دَ زرعی زمکې په خرڅ شروع اوکړه ۔ دې سره یې دَ لاهور فلم سټوډیوز

ته هم خپه اوږده کړه ـ هلته یې ګڼ شمیره نوې نوې دوستان جوړ کړل او دَ هغوی په ذریعه یې نوې نوې اداکاریانو سره پیژندګلو اوشوه ـ بیا خبره دے له راغله چې په لاهور کښې یې خپله ډیره جوړه کړه او کومه نوې اداکاره به چې سټوډیو ته راتله نو ړومبې ملاقات به یې هغه سره کوو ـ دَ هغوی په صحبت کښې یې دَ تماشے سره دَ نشے خوند هم واخستو ـ بیا به دَ شپے دَ کافورو شمعے بلیدے، ډمے به ګډیدے، دَ شرابو کاسے به کړنګیدے او په موټو موټو روپۍ به په هغوی شیندلے کیدے ـ دَ یوے نوې جینۍ چنپا په خواست یې دَ یو پښتو فلم "بدقسمته" جوړولو اراده هم اوکړه خو دَ فلم جوړولو نه مخکښے یې هغے سره پټ په پټه وادهٔ اوکړو او پټ په پټه هغے سره مری او سوات ته هنی مون له هم لاړو ـ چې کله دَ هغه ځایونو نه واپس شو نو بیا کلی ته لاړو او خپله ټوله زرعی زمکه یې خرڅه کړه۔ چې دَ زمکے نه پے غمه شو نو بیا لاهور کښې په پخه پریوتو او په فلم یې شروع اوکړه ـ دَ فلم سټوری یې په ایاز مومند اولیکله ـ ګانے رهبر کوهستانی اولیکلے ـ دَ موسیقۍ ترون پهلوان لالا اوکړو او دَ هدایت کار فرائض سلیم آفاقی اوکړل ـ دَ فلم هیرو شهزاد تبسم او هیروئن چنپا وه ـ دَ فلم عکس بندی په لاهور، کراچی (دَ سمندر غاړه) مری، کاغان، سوات، ناران، کوهستان، دیر او په لواری ټاپ اوشوه ـ په فلم په کروړنو روپۍ خرچه راغله خو اخر تیار شو ـ چې کله فلم سنسر شپ ته مخکښے شو نو دَ کمیټۍ ممبرانو او ډائرکټر دَ مخے



www.pukhto.net



سره ریجیکټ کړو ـ سیف علی خان چی دا ووریدل نو سخته ذهنی او قلبی صدمه ورته اورسیده خو دَ یو دوست په مشوره یې ډائرکټر له په فلم دَ نظر ثانۍ درخواست ورکړو ـ دَ هغهٔ په اثر رسوخ درخواست منظور شو خو دَ هغه نه دَ پنځوست لاکهه روپۍ مطالبه اوشوه، سیف علی خان چې دَ پنځوست لاکهه روپو ووریدل نو رڼا ورځ پرے توره شپه شوه ـ په سوچ او خیال کښې ډیر لرے لاړو ـ یوه شیبه پس هغه مسکې شو ـ درخواست یې ترینه واپس واخستو او کلی ته لاړو ـ هلته یې دَ همسایو مینې او شاملات خرڅ کړو او ډیر زر واپس لاهور ته لاړو ـ بیا یې دَ سنسر شپ ډائرکټر له درخواست او دَ هغه فیس دواړه ورکړل ـ درخواست هم په هغه ساعت منظور شو او په ولاړه ولاړه ورته اجازت نامه ورکړے شوه ـ دَ اجازت نامے ملاویدو په خوشحالۍ کښې دَ متعلقه سټوډیو ټول اداکاران، اداکاریانے، پروډیوسران، کیمره مینان او نورے عملے له یې ښه زبردسته ډوډۍ اوکړه چې په لاکهونو روپۍ خرچه پرے راغله ـ تیارے روپۍ هم ورسره ختمې شوے او ګاډی نه هم پے غمه شو خو هغه پرے خفه نه وو ځکه چې اوس به فلم چلیږی او په لاکهونو روپۍ به راځی ـ اوس دَ هغهٔ زړه جمع شو ـ هغه غوښتل چې چنپا سره خپل واده ښکاره کړی او دَ ولیمے باقاعده اعلان اوکړی خو دَ چنپا په مشوره باندے هغه دا اعلان یو څو ورځے اوزانګوو ـ دَ فلم کاپۍ مختلفو ښارونو ته تلے وې ـ فلم په مختلفو سینماګهرو کښی اولګیدو خو اونه چلیدو ـ او

په هفته دوه کښې تولے کاپی واپس راغلې ـ سیف علی خان چی دَ فلم فلاپ کیدو خبره ووریده نو سترګے پرے تورے شوے او سر پرے دروند شو ـ هغه چنپا سره په دے باره کښې څۀ خبره کول غوښتل خو هغې هغه سره دَ ملاقات نه انکار اوکړو ځکه چه شهزاد تبسم سره دَ وادۀ نه پس هغه ، هغۀ سره په هنی مون مری ته تلے وه ـ سیف علی خان چې دَ هغے دَ واده خبره ووریده نو په فرش باندے راپریوتو او پوره یو ورځ او یوه شپه په خپله ډیره کښې بے هوشه پروت وو ـ دَ هغه په ګنهو او دَ زارو قربان په دوستانو کښې یو هم داسے نه وو چی هغه یې هسپتال ته اوړلے وې یا هغه له یې ګوټ اوبه ورکړے وې ـ دَ هغه په نوکرانو او تهوپک مارو باندے دَ هغۀ دَ نیستی بوی لګیدلے وو او تهول واره په واره په داسے لارو لاړل چی هغه هډو اونه لیدل ـ دَ هغه ښځې یاسمین بی بی ته هم دَ هغۀ دَ بدحالی او زبون حالی بوئیں رسیدلے وو خو هغه دَ یو نوې میلمه دَ راتلو په خوشحالی کښی دومره مصروفه وه چې دَ هغے او دَ هغه دَ پاره دَ تهول عمر دَ خوشحالی باعث ګرځیدے شو ـ چی کله هغه په هوش کښې راغی او سترګې یې اوغړولے نو دَ هغۀ په کمره کښې هیڅوک نه وو ـ دَ هغۀ ډیره خوشې او تشه پرته وه ـ هغۀ لا دَ دغه دوستانو دَ بے وفائی متعلق سوچ کوو چې دَ یاسمین بی بی له خوا دَ هغۀ په موبائیل رنګ راغی ـ هغے ورته په موبائیل دَ نوے میلمه دَ راتلو زیرے ورکړو ـ دَ خوشحالی په ځائے هغه دومره خفه شو چی ذهن یې تهول ګډوډ شو خو بیا یې حوصله اوکړه او هغے



www.pukhto.net

دنیا د مینې کور (پښتو ناول) پرویز شیخ

ته یې اووې "دے دومره بدقسمته دے چې هر څۀ لاړل نو دے راغی" دَ شایان ځیګون دَ سیف علی خان دَ پاره نیک شګون نه وو ـ هغه دَ قرض خواهو دَ یرے دَ شپې په تیاره کښې کور ته په داسے حال کښې روان شو او په داسے حال کور ته دننه شو چې په کور کښې یې ډیوه قدرې نه بلیده ـ دَ هغه په ورتګ باندے یاسمین بی بی ډیوه اولګوله او چې په رڼا کښې یې دَ هغه زبون حالی او جامه پیزار ته اوکتل نو سترګی یې ډکے شوے خو دَ لوپټې په پسکی یې زر زر هغه اوچے کړے او په مسکا مسکا یې ورته اووے ـ دَ شایان پلاره ، تا چې دَ ځوی دَ ځیګون ووریدل نو جوړ په ځان پو هـ نشوی او په اغوستو جامو کښې راروان شوے "ـ

سیف علی خان خپلې جامې اوشنډلے او هغے ته یې اووے " ستا خبره صحی ده یاسمین ، ماده له دَ لوبو چنچنې هم راؤنه ړو ـ

یاسمین بی بی :ـ فلم دے جوړ شو ؟

سیف علی خان :ـ سترګې خکته کړی او وائی "هاؤ فلم جوړ شو خو اونه چلیدو فلاپ شو ـ

یاسمین بی بی :ـ ښه نو بیا؟

سیف علی خان :ـ بیا دا چی په کروړونو روپی م لاړے اوبو یوړې ـ دَ هر څۀ نه خلاص شوم "ـ دے سره یاسمین بی بی په خندا شوه او ډیر ساعت یې خاندل ـ په سیف علی خان دَ هغے خندا بده اولګیده ـ په زړۀ کښې یې وی چې "په ما څۀ حال دے او په دے څۀ حال دے ؟ زۀ تباه

وبرباد شوم او دا زما په تباهۍ خاندی ؟ هړو دا هم نه وائی چی دا زما خاوند دے ۔ دَ همدردۍ دَ دوو ټکو په ځاې ما پورې خاندی "؟ سیف علی خان دَ هغے په وفا شک من شو خو زړهٔ یې لوې کړو او په خوله یې هیڅ اونه وې ، یاسمین بی بی په خندا کښې هغه ته اووې "وارمه خطا کوه دَ شایان پلاره ۔ دَ هر څهٔ نه خلاص شوے نه یې بلکه هر څهٔ درله کورته راغلل ۔ ستا روپۍ اوبو نه دی اوړے بلکه په خپل لاس دې اولګولے ۔ بل ته خو نه دی پاتے شوی کنه ؟ په کروړنو روپۍ درنه لاړے خو دَ اربونو روپو ځوې درله راغے ۔ دے سره هغې خپل ماشوم ځوې شایان اوچت کړو ، ښکل یې کړو او دَ هغهٔ غیږ کښې یې کینولو۔

سیف علی خان چې دَ هغې دَ ډاډګیرنے الفاظ وورېدل نو مسکې شو ، هغه یې ښکل کړو او زړه پورې یې کلک اونیوو۔ بیا یې په ډډ اواز کښې اووې "بچې ته دومره بدقسمته یې چی هر څهٔ لاړل نو تهٔ راغلې ۔ ماخو تا ته هیڅ پرے نښودل "۔

یاسمین بی بی سیف علی خان ته په برندو ، یرونکو سترګو اوکتل او وے وئیل "څهٔ لاړل ؟ زمکه لاړه ؟ روپۍ پیسې لاړے ؟ او ته ورته اوګوره څوک راغلل ؟ د دنیا ، جهان خوشحالۍ او سکالۍ راغلې ، سکون او دَ زړهٔ قرار راغے ۔ د دهٔ د نوک دا سوکه به چاله په کروړونو روپۍ ورکړے ؟ تاته ویم کنه ، چپ ولې یې ؟

سیف علی خان :۔ نه چرے هم نه ۔



www.pukhto.net



یاسمین :۔ دَ شایان پلاره دَ خداې شکر اوباسه ۔ مونږ له خداې کورته دَ دنیا خوشحالۍ راوستې ۔ د دهٔ دَ روزۍ غم مه کوه ۔ چاچې دے پیدا کړے دے هغه یې د رزق ذمه هم اخستې ده ۔ ته ورته لږ اوګوره ۔ زمونږ خبرے په خوب کښې اوری او خاندی ۔ سیف علی خان چې هغه ته اوکتل نو هغه واقعی په خوب کښې خاندل دے سره هغوی دواړه هم په خندا شو ۔

## دویمه برخه

سیف علی خان یو څو ورځې کورتیرے کړې ۔ دَ ورځے به کور په کوټه کښې پروت وو او دَ شپې په تیارهٔ کښې به دَ کوره اووتو، په خپله زړه زمکه او پوله پټی به ګرځیدو او چې ښهٔ به ستړے شو نو کورته به راغے یو سوړ اسویلې به یې اوکړو او په کټ کښې به غمژن سملاستو تر صبا پورې به یې سترګه پټه نه کړه ۔ په خپلو خیالونو او سوچونو کښې به ډوب وو او ډډے په ډډے به اوختو را اوختو ۔ چې ډیر تنګ شو نو یوه ورځ دَ ښځې په مشوره سحر وختی دَ کوره اووتو او دَ خپل کلی نه ډیر لرے میرے ته لاړو ۔ هلته مزدورۍ ته کیوتو او دوه هفتے پرله پسې یې ښه مزدوری اوکړه چې څهٔ پیسې ټکې یې ګوتو له راغلے نو په څهٔ یې کور له سودا واخسته ، په څهٔ یې شایان له دَ لوبو سامان واخستو او باقی پاتے یې ښځے له ورکړے ۔ یوه شپه یې کور اوکړه او صبا سحر بیا مزدورۍ له لاړو ۔ پوره یوه میاشت یې مزدوری اوکړه او ټولے ورځے یې ډکے راغلې ۔ چې میاشت پس کورته

Pukhto.Net

راتلو نو ډکه ټانګه سودا یې ځان سره راؤړه ـ هغه به کلی کښې دَ شرمه چاسره سترګې نشوې لګولې نو اکثر به کور پروت وو نه یې چاته ځان ښودو او نه چا سره ملاویدو خو خبره چرته پټه پاتې کیږی، په کلی کښې چې یو کس دوو اولیدو نو دَ هغه دَ راتلو خبره په ټول کلی کښې ګډه شوه او هر سړی ته پته اولګیده چې هغه کلی ته راغلې دے خو چاسره ملاویږی نه ـ چا به دَ هغهٔ په حالت افسوس کوو او چابه ورپورې خاندل ـ خندا دَ هغهٔ تربورانو کوله او په تیره تیره خو دَ ذوالفقار خان خوله دَ خندا نه نه راغونډیده ـ په هره ډله کښې به یې وې "لاهو خان لاړو لاهو شو ـ خړ سیلاب ځان سره یوړو ـ بل به وې " لاهو خان لاړو طوطی شو ـ دویم به وې "هلکه اوریدلې مِ دی چې هغه نشائی شوې دے "دریم به وې "اوس به ورته پته اولګی چې دَ سیره څو پخیږی ". ډیرې خولې وې او ډیرې خبرې وې ـ دغه خبرې به په کورونو کښې ښځو هم کولې او چی چرته به په غم ښادئ کښې یو ځائے شوې نو اکثر به یې هم دَ هغوی خبرې کولې خو دَ هغوی په خبرو کښې لکه دَ سړو دَ خبرو خندا نه وه بلکه همدردئ او غم رازئ وی، یوې به وې "هغه خو خپل عیش معاش اوکړو خو هغه ښځه عقربه یې خیرته کینوله "دویمې به وې "یَ خورې زهٔ خو چې یې هغه ماشوم ځوی ته ګورم نو نیمه نه پاتې کیږم ـ داسې خائسته دې چې مخ یې ګلونه شرموی ـ هغه غریب به څهٔ کوی ـ هیڅ ورته پاتې نشو ـ بس دغه یو کور او حجره یې پاتې ده کیدیشی دا هم لرې کړی



www.pukhto.net



توبه خدایه توبه " ـ دریمې به وې "یَه خورې، دا به د دغه غریب په قسمت لیکلی شوې وو " څلورمې به وې "اوریدلې مِ دی چې دَ کور او حجرې خبره یې هم چل ولی کاکا سره کړې ده " ـ د دغه ښځو خبرې څهٔ حده پورې صحی هم وې ـ سیف علی خان بهر تربورانو او عزیزانو سره سترګې نشوې لګولې او دغه رنګې دَ هغهٔ ښځې دَ هغوی ښځو سره ـ تر دې چی سیف علی خان او دَ هغهٔ ښځې دَ کلی نه علاوه دَ محلت مړې ژوندې هم پریښودو ـ کیده کیده چې کور او حجره یې چل ولی کاکا سره ګانه کړل ـ په هغه پیسو یې په میره کښې تیار کور واخستو او دَ شپې په تیاره کښې یې په ګاډی کښې کډه کوډه واچوله ـ دواړه ډکې سترګې دَ کوره اووتل او داسې غیب شول چې هډو دَ مړ ژوندی یې پته نه لګیده ـ دَ کلی نه په وتو باندې ښځې خاوند څو څو ورځې دَ خفګان نه کله ښکاره او کله په پټه اوښکې بهولې خو بیابه ډیر زر ښځه پاڅیده خاوند له به یې دلاسه ورکوله او خاوند به دَ ښځې اوښکې اوچولې ـ وخت تیریدو سره دَ هغوی سترګې اوچې او زړونه کلک شو دَ وخت تقاضا هم دا وه چې ژوند سره تړون اوکړی او دَ کلی خلقو سره روغ رنځور، مړې ژوندې تلهٔ راتلهٔ او ګډون اوکړی ـ سیف علی خان به په چپه خوله ټوله ورځ مزدورانو سره په پټو کښې ګوډ، چاری کوله ـ نورو مزدورانو به ترینه خبرې ویستلې خو هغه به هغوی سره ډیر ګډون نه کوو ـ څو څو ځله ترینه هغوی دَ کور، کلی تپوسونه اوکړل هغه به ورته انګا بنګا وې

خو زوړ کور کلی یې چاته نه ښودو ۔ وخت تیریدو سره دَ هغهٔ صحت ورځ په ورځ پریوتو وو ۔ بیا خبره دے له راغله چې یوه ورځ به یې کار اوکړو نو دوه ورځے به یې په کټ کښې تیرے کړے ۔ کیده کیده چې یو اوچ ډکې ترینه جوړ شو ۔ او چې کله یې دَ نیستئ نه دَ سر ویښتهٔ او ږیره لویه شوه او دَ بیمارئ او کمزورتیا په وجه یې همسا راواخسته نو سپین سر او سپینې بمبلی ږیرے سره دَ کاړسو بابا ښکاریدو ، څهٔ دَ عمر او څهٔ دَ بیمارئ په وجه یې دَ سترګو نظر هم کمزورے شو نو دَ نظر چشمے به یې اچولے ۔

شایان بوعزکے شوے وو او په یو سکول کښې داخل شوے وو۔ دَ سیف علی خان دَ ناجوړتیا او بے روزګارئ په وجه دَ هغه په کور کښې سودا هم ختمه شوے وه او تیارے پیسی هم ۔ یوخوا یې په کور کښې دَ ډوډئ درک نه لګیدو بل خوا دَ دارو لیواله وو ۔ هغوی سره دَ ځان نه زیات دَ شایان غم وو ځکه چې هغه به سکول ته اوږے تلو او اوږے به راتلو ۔ یو څو ورځے خو یې دَ ګوانډیانو په خیر ، خیرات تیر کړے خو اخر تر کومه ؟ چې اونشوه نو بیابه یاسمین بی بی دَ خاوند په صلاح باندے دَ مشر خان کور ته تله ، دَ هغوی خدمت به یې کوو او سیف علی خان به همسا په لاس دَ کور مخے ته ناست وو ، پیتاوے به یې هم کوو او دَ کور څوکئ به یې هم کوله ۔ یاسمین بی بی دَ مشرخان دَ کور ښهٔ پخه خدمتګاره شوه ۔ هغې به ورله میښه هم لشله او دَ هغے غوجل به یې هم غورځوله ۔ چې دے نه به اوزګاره شوه نو بیا به یې



www.pukhto.net



ورله ماستهٔ شاربل ۔ چې غرمه به کور ته راتله نو مشرے بی بی به ورله درے دَ جوارو ډوډئ هم ورکړے او ماسته ، شوملے هم ۔ په هغے به ښځے ، خاوند او شایان ښه مړیدل ، مازیګر به بیا خدمت له ورغله ، کټوئ سمسئ به یې ورله هم اوکړه او لوښی ، لرګی به یې ورله هم اووینځل ۔ چې ماښام به کورته راتله نو ډک تالے اینګولے درے دَ غنمو غټی ډوډئ او څهٔ زړے ، نوے جامے پیزار به یې هم ځان سره راؤړو ۔ وخت تیریدو سره سیف علی خان په پریوتو وو او شایان په ختووو۔ هغه چې پنځم جماعت پاس کړو نو دَ کلی په لوے سکول کښې داخل شو یو ورځ دَ جمات په لوډ سپیکر کښې دَ مشرخان له خوا دَ زکواة اعلان اوشو دا اعلان یاسمین بی بی هم وواریدو او دَ سیف علی خان هم تر غوږو شو ۔ هغه دَ مشر خان حجرے ته په داسے حال کښې روان شو چې تبې نیولے وو ۔ رنګ یې وهلے وو او په بدن یې رږچ لګیدلے وو۔ هلته دَ تلو نه وو خو څهٔ دَ همسا په زور او څهٔ دَ شایان په زور دَ میږی په قدم روان وو ۔ چې دَ مشرخان حجرے ته اورسیدو نو خلق په قطار کښې ولاړ وو او هر سړی دَ خپل نمبر انتظار کوو۔

مشرخان په کټ کښې یو غټ بالخت ته ډډه وهلے وه او خپه یې په خپه اړولے وه ۔ په بل کټ کښې دَ مشرخان ، مشرځوې اعجاز خان ناست وو او دَ سرو او شنو نوټونو ګیډئ یې مخے ته پرتے وې۔ هغے سره خوا کښې په بل کټ کښې دَ مشرخان ناظر عبدالباقی او دَ هغه منشی اورنګ زیب ناست وو۔ ناظر به ورته کهرا ، کهوټه دَ غریب او

ګزاره حال ښودنه کوله او منشی به دَ هغهٔ په وینا دَ هغه د نوم لیکنه کوله ۔ چې منشی به نوم اولیکو نو اعجاز خان له به ورغی۔ او هغه به ورله پیسې ورکړے ۔

سیف علی خان چې دَ مشر خان حجرے ته دننه شو او مشر خان ته یې اوکتل نو رنګ یې داسے تاغیر شو لکه چې د ژمی یخے برو وهلے وی ۔ خپې یې ادلے بدلے شوے او همسا یې دَ لاسه اوخویده ۔ شایان دَ هغهٔ د تینګولو ډیر کوشش اوکړو خو تینګ یې نه کړے شو او په زمکه سرِ دَ لاندے راپریوتو ۔ مشرخان او اعجاز خان زر ورمنډه کړه هغه یې په دواړه تنه اوچت کړو او یو تش کټ کښې یې کینوو۔ اعجاز خان دَ هغه جامے اوخنډلے او شایان دَ هغه پټکې اوخنډو او هغه ته یې په سر اوتړو ۔ دَ هغه لویو لویو ، ببرو ویښتو ته چی مشرخان اوکتل نو دَ ناظر عبدالباقی نه یې تپوس اوکړو ، دا بابا څوک دے ، ما اونه پیژندو؟ دَ مشرخان ناظر دَ کلی دَ خلقو متعلق لویه پوهه لرله ۔ دَ کلی دَ هر سړی ، کور ، محلت او ګوانډ ورته معلوم وو ۔ هغه مسکې شو او ورته یې اووے " خان جی د دهٔ زوړ کلې راته معلوم نه دے خو دَ علی زیب خان نه یې دَ غلجو مینه اخستے ده او دَ تیرو څو کالو نه هلته اوسیږی "۔

مشرخان (خاندی) علی زیب خان به هم لکه زمونږ دَ لاهو خان ډیر زر لاهو شی ۔ د علی زیب خو لا بیا هم څهٔ لږ ډیر شته خو هغه غریب دَ هر څهٔ نه خلاص شو ۔ (سیف علی خان ته) کاکا تهٔ دَ کوم ځایے نه



www.pukhto.net



راغلے یې ؟

سیف علی خان یوه لویه ساه واخلی او چی حوصله یې په ځایے شی نو بیا وائی " دَ شینکی۔ ډهیری۔ نه "۔

مشرخان ( خاندی )تهٔ خو زما دَ اشنا دَ کلی یې ۔ په شینکی۔ ډهیری۔ کښې زما یو ډیر خوږ دوست وو۔ دَ هغه نوم سیف علی خان وو خو خلقو به ورته لاهو خان ویلے ۔ ته هغهٔ پیژنې ؟

سیف علی خان :۔ هاؤ ...هغه پیژنم ۔

مشرخان:۔ هغه اوس چرته دے ؟

سیف علی خان چې جواب ورکولو ته خوله جوړه کړی نو ساه یې ګډه وډه شی او تهوخے پرې راشی ۔ چې شه اوتو خیږی نو بیا یوه لویه ساه واخلی ، سر په بالخت کیږدی او سترګې پټې کړی ۔ مشرخان لا هغسے دَ هغه خولے ته کتل خو چې هغهٔ سترګی پټی کړے نو مسکے شو او ناظر ته یې اوکتل ۔ ناظر مشرخان ته او بیا سیف علی خان ته اوکتل او وے وئیل : دے غریب ته دَ هغهٔ څه پته ده ۔ دے په خپله مرګی حال پروت دے ۔ دے دَ ځان نه خبر نه دے نو دَ هغهٔ نه به څهٔ خبر شی "۔ شایان دَ پلار خپې په کټ کښې اوغزوی او دَ هغهٔ په خپو او لاسونو زور کوی ۔ چی تهول خلق لاړل نو بیا دَ سیف علی خان وار راغی ۔ دَ هغه سترګی ورغلے وی نو منشی دَ هغه دَ نوم په ځائے دَ شایان نوم اولیکلو ۔ شایان چې دَ پیسو دَ پاره اعجاز خان له ورتلو نو مشرخان ورته اووے "دلته راشه بچے "

شایان چې هغه له ورغی. نو هغه ترینه تپوس اوکړو " دا بابا ستا پلار دے که نیکهٔ ؟"

شایان (مسکې شی) دا زما پلار دے خان جی ۔

مشرخان :۔ تهٔ څهٔ کاروبار کوې ؟

شایان :۔ " زهٔ کاروبار نه کوم خان جی سبق ویم "۔

مشرخان :۔شاباش نره ، په څویم جماعت کښې سبق وایې ؟

شایان :۔ په شپږم جمات کښې ۔

مشرخان :۔ شاباش ، شاباش ، سبق وایه بچې ۔ لسم جماعت پاس کړه چې بیا چرته نوکر شې ۔ ماسره کټ کښې کینه بچے (شایان هغه سره کټ کښې کینی ) تهٔ چې دَ سکول نه راشی نو بیا څهٔ کوې ؟

شایان :۔ چې دَ سکول نه راشم نو ډوډی اوخورم ۔ بیا خپل هوم ورک اوکړم او دے نه پس نورو هلکانو سره په ډاګ کښې کرکټ کوم ۔

مشرخان :۔ نه څویه نه ، تهٔ به نورو هلکانو سره کرکټ نه کوے۔ چې دَ سکول نه راشی ، او ډوډۍ اوخورے نو بیا به اودهٔ شې ۔ چې خوب دے پوره شی نو بیا به هوم ورک اوکړے او چې هوم ورک دے اوشی او اوزګار شې نو بیا به دلته راځے او ماسره به کرکټ کوې ۔

شایان (مسکې شی ) تاسو سره ؟

مشرخان :۔ هاؤ ، ماسره او زمونږ وړو سره ۔

شایان :۔ ډیره ښه ده خان جی خو بیا به رانه ملګری خفه شی ۔

مشرخان :۔ زهٔ هم ستا ملګرے یم کنه ، چې دلته نه راځے نو زهٔ به درنه



www.pukhto.net



خفه شم ؟ستا څنګه خوښه ده ؟

شایان :۔ که تهٔ نه خفه کیږے نو زهٔ به هغوی سره لوبه کوم ۔

مشرخان :۔ نه بچے نه ، زهٔ ولے نه خفه کیږم ۔ ته اووایه ما اخلے که هغوی؟

شایان :۔ چې ته خفه کیږې نو هغوی ته به څهٔ بهانه اوکړم او پټ په پټه به دلته راځم ۔

مشرخان ( خاندی ) هیّ شاباشے ۔ دغه رنګے هغوی سره څهٔ چل ول کوه او دلته ، حجرے ته ځان رارسوه ۔

شایان :۔ دلته بیټ او بال شته ؟

مشرخان :۔ دلته هر څهٔ شته خو ته راشه ۔

شایان :۔ ډیره ښه ده خان جی ۔

مشرخان :۔ نن مازیګر به راځے ؟

شایان:۔ نه خان جی ، نن نه صبا له به لوبه شروع کوو۔

مشرخان :۔ نن ولے نه ؟

شایان :۔ نن دریمه ورځ ده چې پلار مې تبې نیولے دے ۔ مورمې وې چې خان جی دَ زکواة پیسې درکړی نو په دے به یې ډاکټرله بوځے۔

مشرخان :۔ او که دَ زکواة پیسې ملاؤ نشی نو بیا به پاتے شی ؟

شایان :۔ نه خان جی ، مورمې وې بیا به ورله کباړ هم خرڅ کړو او دَ کور ډیران هم ۔

مشرخان :۔ او که په هغے کار اونشی نو بیا ؟



Pukhto.Net

شایان :۔ مور مې وې چې بیا به په کور دَ چانه پیسې راواخلو ۔
مشرخان :۔ نه بچے نه ۔ نه به ډیرن خرڅوې نه کباړ او نه به دَ چا نه په کور پیسې راخلې. ستا دَ پلار علاج به زهٔ کوم خو په یو شرط ۔
شایان :۔ څهٔ شرط خان جی ؟
مشرخان :۔ شرط دا دے چې کله ستا پلار دَ خیره ښه شی نو بیا به دلته راځے او ماسره او زمونږ ورو سره به کرکټ کوے ۔
شایان :۔ ډیره ښهٔ ده خان جی ۔
مشرخان (اعجاز خان ته ) اعجازه ، ده له ډبل زکواة هم ورکړه او دوی ګاډی کښې کینوه او اوس اوس یې ډاکټر له بوځه او چی کله واپس شی نو ماله o.k رپورټ راکړه څه ورشه ګاډې را اوباسه.
اعجازخان:۔ ډیره ښه ده باباجی (شایان ته ) 'بچے پلار دے پاڅوه چې ځو''۔ هغوی لا دا خبرے کولے چې دَ حجرے په ګیټ باندے یو لوے موټر حجرے ته رادننه شو اعجاز خان مسکې شو ۔ پلار ته یې اوکتل او وے وئیل ''شهزاد تبسم راغې ''۔
شهزاد تبسّم او دَ هغهٔ ښځه چنپا لا دَ ګاډی نه کوز شوی نه وو چې مشر خان ورته اووے ''یه هلکه خوریه ، هغه زما دَ اشنا دَ فلم نه مو څهٔ جوړ کړل ''۔شهزاد تبسم او دَ هغه ښځه چنپا په خندا خندا دَ هغه سلام له ورغی ۔ دَ سلام نه پس شهزاد تبسم ورته په خندا وائی ''ماماجی دَ کومے زمانے خبره لا تراوسه تاسو ته یاده ده ''؟
مشرخان (خاندی) دا ماته څکه یاده ده چی دے فلم زما اشنا تباه کړو.


www.pukhto.net



هغه غریب خو په دغه فلم دَ تن دَ جامو نه هم خلاص شو ''(سیف علی خان په کټ کښې کینی ۔ شهزاد تبسّم او چنپا ته ګوری ...بیا سترګے پټې کړی او په خیال کښی لرے لاړ شی ) شهزاد تبسم (خاندی) ماماجی دَ فلم نوم هم بدقسمته وو ، جوړولو والا هم بدقسمته وو او مونږ هم بدقسمته وو ۔ هغه هم غرق شو او مونږ یې هم ځان سره غرق کړو ''۔
مشرخان :۔ تاسو ولې غرق شوې ۔ تاسو خو ترینه په لاکهونو روپې. اوتروړلے ۔ بدقسمته تاسو نه هغه دے چې دَ هر څهٔ نه خلاص شو او داسے مې اوریدلی دی چې خیر خیرات ته کیناستو ۔
شهزاد تبسم :۔ په داسے کارونو کښې داسے کیږی ماماجی ( خاندی) چی اوښان ساتې نو دروازے اوچتې جوړه وه (دے سره ټول خاندی)
مشرخان :۔ ښه ځی بچو ، کورته ورشی ، ځی ۔

## دریمه برخه

مشرخان یو عجیبهٔ سړې وو ۔ دَ هغهٔ دَ شخصیت څو څو رنګه وو هغه دَ لویو سره لوی او دَ ورو سره وړوکے وو ۔ دَ خانانو سره خان او دَ غریبو سره غریب وو ۔ دَ نیک معاشو سره نیک معاش او دَ بدمعاشانو سره بدمعاش ووچی په کومه خبره به اودریدو نو هله به ترینه کیناستو چی هغه به یې سرته اورسوله ۔ چې چاله به یې دَ دوستی لاس ورکړو نو دَ هغهٔ لاس به یې تر اخره پورے ټینګ نیولے وو. لوړ دنګ سور سپین درونډ سړې وو ۔ عمر یې دَ شپیتو نه اوختې وو خو دَ ظاهری

شکل وصورت نه دومره نه ښکاریدو ۔ خداې ډیر جائیداد هم ورکړے وو او لویه سینه هم ۔ دَ یارانو یار او دشمنانو دشمن وو۔ په کلی کښې دَ مشرخان په نامه یادیدو او دَ کلی نه بهر دَ عظیم خان په نوم باندے۔
سیف علی خان سره دَ هغه پیژندګلو هغه وخت اوشوه چی کله ذوالفقار خان سره دَ هغۀ خړه راغله او دغه خړه په شخړه بدله شوه۔ سیف علی خان اګر چه یو وزرے سړے وو خو دَ یو نر تربور په حیث دَ هغۀ نه روستو کیدو والا نه وو بلې یې ورته راخکلې وې او متې یې ورته انغښتې وې خو چې کله دَ جرګے مشری مشرخان ته اوسپارلې شوه نو دَ اوړ پړ معلومولو نه پس هغه ذوالفقار خان داسې بند په بند اوتړلو چې دَ سیف علی خان مخکښې یې بیا چوڼ قدرے نشو کولے۔ دَ روغے نه څۀ ورځے پس سیف علی خان ورپسې سړې اولیږلو او دَ ډوډۍ بلنه یې ورکړه ۔ دَ مشرخان نه علاوه دَ جرګے نور غړی او ذوالفقار خان هم راغی۔ او ټولو په غونډه ډوډۍ اوخوړه ۔ سیف علی خان دَ مشرخان دَ شخصیت او خلوص نه ډیر متاثر شو ۔ دے نه پس په یو واده کښې هم دَ دواړو لیدنه ، کتنه اوشوه ۔ بیا به یې کله کله دَ یو بل نه دَ هغه تپوس کوو۔ چی کله هغه دَ ټول جائیداد نه بے غمه شو نو څو ځله یې دَ هغۀ تپوس اوکړو خو هغه سره یې لیدل اونشو ځکه چی هغه دَ فلم جوړولو په سلسله کښې لاهور کښې پروت وو۔ مشرخان چې دَ هغه دَ فلم دَ ناکامۍ نه خبر شو نو ډیر خفه شو او دَ هغۀ په حالت یې ډیر افسوس اوکړو۔



www.pukhto.net



مشرخان به ډیرے خوږے او نرے خبرے کولے ۔ چی کومه جرګه کښې به هغه وو نو هغه روغه به خامخا کیده ۔ هاغه پخې ، کلکے ، اوچے ، پریکړے اوکړنګیدلے خبرے به یې کولے چې ټوله جرګه به ورته ګوته په خوله وه ۔ بعضے وخت به یې په جوړه کښې خپل تاوان هم کوو خو په هرحالت کښې به یې شخړه ختموله ۔ که یو فریق به چرے دَ سورے خوله واچوله نو هغه به یې دومره اورټلو چې خوله کښې به یې لاړے اوچے شوے ۔
مشرخان له خداې څلور ځامن ورکړی او څلور وانړه په خپل خپل کار کښې لاثانی وو ۔ دَ هغه دَ مشر ځوی نوم اعجاز خان وو۔ هغه په کلی کښې وو۔ دَ کلی مړے ژوندے یې کوو او دَ جائیداد نګهداشت یې هم کوو۔ دَ دویم ځوی نوم یې وقاص خان وو ۔ هغه په فوج کښې میجر وو ۔ دَ دریم ځوی نوم یې الطاف خان وو هغه په پیښور کښې سنیر سیول جج او دَ هغه ښځه وکیله وه ۔ د هغۀ دَ څلورم ځوی نوم لطیف خان وو او هغه ډاکټر وو ۔ دَ ځامنو نه علاوه دَ هغه دوه لوڼه وې۔ دَ مشرے نوم مریم وو او هغه دَ ایم بی بی ایس طالبه وه ۔ دَ دویمے لور نوم یې ثنا وو هغه وړه هم وه او نابینا هم ۔ هغه دَ نابیناؤ په سکول کښې دَ څلورم جماعت طالبه وه ۔ دَ اعجاز خان ، دَ هغه دَ بال بچ او ثنا نه علاوه دَ مشرخان ټول ځامن او لور دَ کلی نه بهر وو۔ چی کله به مړی ژوندی له کلی ته راغلل نو بیا به په کور او حجره دواړو کښې لوے رونق وو ۔ هم دغه رنګے دَ آؤټنګ دَ یو پروګرام په سلسله کښې

هغوی لکه دَ مخکښې غوندې راغلی وو. ټول دَ حجرې او کور شاته په لوی چمن کښې راغونډ شوی وو او کرکټ یې کوو . مشرخان په خپله هم دَ کرکټ ډیر شوقی وو خو هغه پکښې شرکت ځکه اونکړو چې هغه په حجره کښې دَ شایان دَ راتلو انتظار کوو . او دَ حجرې دروازې ته یې سترګې نیولې وې . چې کله شایان راغې نو هغه ډیر خوشحاله شو . شایان چې دَ هغه سلام له ورغې نو هغه په کټ کښې کیناستو او په ناسته ناسته ورترغاړه وتو . ځان سره یې په مینه کینوو او تپوس یې ترینه اوکړو " بچې پلار دې اوس څنګه دې ؟ شایان هغهٔ ته دَ منني په نظر غټ اوکتل او وې وئیل "اوس ښه دې خان جی " دې سره د هغهٔ په سترګو اوښکې راغلې . مشرخان چې دَ هغهٔ په خفګان پوهـ شو نو نیغ نیغ یې ورته اوکتل لکه چې دَ هغهٔ نه مکمل وضاحت غواړی . شایان سترګی خکته کړې او په ټیټو سترګو یې اووې " ډاکټر وې چې دَ هغه بیماری اوږده ده . ښهٔ به شی خووخت به اخلی ". مشرخان هغه ځان ته رانزدې کړو ، دَ هغه اوښکی یې اوچې کړې او دَ هغې په بدله کښې یې خپلې اوبهولې. بیا یې ښکل کړو او وې وئیل "وخت دې واخلی خو چې ښهٔ شی ".

شایان :۔ هاؤ کنه خان جی ، مورمِ هم وې چې "خیر دې ، وخت دې واخلی خو چې ښهٔ شی " .

مشرخان :۔ ښه به شی بچې ، هیڅ غم مه کوه ۔اوس ځه چې کرکټ له ځو . دې سره دواړه دَ کټ نه کوز شو . مشرخان هغه ته اووې



www.pukhto.net



"ماپسې راځه " . هغه دَ برنډې په بر سر یو وړوکې شان ګیټ لرې کړو . دَ حجرې نه بهر اووتل او په یو لوی چمن کښې ورګډ شو . دَ مشر خان دَ حجرې شاته یو لوی چمن وو. په هغې کښې غیر ملکی کبل کرلی شوی وو . دَ چمن نه چاپیره لویه چار دیواری وه او هغې سره جخت چاپیره دَ نارنجانو بوټی وو. دَ هغې نه په لږه فاصله باندې دَ چمن طرف ته دَ مالټو بوټی وو او دَ دواړو ترمینځه یو نرې پوخ سړک چاپیره تاؤ شوې وو . دَ سړک نه دننه طرف ته دَ رامبیلو ، کشمالو ، ګلِ شبو ، چنبې او نور خوشبو داره بوټی وو. دَ سپرلی په موسم کښې به چې دغه ټولې خوشبوئې خپلو کښې یو ځائے شوې نو یوه مسته او لیونی وږمه به ترینه جوړه شوه . دغه وږمې به په چمن کښې ، کور او حجره کښې دَ هوا چپو خوورولے . دَ خوشبویی دغه بې جلبه کاروان به کله کله دَ چمن ، کور او حجرې نه اووتو او بهر په چاپیریال کښې به دَ هوا په اوږو سور په مستی او ګډا ګرځیدو .

دا لوی چمن نظریاتی طور سره په دوو برخو کښې تقسیم وو. یوه برخه وړه وه او بله لویه ، وړه برخه دَ لویې برخې څلورمه برخه وه . په هغې کښې هر قسمه میوه دارې اونې او بوټی لګیدلې وو چې په هر موسم کښې به دَ میوې نه ډک وو . دې نه علاوه دَ لوبو دَ پاره پکښې ټالونه ، بانی چغ ، زانګوګانې او دَ وړو ، لویو دَ لوبو دَ پاره جدید ترین سامان لګیدلې وو. دې نه علاوه دَ میجر وقاص په مشوره دَ ورزش دَ پاره پکښې مختلف ځایونه جوړ شوی وو. دَ چمن په لویه برخه

کښې يو اړخ ته دَ سنګ مر مر سويمنګ پول جوړ شوے وو او دَ هغے په مينځ کښې يوه غټه فواره لګيدلے وه ـ دَ فوارے نه به اوبه ډير په تيزۍ سره بهر راوتے ، دَ چهترۍ په شکل کښې به په هوا کښې خوريدے او دَ ځاځکو په شکل کښې به لاندے تالاب کښې پريوتے ـ دَ نمر په رڼا کښې به داسے معلوميده چې دَ پاس نه دَ مختلفو رنګونو باران وريږي ـ دَ تالاب اوبه دَ ضرورت مطابق په چمن کښې خوريدے ګينې بهر لختو او پټو ته به تلے ـ دَ چمن په مينځ کښې دَ کرکټ دَ پاره يو پچ جوړ شوے وو چې په هغے به دَ مشرخان دَ کور زنانه ؤ او وړو کرکټ کوو ـ شايان چې دَ لرے نه چمن ته اوکتل نو سړو او زنانه ؤ يو ځائے لوبه کوله هغه خپه نيولے او ساه ختلې شو خو مشرخان ورته اووے "ماپسې راځه " دے سره هغه هغهٔ پسې رو رو روان شو ـ په چمن کښې پنځه ښځې او ځلور سړي وو ـ په زنانه لوبغاړو کښې يوه دَ اعجاز خان ښځه طاهره وه ، دويمه دَ وقاص خان ښځه ګل رعنا وه ، دريمه د الطاف خان ښځه ايډوکيټ عتيقه وه او ځلورمه د لطيف خان ښځه انيتا وه ـ پنځمه لوبغاړے دَ مشرخان لور مريم وه او چا چې امپائرنګ کوو هغه دَ مشرخان ښځه کلثوم بی بی وه ـ دے نه علاوه يوه پيغلوکے جينۍ دَ هغوی نه بے نيازه نورو وړو سره ناسته وه او خپل بال سره يې لوبے کولے ـ دا جينۍ دَ مشرخان کشره لور ثنا وه ـ ثنا مشرخان ته ډيره ګرانه وه ـ دومره ګرانه چې دَ ټولے دنيا دَ خوشحالو نه ورته هغه درنه وه او دَ ټولے دنيا دَ خوږو نه ورته هغه خوږه وه ـ هغه



www.pukhto.net



به سحر هله ناشته کوله چې مخکښے به يې هغه ښکل کړه ـ او هله به اوده کيدو چې مخکښے به يې هغه په خپله غيږ کښې اوده کړه ـ دغه رنګے په خپل اولاد او اينګيباندو کښې يې هغه کس خوښ وو چا به چې ثنا سره مينه کوله ـ هم دغه وجه وه چې هر يو به دا کوشش کوو چې هغے له دَ لوبو نوے نوے څيزونه راوړي او هغے سره خوږے خوږے خبرے اوکړي ـ

دَ مشرخان او شايان په ليدو باندے زنانه ؤ او سړو لوبه ختمه کړه خو دَ هغه په وينا باندے يې بيا شروع کړه او شايان يې هم دَ سړو په پړه کښې په لوبه کښې شامل کړو ـ چې لوبه شروع شوه نو مشرخان ثنا له ورغۍ هغه يې ښکل کړه ـ دَ لاس نه يې اونيوه او لاس نيولے يې دَ سيورۍ لاندے په بينچ کينوله ـ بيا به يې کله هغے ته کتل ، کله لوبے ته او پټې پټې خبرے به يې ورسره کولے ـ

شايان چې بالنګ ته اودريدو نو په لږ ساعت کښې يې هغوی ټولے آؤټ کړے ـ البته يو مريم لا خپې کلکے کړے وې او ولاړه وه ـ هغے پنځه رنز جوړ کړي وو ـ دَ شايان په شپږم بال باندے هغه هم کيچ آؤټ شوه ـ بيا شايان بيټنګ ته اودريدو ـ په ړومبی بال هغه چکه جوړه کړه او سکور يې پوره کړو ـ چې لوبه ختمه شوه نو کلثوم بی بی دَ مين آف ميچ اعزاز شايان له ورکړو ـ

دَ لوبے په ختميدو باندے مشرخان ثنا دَ لاس نه اونيوه پچ له يې بوتله او شايان ته يې اووے "ته به اوس ثنا سره لوبے کوے " ـ مشرخان بيټ

ثنا لـه ورکړو او بال یې شایان له ۔ هغه چې بال لاس کښې اونیوو اوې خاندل او وے وئیل "دا بال دے که چنچنې"۔
مشـرخان :۔ دا دواړه دی " بیـا یې دَ ثنا نه لوپټه واخسته او هغه له یې سترګی تړلے ۔
شایان :۔ په پټو سترګو به لوبه څنګه اوکړم ۔
مشـرخان ( خـانـدی ) چـی تـهٔ هـم دَ هغـے غـونـدے شې نو دواړه به برابر شی۔ ۔
شایان :۔ هغه خو سترګې غړوی خان جی ؟
مشرخان :۔ سترګې غړوی خو نظر پکښې نشته "مشرخان چې هغه له سترګی اوتړی نو بیا ورته وائی "څه اوس بالنګ کوه "۔
دَ دوو نابیناؤ مقابله شروع شوه ۔ شایان به بال کله یو خوا ویشتو او کله بـل خـوا ۔ مشـرخـان او تهـولـو سړو او زنانهٔ و ورپورے خاندل ۔ دَ یو شو ګـزارونـه پـس یې لاس پـه تـولـه شـو او اخر ځـائے له راغی۔ یو بال دَ ویـکـټ خـوا کښـې تیـر شو او دویم چی تیریدو نو ثنا داسے ګزار ورکړو چی چکه شوه ۔ په څلورم ګزار باندے چکه یا چوکه جوړه نه شوه خو درے رنـز یې اوکـړل ۔ دغـه شـان پـه یـو بـل بال یې دَ رنز جوړولو دَ پاره منډه وهلـه چې شـایـان سره یې ډغره اووهله ۔ دواړه لکے خانګے په زمـکـه راپـریـوتل او دواړه په خندا شو ۔ دے نه پس بیا دَ ثنا بالنګ او دَ شایـان بیټـنګ شروع شو ۔ دَ ثنا دوه باله تش لاړل ۔ په دریم بال شایان اولګیدو او په څلورم باندے ویکټ اولګیدو ۔ شایان بغیر دَ څهٔ سکوره





آؤټ شو ۔ دے سره لوبه ختمه شوه او دَ ګټې اعزاز ثنا واخستو۔

## څلورمه برخه

دے نـه پـس دا دَ شـایـان مـعـمـول شـو چې هر مازیګر به چمن ته تلو ، زنانهٔ و سره به یې هم کرکټ کوو او ثنا سره هم ۔ خو زیات وخت به یې ثـنـا له ورکوو ۔ څو ورځے پس ترینه دَ هغوی دَ کور ستر هم مات شو ۔ بیـا بـه دَ هـغـوی کور ته بے تپوسه او بے آوازه تلو ۔ چې کله دَ مشر خان نـور ځـامن او اینګیاندے لاړے نو بیا به ورسره دَ اعجاز خان ښځے او ثنا کـرکټ کوو۔ مشر خان یو څو ورځے دَ هغوی سرپرستی اوکړه خو بیا دَ هـغـه ضرورت پاتے نشو ۔ دَ هغهٔ ډیوټی به دَ ثنا ذاتی خدمتګارے انیله کـولـه . . .وخت تیریدو سره دَ هغوی تعلقات په دوستانه کښې بدل شو ۔ بیـا پـه سکـولـونو کښې دَ دواړو زړونه نهٔ لګیدل او دواړو به دَ مازیګر انـتـظـار کـوو۔ چې کله به شایان په څهٔ وجه لوبے له رانه غی، نو په هغه ورځ به هغے دَ خفګان نه دَ ماښام ډوډی هم نه خوړه او تر هغے به مروره وه چـی مشـرخـان به هغهٔ پسې په خپله لاړو او هغه به یې غوږ نیولے راوستو ۔ بیا به هغهٔ دَ هغے نه معافی اوغوښتله ۔ لږه شیبه پس به بیا دواړو خـنـدا خـوشـحـالـی کـولـه ۔ پـه دغـه خندا خندا کښې بـه دواړه کیـنـاستـل او یو ځائے به یې ډوډی خوړه ۔ کله کله به شایان هغے له په خـولـه کښـې نـوړی ورکـړه ۔ پـه هـغـه نوړی کښې به دومره خوند وو چې تر ډیر ساعته پورے به پرے هغے شخوند وهلو۔ثنا چې کله دَ هغه دَ لاس دَ نـوړی خـونـد واخستو نو بیا به یې لا یوه تیره کړے نه وه چی



www.pukhto.net

بلے تـه بـه يې لکه دَ ښارو دَ بچی خوله وازه کړے وه ـ دغه رنګے به ثنا
هـم دَ هغـه بدل خلاصوو. په ړندو سترګو به يې نوړۍ جوړه کړه او دَ
هغـه خوله پسې به يې ګرځوله ـ شايان به کله کله دَ هغے دَ تنګولو دَ
پاره دَ هغے په ګوتو چک اولګوو ـ هغه هم دَ هغه نه کمه نه وه ، هغے
بـه هم دَ چک جـواب پـه چک کـوو. هرماښام به هغوی دواړو يو ځاې
ډوډی خوړه او په ډوډۍ کښې به يې دغه شرارتونه کول ـ انيله به کله
کله دَ هغوی خوا له غلے راغله او په مسکا مسکا به يې هغوی ته او دَ
هغـوی مينـے تـه کتـل ـ چی کـلـه بـه هغوی کرکټ کوو نو انيله به
ورسره وه ـ هغے به دَ هغوی سرپرستی هم کوله او هغوی له به يې بال
هم راؤړو ـ چې کله به لوبه ختمه شوه نو انيله به ترینه کور ته لاړه او
هغوی دواړه به په چمن کښې کيناستل ـ

پـه دغـه کـور کښـې ياسمين بی بی هم دَ يوے خدمتګارے په حيث کار
کـوو خـو دَ کـور هيـچا ته پته نه وه چې ياسمين بی بی دَ شايان مور ده.
دغـه رنګے شايـان هـم دَ خپلی مور دَ عزت ساتلو دَ پاره هيچا ته دَ هغے
متعلق څۀ نه وو ويلے ـ هغه به طاهرے بی بی او کلثوم بی بی سره لکه
دَ خپـلـو ورو ناست وو ـ هغوی به ورسره توقے ټقالے کولے او هغه به هم
ورسره کولے ـ چی مريم به کله دَ پيښور نه راغله نو کله کله به هغے هم
چيـړو او کـلـه کله به دواړو خدمتګارو بدری او انيله هم چيړو ـ ياسمين
بی بی بـه پـرے ځان نـاغرضه کړے وو او دَ لرے نه به يې دَ هغوی ټوقو
ټقالو او چيړ چاړ ته کتل او ځان سره به مسکی مسکی کيده ـ



www.pukhto.net



شـايـان دَ مشـر خـان دَ کـور يـو فـرد بـلـکـه دَ هغـه اولاد جوړ شوے وو.
مشـرخـان دَ هـغـه بـاقـاعـده ميـاشـتـوار الاؤنـس مقرر کړے وو. او دغه
الاؤنـس دَ يـوے مـعـقـولـے تنخواه نه کم نه وو. ثنا چې اووم جماعت ته
اورسيـده نـو دَ خـپـل سـکـول دَ کـرکـټ کپـتـانه شوه ـ او چی کله اتهم
جـمـاعـت تـه اورسيـده نـو بيا يې دَ خپل سکول دَ پاره صوبائی ايوارډ
اوګټـو ـ هغے په خپل يو اخباری بيان کښې دا اعزاز شايان ته منسوب
کـړو. شايان چی دَ لسم جماعت امتحان ورکړو نو بيابه اکثر مشرخان
کره وو. هغوی له به يې دَ بازار ماته ګوډه هم کوله او دَ ثنا کوچنګ به
يې هـم کـوو. بـلـه دا چې دَ مشـرخـان پـه ويـنـای دَ هغـه پـه ګـاډی دَ
ډرائيـوری چـل زده کـړو. چی لاس يې پـوخ شـو نـو مشرخان دَ ثنا
ډرائيـور لـه چُهټـی ورکـړه او هغه يې ډرائيور شو. چی لسم جماعت
يې پـاس کـړو نـو پـه هغـه ورځ دَ مشرخان په کور کښې دَ خوشحالۍ
اختـر وو. مشـرخـان ، مشرے بـی بـی او نـوروزنـانـهٔ ورلـه لوے لوے
انـعـامـونـه ورکړل ـ دَ ګلونو او روپو سهرے يې ورته واچولے ـ بدرۍ او
انيـلـه په کټ کښې کينوو او لکه دَ وادهٔ دَ زلمی يې په پالنګ اوخيژوو
او يـاسـمـين بی بی ورله په خوله کښې دَ حلوا نوړۍ ورکړه ـ مشرخان
هم پټ په پټه دا هر څۀ اوليدل خو ځان يې پرے ناغرضه کړو، مسکې
شـو او بهـر اووتـو ـ چې کله سکولونه شروع شو نو دَ هغه ډيوټی هم
شـروع شـوه ـ مشـرخـان څـو څـو ځـلـه هغه ته په کالج کښې دَ داخلے
اخستـو دَ پاره اووے ـ ثنا هم ورته په کلکه اووے خو هغه دَ کرکټ لوبے

داسې لیونې کړې چې نور سبق ویلو ته یې بیخي ډډې نه لګیدې ۔
هغه دَ ثنا ډرائیور هم شو ، دَ هغې محافظ هم او دَ هغې کوچ هم شو۔
مشرخان هغه د پاره دَ ډرائیوری تنخوا مقرر کړه او دا تنخواه دومره وه
چې دَ اوولسم ګریډ دَ افسر نه کمه نه وه۔ خو خو ځله ورته شایان
تنخواه واپس کړه او ورته یې اووې "دا کار زۀ دَ تنخوا دَ پاره نه کوم
بلکه دَ هغې خدمت په ما فرض دې ځکه چې هغه معذوره ده"۔ خو
مشرخان دَ هغه خبره اونه منله او هره میاشت به یې باقاعده تنخواه
ورکوله ۔ هلته ثنا هم په بل ډرائیور خوشحاله نه وه ۔ دَ هغه کار ثنا
سکول ته بوتلل ، راوستل ، دَ بازار نه سودا راؤړل او مشرخان یا بیبانې
مړی ژوندی له بوتلل ، راوستل وو۔

ثنا لا په نهم جماعت کښې وه چې دَ کرکټ بین الصوبائی مقابله ئې
اوګټله ۔ هغې دا اعزاز هم شایان ته منسوب کړو۔ دَ خپلې غارې نه یې
سهره اوویستله او هغه ته یې غاړه کښې واچوله ۔ مشرخان دَ ثنا په
کامیابۍ ډیرخوشحاله شو خو دَ هغې په خلوص د ډیرې خوشحالۍ نه
په جامو کښې نه ځائیدو ۔ ثنا چې لسم جماعت ته اورسیده نو
"پاکستان کرکټ فارسپیشل ویمن انډر نائنټین" دَ پاره یې تیارې
شروع کړو۔ هغه اوس مکمل پیغله شوې وه او دَ پیغلتوب دَ سپرلی
رنګینۍ دَ هغې دَ بدن په باغیچه خورې شوې وې ۔ میانه قد، میانه
فربګی ، سپین غټ نوراني مخ ، نرۍ سرې ګل پاڼې شونډې، نرۍ
پوزه ، وړه خوله غونډه زنه ، غټې بې نوره تورې سترګې ، سنبل زلفې


www.pukhto.net



او دَ بدن متوازن او موزون لوړه جوړه ، دې عناصرو دَ هغې په حسن
کښې دومره کشش پیدا کړې وو چې شایان ترینه سترګې نشوې
ویستلې ۔ دَ بالنګ په دوران کښې به دَ هغې دَ خورو زلفو سوکو دَ
هغې دَ دواړو غونډیو سُوکې ښکلولې او تښنولې او دَ بیټنګ په دوران
کښې به دَ هغې دَ بدن په پیچ وتاب او دَ موجونو په غورځنګونو کښې
سحر انګیز خوندونه پیدا کیدل ۔ شایان چې به کله هغې ته کتل نو
په زړۀ کښې به یې وې "کاش ثنا دَ خپل حسن نظاره په خپله کولې
شوه"۔ دغه حال دَ ثنا هم وو او هغې به هم کله کله دَ خپل بصارت
ارمان کوو خو دَ خپل حسن دَ لیدو دَ پاره نه بلکه دَ شایان دَ لیدو دَ پاره ۔
دَ شایان شونډه شنه شوې وه او په زنه یې هم دَ نرۍ پشم آثار پیدا
شوی وو۔ دَ سر دَ ویښتو سوکو به یې په اوږو هواسره لوبې کولې او دَ
بالنګ یا بیټنګ په دوران کښې به یې کله کله دَ هغۀ سترګې او
اننګی ښکلول ۔ دَ هغوی دَ شرارت نه ځان ساتلو دَ پاره به هغه دَ
کرکټ په دوران کښې هغه په یوه فیته نما سره چیرړه باندې تړل ۔ دې
سره چیرړې سره به دَ هغه دَ شخصیت بریښنا نوره هم زیاتیده ۔

یو ځل شایان بالنګ کوو او ثنا بیټنګ ته ولاړه وه ۔ شایان چې پوره
زور سره بال ګزار کړو نو دَ ویکټ په ځائے هغه په کونډۍ اولګیده ۔ دَ
ګزار دَ "ټک" سره هغه په زمکه راپریوته ۔ دَ درد نه سمه لیونۍ شوه
۔ ډډې په ډډې اوختته را اوختته او په زمکه لوغړیده خو دَ خولې نه یې
ویش قدرې اونه وتو ۔ شایان او انیله دواړو هغې له ورمنډه کړه ۔انیله

چې دَ هغې دړدونو ته اوکتل نو دَ سپرے راؤړلو دَ پاره یې کور ته منډه کړه ۔ شایان دَ هغې دَ راتلو او دَ سپرے راؤړلو انتظار اونکړو ۔ دَ هغې پائنڅه یې اوچته کړه ، دَ هغې په کونډۍ یې خوله کیښوده او پوکې ورکول یې شروع کړل ۔ دَ هغه په پوکو کښې دومره حرارت او دومره مسیحیّت وو چې په یو څو پوکو کښې دَ هغې دړدونه ختم شو البته رومانی لذت واره په واره زیاتیدو ۔ دَ هغې په مخ مسکا خوره شوه ، شونډے یې اورپیدے او ځان سره یې غلے غونډے څۀ اووے خو شایان دَ هغې په ګنګوسی پوھ نشو ۔ هغه په یره یره دَ هغې نه تپوس اوکړو "اوس څنګه یې ثنا" ؟ هغه یو ځل بیا مسکئ شوه او وے وئیل "اوس ښه یم شایانه ، شکریه" هغې خپله پائنڅه خکته کړه او هغه ته یې اووے "ما اوچته کړه پلیز "۔ شایان هغه دَ لاس نه اونیوه او اوچته یې کړه ۔ دَ انیله دَ راتلو نه مخکښے هغه ښه شوے وه ۔ دواړو دَ یو بل نه لاسونه تاؤ کړی وو او په چمن کښې ګرځیدل ۔

شایان څو څو ځله دَ هغې نه معافی اوغوښته او هر ځل هغې دَ هغه په خوله لاس کیښودو ۔ په اخره کښې یې ورته اووے "شایانه معافی دَ څۀ خبرے ؟ په کرکټ کښې دا څۀ نوے خبره نه ده ۔ داسے اکثر شوی دی او کیږی ، ماته پته ده چې تا زۀ په قصد نه یم ویشتلې ۔ او که . . او که تازۀ نه وې ویشتلی نو ستا دَ پوکو خوندونه به مې څنګه اخستو " دے سره دَ شایان وجود اوږچیږی ۔ هغه څۀ ویل غواړی خو ثنا دَ هغه نه مخکښے شی ۔ دَ څۀ ویلو نه مخکښے دَ هغې مخ تک سور شی او


www.pukhto.net



هغه ته وائی "شایانه ، . . . .انیله راته وې چې . . .تۀ . . . .تۀ ډیر خائسته یې "۔

شایان (مسکې شی ) دا خبره بالکل صحی ده . ستا حسن ښاپیرۍ شرموی ۔

ثنا(خاندی) زۀ خپله خبره نه کوم . . .ستا خبره کوم . . .هغے وې چې ستا دَ مخ نه وینه او ستا دَ ځوانۍ نه مینه ځاځی ۔

شایان :۔ داسے هیڅ خبره نشته ، هغه دروغ وائی ۔

ثنا :۔ که هغه دروغ وائی نو زما بصیرت خو دروغ نه وائی ۔ تۀ بالکل هم هغسے خائسته یې ، څنګه چې هغې وے بلکه دَ هغې دَ وینا نه هم زیات خائسته او خوږ یې ۔

شایان :۔ ته داسے خبرے ولے کوې ثنا ؟

ثنا:۔ دا ځکه کوم چې زړۀ مې غواړی چې دَ زړۀ خبره درته اوکړم ۔ زما خبرے خو په تا بدے نه لګی ؟

شایان:۔ نه چرتۀ هم نه بلکه ډیرے ښۀ اوخوږے لګی ۔ ستا په خبرو کښې دومره خوند دے چې په الفاظو کښې نه ځائیږی ۔

ثنا :۔ ته رشتیا وائې شایانه ؟

شایان :۔ دروغ ویل زما عادت نه دے او نه دَ دروغ ویلو چل راځی ۔

ثنا :۔ ښه نو بیا درته دَ زړۀ خبره اوکړم ؟

شایان :۔ بالکل اوکړه ۔

ثنا :۔ شایانه ، زۀ ستا په سترګو څنګه لګم ؟


Pukhto.Net

شایان:۔بالکل داسے لکه دَ سور سپرلی ، سره غنچه ۔

ثنا :۔ او ستا په زړه ؟

شایان :۔ لکه دَ خوږ زړهٔ ټکور ۔

ثنا :۔ دغه حال زما هم دے ۔ خو ...خو ...زهٔ چی نابینا یم نو بیا؟

شایان:۔ کـه ته نابینا یې نو زهٔ خو نابینا نه یم ثنا ۔ ماته ستادَحسن تولے کرشمے ښکاری ۔ هغه کرشمے چې دَ هغے اثر طلسماتی اوجاودانی دے

ثـنـا :۔ شـایـانـه ، تـهٔ ...تـهٔ ....تـهٔ زمـا دَ نـیـمـګـړے ژوند سـهـاره ...جوړیدیشی ؟

شایان (خاندی) سهاره خو زه ستا یم ځکه چې زهٔ ستا نوکریم ۔ دَ کور نـه دے لاس نـیـولـے ګاډی له بوځم ۔ لاس نیولے دے ګاډی کښې کینوم، لاس نـیـولـے دے سـکـول تـه بوځم ، بیا دے لاس نیولے ګاډی له راولم او لاس نیولے دے کور ته رسوم ۔

ثـنـا ( مسکـې شی ) تـهٔ زما په مطلب پوهـ نشوے او که زمانه خبرے اوباسی ؟

شایان ( خاندی ) ستا خبرے هم په مابنهٔ لګی خو ستا په خبره هم پوهـ نشوم ۔

ثـنـا:۔ زهٔ ویـم چې مـونـږ دواړه دَ ټـول عـمـر دَ پاره ...تل تر تله یو شو۔ اوس پوهـ شوے که نه ۔

شایـان :۔ پوهـ شوم خو داسے به څنګه اوشی ۔ ثنا زهٔ ستا نوکریم او تهٔ زما بی بی یې ۔





ثنا :۔ چې مونږ دواړه یو شو نو دا فرق به ختم شی ۔

شـایـان :۔ سـتـا خبره صحی ده ثنا فرق به هله ختم شی چی مونږ دواړه یـو شـو خو یوکیدو ته به موڅوک پریږدی ؟ که زما او زما دَ کور دَ حال نـه خبر شـوے نـو زمـونـږ پـه حالـت به توبے اوباسے ۔ ثنا ، زما پلار یو غریب سړے دے ۔ په لاعلاجه مرض پروت دے ۔ زمونږ کور ستاسو په خیر خیرات او عشر زکوای چلیږی ۔

ثـنـا:۔ کـه سـتـا پـلار غریب دے نو زما پلار خو غریب نه دے او بیماری خـو پـه هـر چـا راتـلـے شـی ۔ چې ته زما دَ پاره دومره قربانی ورکوی نو هغه به څنګه انکار اوکړی ؟

شایان :۔ ثنا ستاسو په کور کښې یوه خدمتګاره زما مور هم ده۔

ثـنـا ( مسکـې شی ) چې هغه شته نو بیا تاته دَ منت څهٔ ضرورت دے؟ هغه به م شفارس اوکړی ۔

شایان :۔ او هاؤ ۔ ته زما په مطلب پوهـ نشوے ثنا؟ زما مطلب دے چې زه ستـاسـو او ستاسو دَ کورنی دَ ناستے ، پاستے او روانے ، ولاړے جوګه نه یم ۔

ثـنـا :۔ چې زهٔ او تـهٔ جـوړه شـو نـو پـه خپله به جوګه شے ۔ ستا څنګه خوښخه ده ؟

شایان :۔ جذباتی فیصله مه کوه ثنا ۔

ثـنـا :۔ دَ مینے فیصله خو تل جذباتی وی ۔ او په کومه مینه کښې چی جذبه نه وی نو هغے ته مینه نه وائی بلکه هسے دَ مجبوری تړون وی۔



www.pukhto.net

شایان:۔ ته په خپله خبره لږ سوچ اوکړه هسې نه چې بیا پرې پښیمانه یې؟

ثنا :۔ د ډیر سوچ او فکر نه پس مې دا خبره اوکړه ۔ زهٔ تاسره وعده کوم چې ستا په وفا به کلکه ولاړه یم او ستا په پت به تر مرګه پورې ناسته یم خو ته ماسره وعده اوکړه چې دَ زړهٔ نه مې وسوسې اوځی ۔

شایان ( خاندی ) چې وعده درسره اوکړم نو په انعام کښې به څهٔ راکړې؟

ثنا:۔ د دنیا ټولې خوشحالۍ به ستا په نوم کړم ۔

شایان ( خاندی ) نه ، دا مې نه دی پکار ۔

ثنا:۔ د دنیا ټولې ورېمې به تانه زار کړم ۔

شایان :۔ دا م هم نه دی پکار ۔

ثنا :۔ دَ دنیا ټول خوارۀ به ستا په نوم کړم ۔

شایان :۔ دا مې هم نه دی پکار ۔

ثنا:۔ ښه نو بیا ته راته اووایه چې ته څهٔ غواړې ؟

شایان :۔ستا دَ دواړو شونډو من وسلویٰ ۔ دې سره دَ هغې شونډې ښکلوی ، دَ هغې په بدل کښې هغه هم دَ هغه شونډې ښکلوی ۔ هغوی لا په دغه خوندونو کښې مصروف وی چې لرې انیله ښکاره شی چې دَ هغوی طرف ته راروانه وی ۔ شایان چې هغې ته اوګوری نو پاڅی او هغې ته وائی "پاڅه ثنا ، انیله را روانه ده ۔ دې سره ثنا هم پاڅی ۔ د نمر اخری پلوشې په هغوی پریوځی ۔ شایان چې دَ نمر پلوشو ته اوګوری نو وائی ، اې دَ نمر زیړو پلوشو ، تاسو ټول زمونږ په مینه ګواه اوسئ۔ "



www.pukhto.net



## دویم باب

دَ سیف علی خان علاج جاری وو۔ مشرخان به ورځ تر مینځه دَ شایان نه دَ هغهٔ دَ بیمارۍ پوښتنه کوله ۔ دَ تنخواه او کرکټ الاؤنس نه علاوه دَ هغهٔ دَ علاج دَ پاره بیلې پیسې ورکولې او وخت په وخت به یې دَ هغهٔ ډاډګیرنه هم کوله ۔ هغه ټولې پیسې به هغه پلار له ورکړې ۔ بیا به هغهٔ دَ هغهٔ خپې منډلې او پلار به یې په ملاسته ملاسته یو یو نوټ شمارلو ۔ ماښام تیارهٔ به چې یاسمین بی بی کور ته راتله نو ځان سره به یې دَ معمول مطابق دَ مشرخان دَ کوره ډوډۍ راؤړه ، بیا به درې واړه یو تالی ته کیناستل او ښه په مړه خیټه به یې ډوډی اوخوړه۔

ثنا پیغله شوې وه خو خوی یې لا هغسې دَ ماشومانو وو۔ هغې به دَ شایان نه بغیر ډوډۍ نه خوړه ۔ څهٔ موده خو هغه دَ هغې دَ خفګان دَ خاطره هغسې سره خوړه خو یو ځل ورته پلار ګیله اوکړه چې "بچې ته مونږ سره ډوډی ولې نه خوړې ؟ که زما دَ بیماری په وجه مانه کرکه درځی نو مور سره دې خوره خو چې زمونږ دَ سترګو مخکښی یې ۔ مونږ چې تاته ګورو نو خوشحالیږو"۔ شایان چې دَ پلار خبره ووریده نو ډیر خفه شو او دې نه پس یې هغوی سره دا وعده اوکړه چې هغه به دَ ماښام ډوډی ارومرو هغوی سره په یو تالی خوری۔ بیا به چې شایان کور ډوډۍ اوخوړه نو دَ ثنا دَ زړهٔ دَ پاره به مشرخان کره لاړو او هغې سره به یې تالی کښې هسې ګوتې وهلې ۔

په خپل کور کښې به دَ هغوی خبرې اکثر دَ مشرخان او دَ هغه دَ

کورنۍ متعلق وې ـ دَ کور خبرې به یاسمین بی بی کولې او دَ بهر خبرې به شایان ـ دغه شان به سیف علی خان دَ هغوی دَ کور او بهر خبرو نه خبریدو ـ دَ هغه نه دَ خانۍ نشه او لشه دواړه اوتې وې ـ اوس دَ مشرخان لاس ته ناست وو او په هره ساه به یې هغه ته دعاګانې کولې ـ یاسمین بی بی خپله غریبی قبوله کړې وه خو کله کله به چې ورته دَ خپلې خانۍ دور وریاد شو نو سترګو کښې به یې اوښکې راغلې ـ هغه دور چې دَ هغې خدمتګارو به پخوله ، سرولـه او هغې تـه بـه یې اینبوده ـ په خپو ، لاسونو ، سر او اوږو به ورله خدمتګارو زور کوو او هغه به ورته ډېرې په ډېرې اوخته را اوخته ـ چې خپه به یې دَ کټ نه کوزوله نو کیږې به ورته هغوی سمولې ـ دَ دنیا هر نعمت ورته حاضر وو ـ که په تهوقه کښې به یې دَ یو څیز نوم په خوله راغې نو سیف علی خان به په هغه وخت سړې اولیږو او هغه به یې ورله راؤړو ـ هر څه موجود وو خو دَ هغوی زړونه خوشحاله نه وو ځکه چې اولاد یې نه وو ـ اوس هیڅ نشته خو دَ ګل غونډې ځوی دَ هغوی مخې ته ناست وو ـ چې هغوی به ورته هسې کتل نو زړونه به یې خوشحاله او سترګې به یې یخې وې ـ

دَ ځلمیتوب سره دَ مشرخان په کور کښې دَ هغه ناسته مختصر شوې وه ـ اکثر به مشرخان سره بهر په حجره کښې ناست وو او که مشرې بی بی به دَ کور دَ سودا راؤړلو دَ پاره کور ته اوغوښتو نو چې سودا به یې اولیکله او چټ او پیسې به یې په جیب کښې واچولې نو په یو شغ





به بهر اووتو ـ څۀ موده پس اعجاز خان هم دَ مشر خان په مشوره دَ بال بچ دَ تعلیم دَ پاره سره دَ ښځې او بال بچ دَ حیات آباد بنګلې ته لاړو ـ په کور کښې یوه مشره بی بی پاتې شوه او بله ثنا ـ

ثناء انیله سره دَ شایان او دَ هغې ترمینځه دَ رازونیاز ټولې خبرې کړې وې ـ هغې له دَ شایان متعلق خبرو ډېر خوند ورکوو ـ دَ انیله ناسته پاسته او ملاسته دَ ثنا په کمره کښې وه نو چې کله به شپه شوه نو هغې به ترینه دَ شایان متعلق تپوسونه شروع کړل ـ شایان څنګه هلک دې ؟ هغه واقعی خائسته دې ؟ خائسته څنګه وی ؟ دَ چا غونډې خائسته دې ؟ انیله په داسې رومانی خبرو کښې ډیره ماهره وه ځکه چې په خپله د داسې مرحلو نه تیره شوې وه ـ چې دَ سجاد او حیدر نه بې نوا شوه نو بیا یې په شایان سترګې خوړیدې ـ خو دَ خپلې بی بی دَ پاره هغې خپل ارمان دَ هغې مینې ته لوګې کړو ـ بیا به هغه شروع شوه ـ دَ سر نه واخله تر نوکو پورې به یې دَ هغه دَ حسن قصیدې هغې ته اورولې او دَ هغه هرې خبرې او هرې ادا له به یې دَ مینې رنګ ورکوو ـ ثنا به داسې په غور سره دَ هغې خبرې اوریدې لکه ماشومان چې دَ شهزادګانو او ښاپیرو قیصې په شوق اوری ـ په مینځ مینځ کښې به ترینه هغې ضمنی تپوسونه کول ـ بیا به هغې زړې خبرې دوباره شروع کړې او هغې به په ساه ختلی انداز اوریدلې ـ تر هغې به دا سلسله جاری وه چې اودۀ به شوه ـ یو مازیګر دَ معمول مطابق شایان او ثنا په چمن کښې کرکټ کوو او انیله دَ بال نیولو او هغوی له دَ



Pukhto.Net
www.pukhto.net

راؤړلو ډیوټی کوله ـ دَ لوبې نه پس دواړه دَ دمے دَ پاره په کبلو سملاستل او خپلو کښې یې خبرے کولے ـ انیله چې هغوی په خبرو کښې مصروف اولیدل نو کور ته لاړه ـ مشرے بی بی چې هغه اولیده نو تپوس یې ترینه اوکړو "لوبه ختمه شوه"؟

انیله :ـ هاؤ بی بی لوبه ختمه شوه خو هغوی په چمن کښې ملاست دی خپلو کښې خبرے کوی ـ

مشره بی بی :ـ هغه دے یواځے پریښوده او ته ترینه راغلے ؟

انیله :ـ یواځے نه ده بی بی شایان ورسره دے ـ

مشره بی بی (په غصه) شایان ورسره دے ؟ دے دَ پاره خو زهٔ ویم چې هغه دے هغه سره یواځے ولے پریښوده ؟

انیله :ـ بی بی شایان څوک پردے خو نه دے ـ زمونږ دَ کور سړے دے ـ دَ هغه نه خو زمونږ دَ کور ستر پړده نشته ـ

مشره بی بی :ـ دَ کور خبره بیله ده او دَ بهر بیله ده ـ هغوی اوس واړهٔ خو نه دی ـ دواړه ځوانان دی ـ

انیله :ـ دے دَ پاره خو ترینه راغلم بی بی ـ که دواړه خپلو کښې څهٔ دَ پردے خبرے کوی نو څهٔ بده خو نه ده ـ

مشره بی بی ( په غصه ) دَ پردے خبرے ؟ څه مطلب انیله ؟

انیله :ـ په مطلب پو هـ نشوے بی بی ـ

مشره بی بی :ـ زهٔ ورځم چې دَ پردے دا خبرے یې دَ مرګه کړم ـ هغه په غصه روانیږی هغے پسې روستو انیله هم روانه شی ـدَ هغوی دَ



www.pukhto.net



تلو نه پس یاسمین بی بی دَ ور په چودو کښې هغوی ته ګوری ـ هغوی چې هغوی ته اوګوری نو شایان خپلی سترګې دَ ثناپه لوپټه باندے ترلی وی ـ اودواړه دَ " پړق او لټون " لوبه کوی ـ ثنا دَ لاسونو نه پړق اوباسی او شایان دَ هغے لټون او دَ نیولو کوشش کوی ـ مشره بی بی او انیله ، دواړه ورته غلے غوندے اودریږی ـ ثنا دَ هغوی خواله راشی ، دَ لاسونو نه پړق اوباسی او منډه کړی ، شایان دَ پړق ځائے ته ورشی او دَ ثنا په ځائے انیله اونیسی او دواړه یو بل سره غیږ په غیږ شی ـ مشره بی بی دَ هغه سترګې پرانیزی ـ شایان چې هغوی ته اوګوری نو رنګ یې تک زیړ شی ـ مشره بی بی دَ هغه نه په مخ پړق اوباسی ـ پړق سره دَ ثنا دَ خولے نه دَ "ویش " اواز راځی په مخ لاس اړدی او وائی " څهٔ اوشو شایانه"؟ شایان دَ پړق سره سرخکته کړی او لاندے ګوری ـ مشره بی بی هغه دَ ویښتو نه نیسی دَ هغه سراوچتوی او په بل مخ ترینه پړق اوباسی ـ ثنا چې دَ پړق اواز ووری نو په بل مخ بل لاس کیږدی او وائی "څهٔ دی شایانه"؟ مشره بی بی هغه ته بد، رد وائی ـ "بے غیرته دا ستا لوبے دی ؟ رذیله ـ جینکو سره ته داسے لوبے کوې ـ ستا سترګے کاسیرے دی "ـ

شایان :ـ بی بی دا دَ ثنا بی بی خواهش وو ـ دے راته وې چې دَ پړق او لټون لوبه کوؤ ـ

مشره بی بی :ـ هغه خو ړنده ده ، ته خو ړوند نه یې کنه ...څه روک شه چې بیا دے په دے طرف اونه وینم ....که مشرخان درنه خبرشو نو

Pukhto.Net

ټکړې ټکړې به دې کړی او غوښې به دې سپوته واچوی "۔
ثنـا پـه اوچـو سـترګو ژاړی او وائی " اودریږه شایانه دواړه ځو " (شایان روانیږی )
مشره بی بی ( ثنا دَ لاس نه نیسی ) اودریږه ثنا، تهٔ چرته ځې"۔
ثنا:۔ " چرته چې شایان ځی ، زهٔ ورسره ځم ...ما پریږده امی ۔ اودریږه شایانه پلیز ، پلیز "۔
شایان دَ حجرې په ګیټ چمن نه اوځی او کورته روانیږی ۔ دَ هغه دَ تلو نـه پـس مشـره بـی بی ثنا لاس نیولے خپلې کمرے ته راولی او په خپل بیډ کښې یې کینوی ۔ یاسمین بی بی دا ټوله نظاره اووینی خو ځان پرے ناغرضه کړی او په خپل کار کښې اخته شی ۔

## دویمه برخه

شایان ډیر په توندۍ دَ کور په لاره روان وو خو ناصافی یې په زړهٔ کښې څه راغلل نو په نیمۍ لاره کښې خپه نیولې او ډبډې شو۔ اودریدو او دَ خیالـونو په دنیا کښې مختلفو وسوسو او تلوسو سره مخ شو، هغه تـه داسـے ښکاریده لکه چې هغهٔ دَ ثنا دَ مینې په جوارۍ کښې هر څهٔ بائیلل ، خپل اعتبار هم او خپل عزت او غیرت هم ۔ هغه سره دا فکر ملـګرې شـو چې هغه به دَ مشر خان او مشرے بی بی نه علاوه خپل مـور پـلار سره سترګې شنګه لګوی ؟ هغوی له به څهٔ جواب ورکوی او دَ هغـوی تسـلی بـه څنـګـه کـوی ؟ کـه مشـرخان دَ هغه نه تپوس اوکړی چې شایانـه ، تهٔ خو ما خپل بچې ګڼلې ؟ تهٔ خو دَ ثنا دَ عزت


www.pukhto.net



مـحـافظ وې ، تا داسے ولې کول ؟ تانه خو زما دَ دومره بے غیرتۍ امید نـه وو ۔ تانه خو زما دَ کور او دَ کور دَ زنانهٔ ستر ، پړده نه وه ځکه چې تـه خـو زما دَ کور سرې بلکه زما بچې وې نو هغه به دَ هغهٔ دَ "ولې " څهٔ جواب کـوی ؟ کـه دَ هغـهٔ خپـل مـور پـلار دَ هغهٔ نه دَ هغهٔ دَ کړو وضاحت اوغواړی نو هغه به ورته څهٔ وائی ؟ دا چی دا هر څه دروغ دی ؟ کـه هغـه هغـوی تـه سـوګـندونه اوخوری نو آیا هغوی به دَ هغهٔ په خولـه بـاور اوکړی ؟ او کـه هغـوی ورته اووائی چی "شایانه ، تهٔ خو دَ هغـوی په تالی او دَ هغوی په نغری لوے شوې یې ۔ زمونږ ټول کور دَ هغـوی پـه خیـر خیرات او عشر زکوٰة چلیـږی تـا دومـره بے ننګی او نامردی ولې اوکړه ؟ نو دَ هغوی دَ "ولې" به هغه څهٔ جواب کوی "؟
دے سره هغه ته دَ مشرے بی بی خبره هم مخکښے شوه چې "څه روک شـه چـی بیـا دے پـه دے طرف اونه وینم ۔ که مشرخان درنه خبر شو نو ټـکـړے ټـکـړے به دے کړی او سپو ته به دې واچوی ۔ هغهٔ ته دَ خپلې سزا او عبرتناک انجام یوه خیالی نقشه هم مخکښې شوه ۔ دَ یرے یوه سـړیکه دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه پورے راپورے اووته او ټول بدن یې اوبو ګنیدو۔
هغـه ته خپل ځان دَ خپل ځان او دَ خلقو په نظر کښې سپک ، کچه او مـلامتـه ښـکـاریـدو خـو دَ هغهٔ ضمیر مطمئن وو ۔ د دے په رڼا کښې هغه دَ شپې په تیاره کښې په نامعلومه منزل روان شو۔
تیـارهٔ خـوره شوے وه ۔ یاسمین بی بی او سیف علی خان تیارے ډوډۍ تهٔ دَ هغهٔ په انتظار ناست وو ۔ دَ ماښام نه ماسخوتن شو، دَ ماسخوتن

Pukhto.Net

نـه شـومـه دم شوه خونه هغه راغی او نه دَ هغهٔ له خوا څهٔ خیر خبر ـ یاسمین بی بی هرڅهٔ په خپله لیدلی وو او هغې ته دَ هغهٔ دَ نهٔ راتلو خدشه دَ مخکښې نه وه خو سیف علی خان دَ هیڅ نه خبر نه وو ـ هغه څو ځوځله دَ ښځې نه دَ هغهٔ په باره کښې تپوسونه اوکړل خو هغې به پوهـ ځان ناپوهه کړو ـ څهٔ انه بهانه به یې ورته اوکړه او خبره به یې اخوا دیخوا کړه ـ چې دَ شایان دَ راتلو نه نااميده شو نو ډوډی یې په ځائے پریښوده او دواړه کټونو ته اوختل ـ

صبا چې شایان ډیوټی له لانه رو نو مشرخان ورپسې په خپله کورته ورغی ـ یاسمین بی بی کورنه وه دَ هغوی خدمت له تلې وه البته سیف علی خان ورله دَ کورنه را اووتو او هغه ته یې اووے "بیګاه کور ته نه دې راغلے ـ ماخو وې چې تاسره به چرته تلې وی"؟ مشرخان په خوله هیڅ اونه وی او زوړنده شونډې واپس شو ـ هغه پوره درے ورځې دَ هغه انتظار اوکړو خو چې بیا هم رانه غی نو هغه سره فکر ملګرے شو چې چرته چا اغوا کړے نه وی ؟ یا څهٔ بله مسله ورته پیښه شوے نه وی ـ په څلورمه ورځ هغهٔ دَ مشرے بی بی نه تپوس اوکړو "څه خبر یې چې شایان چرته تلے دے ؟ نن څلورمه ورځ ده چې شایان نه ښکاری ـ نه حجرے ته راځی او نه کورته ـ

مشره بی بی ( په لاپروائی ) په نوکرانو څه اعتبار دے ـ چرته بل تالی له به تلے وی ؟

مشرخان :ـ په نوکرانو څهٔ اعتبار...؟ هغه زما نوکر نه بلکه زما



www.pukhto.net



پنځم ځوې دے ـ

مشره بی بی :ـ داسے مه وایه عظیم خانه ، پردی ځامن چا خپل کړی دی ـ دغه خپل دے راتینګ کړه دا ډیره ده ـ

مشرخان :ـ دے نه معلومیږی چې څهٔ خبره شته خو تهٔ یې زمانه پتیوې ؟

مشره بی بی :ـ هیڅ نیشته عظیم خان ، تانه به څهٔ خبره پټه کړم ـ

مشرخان :ـ دَ هغه دَ نه راتلو په وجه ثنا دَ سبق نه پاتے ده او نن یې څلورمه ورځ ده چې سکول ته نه ځی ؟

مشره بی بی :ـ دا چې کوم یې ویلے دی ، دا ډیر دے ، هغه غریبه ړنده هم ده او پیغله هم ده ـ مونږ پرے څهٔ نوکری خو نه کوو ـ خپل کار پرے چلولے شی ـ بله دا چې هغه نور سبق ویل نه غواړی ـ

مشرخان :ـ دا تهٔ وائے که هغه ؟ زهٔ ورځم چې دَ هغې نه په خپله تپوس اوکړم ـ مشرخان دَ ثنا کمرے ته ورغی او وائی "ثنا لورے" ثنا چې دَ پلار خبرے ووری نو وائی "ابو سلام علیکم" ـ

مشرخان :ـ وعلیکم سلام ـ ولے لورې ناجوړه یې څهٔ ؟دَ سکول درسره هډو څهٔ غم نیشته ـ

ثنا:ـ غم راسره ولے نیشته ابوخو سکول ته مِ شوک بو ځی ؟

مشرخان :ـ شایان څهٔ شو؟ چرته تلے دے ؟ نن څلورمه ورځ ده چې نه حجرے ته راځی او نه کورته ځی ...ولے لورې ستاسو تر مینځه څهٔ خوږے ترخے راغلی دی څهٔ "؟ ثنا په خوله هیڅ نه وائی ، خپل مخ په

دواړه لاسه پټوی او ځان راغونډوی لکه چې دَ هغه دَ پړق نه یریږی ۔ مشرخان هغه ځان ته رانزدے کوی ۔ هغه دَ یرے نه توله رچی ۔ مشرخان په زړهٔ اوخوړه چې څهٔ خبره ضرور شته ۔ هغه دَ انیله په خوله مشره بی بی راغواړی ۔ چی هغه راشی نو مشرخان ورته وائی "تاخو وې چې ثنا لور نور سبق ویل نه غواړی ۔ وایه څهٔ خبره ده چې ته یې زمانه پټول غواړے" ؟

مشره بی بی :۔ دَ لور نه دے تپوس اوکړه ۔ دا به درته توله پټه ښکاره کړی ۔

مشرخان (په غصه ) زه تانه تپوس کوم ، دَ لور نه نه ۔ شابه خبره کوه څهٔ چل شوے دې ؟

مشره بی بی :۔ چل دا دے چې دے او هغه بهر په چمن کښې دَ پړق او لټون لوبه کوله ۔

مشرخان :۔ ښه نو بیا ؟

مشره بی بی :۔ بیا دا چې دَ یو ځوان زلمی او دَ یوے رندے پیغلے ترمینځه دا لوبه کول معیوبه نه ده ؟

مشرخان :۔ نه چرے هم نه ۔ دا لوبے خو مونږ هم کړی دی ۔ ولے تانه هیر شو څهٔ "؟

مشره بی بی :۔ هغه وخت بیل وو او دا وخت بیل دے ۔

مشرخان :۔ هغه وخت کښې معیوبه نه وه او اوس معیوبه ده ؟

مشره بی بی :۔ عظیم خانه ، زمونږ خبره بیله وه ۔ مونږ یو بل سره


www.pukhto.net



ترلی شوی وو۔

مشرخان :۔ چی څنګه مونږ ترلی شوی وو دغه شان دوی هم ترلی شوی دی ۔

مشره بی بی :۔ چا ترلی دی ؟ زهٔ ترینه خبر هم نه یم او ترون اوشو او بیا هغه خوار خوشی سره ؟ چی نه یې دَ ذات پته لګی او نه دَ قام قبیل ۔ ماته پته هم نیشته او زما لور لاهو کوی ؟

مشرخان:۔نه زهٔ ماشوم یم او نه دومره ناپوهه ۔ زهٔ چې څهٔ وینم تهٔ هغه نشې لیدے ۔ که هغه بے ذاته او بے قامه دے نو ستا لور هم معذوره ده ۔ او داسے معذوره ده چې تول عمری دَ بل دَ لاس محتاجه ده ...بلـه دا چې ستا په قام کښې یا زما په خانخیلو کښې ثوک دے ته غاړه اږدی ۔ چې خائست ته یې اوګوری نو منتونه او زاری کوی چې دا زماده خو چې دَ عذر نه یې خبر شی نو تندے تریو کړی او پوزے او چونوی ۔

مشره بی بی :۔ تهٔ چې دا هغه له ورکول غواړے نو دَ ځامنو نه دے تپوس کړے دے ؟

مشرخان :۔ ما هغوی له دَ هغوی په خوښخه وادونه کړی دی ۔ دَ مریم واده به دَ هغے په خوښخه کوم او د دے وادهٔ به د دے په خوښخه ۔ اګر چه مادے نه تپوس نه دے کړے خو دومره تجربه م شته دے چې زما اندازه به غلطه نه وی ۔

مشره بی بی :۔ (طنزیه ) دا ړنده خو په هغهٔ ځان وژنی ۔

مشرخان ( هغې ته په غصه ګوری ) ړنده ته یې چې په بینا سترګو دے نظر نه لګی ـ دا ړنده نه ده ځکه چې په ړندو سترګو خپل مستقبل وینی"ـ دے سره هغه پاځی او بهراوځی ـ دَ هغه دَ تلو نه روستو مشره بی بی هم بهر اوځی او خپلې کمرے ته ځی ـ هغه چې خپل بیډ کښی سملی نو دَ ثنا دَ مستقبل په باره کښې او دَ شایان متعلق سوچ کوی ـ اخر دے له راشی چی دَ مشرخان خبرے او دَ هغې فیصلے ته صحی اووائی : یوه شیبه پس انیله راغواړی او دَ هغې نه دَ ثنا او شایان دَ رومانس په باره کښې تپوس کوی ـ انیله دَ ثنا دَ خولے تولے خبرے هغې ته ټکې په ټکې کوی : دے سره هغې ته دَ خپل پیغلتوب هغه لیونے وخت رایاد شی چې دَ عظیم خان په خیالونو کښې به شپه ورځ اورکه وه ـ دَ شپے به هله اوده کیده چې دَ هغه تصویر به یې څو څو ځله ښکل کړو ـ بیا به سملاسته او دَ هغه تصویر به یې دَ مخ لاندے کیښودو ـ دَ هغۀ په تصور به ډکے سترګے اوده شوه او سحر به یې دَ هغۀ په تصویر سترګی غړولے ـ دَ هغۀ دَ ریبارے خبرے به پرے څومره خوږے لګیدے او چی کله به دَ ریبارے په خوله دَ هغۀ نوم راغی نو هغه به مسکۍ شوه او خپلې شونډے به یې ښکلولے ـ هغې ته دا احساس هم اوشو چې دَبینا او نابینا په خواهش ، ارمان او مینه کښې هیڅ فرق نشته ـ هغې دا خبره هم اومنله چې په خپله خوښه ځان له دَ شریک حیات ښخول څۀ بده خبره نه ده ـ هغه ډیره شیبه په دغه خیالونو کښې ډوبه وه ـ او اخر دے له اورسیده چی په مینه کښې قام



www.pukhto.net



، قبیل، ذات بات او مفلسی ، بے وسۍ دَ مینے لیونو چپو ته خنډ نشی جوړیدے ـ دَ انسان دَ ټولو نه لویه خوبی دَ هغۀ اندرونی صلاحیتونه او دَ هغۀ ظاهری شخصیت دے ـ هغې د دے خیال هم تصدیق اوکړو چې دَ مینے لارے ته غرونه هم نشی ټینګیدے او چې کله په دیکښے انتشار راشی نو حصار یې نشی ایساروله ـ دے سره هغې ته دَ خپل کلی ، محلت ، دَ خپل قام قبیل او دَ اخباری او مجلو مختلف مثالونه مخکښے شو ـ چی کله ښه مطمئنه شوه نو پاڅیده او دَ ثنا کمرے ته ورغله ـ دَ هغې سر یې په خپله غیږ کښې کیښودو ـ په ښکلو ښکلو کښې دَ هغې په مخ تړمے اوښکے پریوتے ـ ثنا ته چې دَ اوښکو احساس اوشو نو هغې په یره اووے "ته ولې ژاړے انیله" ؟

دَ ثنا په تپوس مشرے بی بی یوه یره ونکے چغه اوویستله ـ دَ اوښکو بندونه یې تول اوشلیدل او په مخ یې پے واره راماتے شوے او وئیل ـ زۀ انیله نه یم لورے ـ زۀ ستا مور یم ـ ما معاف کړه لورے . . .لورے ما معاف کړه "ـ ثنا دَ هغې دَ غیږ نه سر اوچتوی ـ په خپله لوپټه دَ هغې اوښکے اوچوی او وائی "ته ولے ژاړی امی "؟

مشره بی بی :ـ لورے زۀ ستا دَ ارمانونو قاتله یم ـ زۀ ستا په مستقبل ژاړم ـ زۀ په دے یریږم چې زمونږ نه پس به ستا څۀ حال وی ـ ته به چاته ناسته یې ؟ تۀ به دَ چا په درلو غړیږے ؟ تۀ به چاته لاس نیسی ؟ لورے ستا پلار چې څۀ لیدے شی ، زۀ هغه نشم لیدے ـ لورے زما دَ هغۀ فیصلے سره اتفاق دے . . .شایان ډیر ښه هلک دے خو مانه وو

پیژندلے ۔ مانه غلطی اوشوه ۔ ما معاف کړه لورے زهٔ به دَ هغه نه معافی غواړم . . .ستا دَ پاره . . . .ستا دَ ارمان پوره کیدو دَ پاره ۔ ستا دَ مستقبل اوستا دَ خوشحالیٔ دَ پاره ۔ که هغه هر ځاے وی ، زهٔ به ورځم او ستا دَ خوشحالیٔ دَ پاره به یې راولم ۔ او په هغه مِ اعتبار دے چې ستا دَ مخه به ما معاف کړی ۔

ثنا :۔ امی چې تا خپله غلطی اومنله نو اوس هیڅ پروا نشته که هغه راشی او که رانشی ۔ زما په زړهٔ کښې دَ هغه تصویر موجود دے او دَ هغهٔ تړولے خبرے زما په ذهن کښې پرتے دی . . .اوس تانه لږ مخکښے راغلے وو۔ ماله یې ښهٔ تسلی راکړه او ماسره یې خوږے خوږے خبرے اوکړے خو چې ستا دَ خپو کړپ یې واوریدو نو لاړو غیب شو ۔ (خاندی) غیب شو امی ، لاړو اوتختیدو . . .اوتختیدو امی . . .اوتختیدو“۔ دے سره هغه په بیهٔ پرمخ پریوځی او سلګی وهی ۔

## دریمه برخه

شایان شپه دَ کلی نه بهر دَ جنازے په جمات کښې تیره کړه ۔ سحر په خړه پاڅیدو او روان شو ۔ سم سړک یې پریښودو او په شاړه او جبو سر شو ۔ ماښام تیارهٔ اوږے ، تږے او ستړے ستومانه په یو داسے ځائے وراوختو چرته چې یوه نوے کالونی جوړیده ۔ ځائے په ځائے آبادی شروع وې ۔ دَ خښتو ، باجری ، شګے ، ملبے او خاوړے ټرالیٔ اوټرکو نه به راتلل او تشیدل ۔ ځائے په ځائے مزدوران لګیا وو او دَ ماښام په تیارهٔ کښې یې هم کار کوو ۔ شایان چې نورو مزدورانو ته اوکتل نو هغه له



www.pukhto.net



هم سیالی ورغله ۔ دَ یو سړی نه یې دَ خښتو ټیکه واخسته ۔ دَ یو ټرک خبره یې ورسره په زر روپیٔ اوکړه ۔ کار ډیر ګران وو ځکه چې پنځه زره خښتې بره چهت ته خیژول وو۔ دَ کار شروع کولو نه مخکښے پرے دَ کور مالک ښه مړه ډوډیٔ اوخوړه ۔ چې کله موړ شو او سُر کښې شو نو قمیص یې اوویستلو ، بډې یې اووهلے ، ویښتهٔ یې په سره چیرړه اوتړل ، یوه زړه بوجیٔ یې شاته اوتړله او خښتو ته اونختو۔ دَ خښتو ډیرے به یې جوړه وو، هغه به یې په پړی تړو ، بیا به یې شا ته راواړه وو او بره دویم چهت ته به په پوړو ختو ۔ دَ کور مالک څهٔ وخته پورے هغه سره وو ، بیالاړو اوده شو او هغه یوائے لګیا وو۔ چې ړومبی ملابانګ ویلے نو هغه اخری ډیرے په شا راواړه وو۔ دومره ستړے شوے وو چې څنګه په شا توره بوجیٔ سملاستو نو دَ مخے سره اوده شو ۔ سحر نمر په کلی خور شوے وو چې دَ کور مالک بره اوختو۔ هغهٔ چې دَ هغهٔ کار ته اوکتل نو ډیر خوشحاله شو چې دَ څلورو مزدورانو کار یې په یوائے تن اوکړو۔ بیا لاندے راکوز شو ، ځان سره یې ناشته واخسته او هغه له یې یوړه ۔ بیا یې هغه پاڅوو چې چاے اوڅکی ۔ هغه چې سترګی اوغړولے نو هغه ورته ناشته ایښې وه ۔ دَ ټولے شپې دَ کار اوشوکیرے نه پس هغه دومره اوږے شوے وو چې هډو مخ لاس وینځلو ته جوړ نشو او چایو ته اونختو چې چائے یې اوڅکله نو غوړ لاس یې په ویښتو راخکو ۔ بیا یې هغه دَ لاس په ګمنز روستو واړه ول او هغه ته یې اووے ” ښه نائیک ډیره مهربانی او

شکریه چې دَ چایو تکلیف دے اوکړو“۔

مالک :۔ شکریه دَ څۀ خبرے ، خپل نصیب دے اوخوړو ؟

شایان :۔ ښه نائیکه ، پیسې راکوه چې ځم درنه ، دَ کور مالک دَ مخکښے نه روپۍ شمیرلے وې او په جیب کښې تیارے ایښې وې ۔ غونډے یې راواخستې او هغه له یې ورکړے ۔ هغه چې روپۍ اوشمیرلے نو اته سوه وې ۔ شایان مسکې شو هغه ته یې اوکتل او وے وئیل :۔ نائیکه تیروتے ، روپۍ دے اته سوه راکړے ۔

مالک:۔ بس دے کنه نور څۀ غواړے ؟ په یوه شپه کښې دے اته سوه روپۍ اوګټلې ۔

شایان :۔ دوسوه روپۍ نورے راکړه نائیکه ۔

مالک:۔ دوه سوه ولے درکړم ؟

شایان:۔ خبره په زر روپۍ شوے ده که نه ؟

مالک :۔ شوے ده بالکل ۔ زه پرے منکر نه یم ۔

شایان:۔ چې منې نو دوه سوه مِ درته کیږی کنه ۔

مالک:۔ خبره په زر روپۍ شوے ده خو دَ سلو دے بیګاه ډوډۍ خوړلے ده ۔ او دَ سلو دے اوس چاے او پراټے اوخوړے ۔ خبره ختمه شوه ۔

شایان:۔ ته زمانه دَ چائے ، ډوډۍ پیسې اخلې ؟

مالک :۔ ولے اخلم به درنه نه ؟ په ما څۀ راوریږی خونه ؟

شایان:۔ ستا په دے دومره مال ، دولت کښې دَ یو مزدور دَ چائے ، ډوډۍ نصیب نشته ؟ که ماته داسے پته وه نو نهره به مِ تیره کړے وه خو ستا





چاے ډوډۍ به مِ نه وه کړے ۔

مالک:۔ هسے تیرے پاتے خبرے مۀ کوه ۔ پیسې دے واخستې ، ځه دَرومه کوزیږه ۔

شایان:۔ هسے کوزیږه ؟ پیسې راکړه چې کوزیږم۔ مزدوری مِ درسره کړے ده دَ خداې په نامه یې درنه نه غواړم ۔

مالک:۔ یَه هلکه ، تۀ خو په والله چی په خبره نه پو هیږے ۔ ښه حساب کتاب مِ درسره اوکړو او دغه دے کیږی ۔ که ته دوه سوه نورے غواړے نو تیک زۀ به تاله دوسوه روپۍ درکړم او تۀ ماله خپله چائے ډوډۍ راکړه ۔

شایان:۔ خوړلے شوے چائے ډوډۍ تاله دَ کومے راؤړم ؟

مالک:۔ چې داسے نشی کولے نو ځه کوزیږه شابه ، ګینی اوس دے د دے چهت نه لاندے غورزوم ۔ (دَ کور دَ مالک مور بره خیژی او هغه ته وائی ”دَ خدائے دَ لوے قهره اویریږه غفاره ۔۔۔دَچهت نه یې ولے غورځوے خپله مزدوری ورکړه ۔۔۔دومره کبر مه کوه “؟

غفار:۔ مادۀ له ۔۔۔۔۔

مور:۔(دَ هغه دَ خولے نه خبره اخلی) ستا تولے خبرے ماوریدے (شایان ته) خفه نشې بچے ۔۔۔هائے ، هائے ، یَه دَ خداې ظالمه د دۀ دے ملاته خو لږ اوګوره ۔ توله سره قطره ده ( هغه شایان ته دوسوه روپۍ نیسی ) هن دا واخله بچے ، خفه نشی ، ازار راته اونکړے ځویه ۔ هن دا روپۍ واخله ځویه ۔



www.pukhto.net

شایان:۔ اوس یې نه اخلم مورې ۔
مور:۔ ولې ځویه ، ولې نه اخلې ۔
شایان: چې ځوې دې راتـه اووې نو ستا پیسو تـه بـه ځنګـه لاس اونیسم ۔ کـه مـجبوری مِ نه وې نو دا نورې به مِ هم درکړې وې ( هغه خپل قمیص راخلی او اغوندی )
مور:۔ نـه ځـویـه نـه ۔ دا بـه اخلـې ۔ دا ستا حق دې ۔ واخله بچې واخله (روپۍ دَ هغـه جیب کښـی اچـوی ) "او هـن کـه هر ځائے او هر چرته مزدوری کوې نو چاې ډوډۍ او ملاستې له به دلته راځې ۔ دا ستا خپل کور دې بچې او که رانه غلې نو زۀ به درنه خفه یم "۔
شایان ( مسکې شی ) " ولې نه مورې ، ضرور "۔
شایان چې دَ هغوی دَ کوره اووتو نو بهر په لږه فاصله باندې یو سړې ولاړ وو او ګنتهی ، بیـچـلـه ورسره وه ۔ شایان هغه سره دَ کور دَ بنیادونو خبـره پـه اتـه زره روپۍ اوکړه ۔ چې خبره ختمه شوه نو دَ هغه نه یې ګـنتهی ، بیلچه واخسته ، قمیص یې اوویستلو ، پرتوګ یې بډې کړو، ویښتـۀ یـې پـه سره چیـرړه اوتـړل او کـار ته لګیا شو ۔ ځۀ زمکه ډیره سختـه او اوچـه وه او ځۀ دَ هغـۀ دَ لاسـونو پوستکې دَ ښتو په وجه ګریدلې او کچه شوې وو۔ بهرحال هغه کار شروع کړو ۔ دَ ړومبی بنیاد نیـمـی تـه لانه وو رسیدلے چې لاسونه یې تناکے شو۔ هغه دَ تناکو پروا اونکړه او خپـل کـار یې کـوو خو چې کله دغه تناکے اوچودے او وینے تـرینه را اووتے نو هغه وینے به دَ ګنتهی لاسکی پورے انختے او چې کله



www.pukhto.net

دنیا د مینې کور (پښتو ناول) پرویز شیخ

بـه هغـه ګـزار کـوو نـو دَ زخمونو کچه خولې به کهلاؤ شوې او دَ وینې سلسلـې بـه بیا شروع شوې ۔ دَ ګنتهۍ لاسکے دَ هغه په وینو تک سور شـو او دَ هغه لاسونه هم سرۀ شو ۔ دَ هغه نائیک چې دَ هغۀ لاسونو ته اوکتـل نو خپله کتنه یې برداشت نه کړې شوه او مخ یې ترینه واړه وو۔ بیـا ئے ورته اووې "کار پریږده راځه چې ډاکټر له دې بوځم " هغه ورته پـه مسـکا اووې " ډاکټر پریږده نائیکه چرته زړې چیرړې راؤړه چې دَ لاسونو نه یې تاؤ کړم "۔ دَ شایان په خبره هغه روان شو ۔ دَ چرته نه یې زړې چیـرړې راؤړې او هـغـه لـه یې ورکړې شایان هغه دَ لاسونو نه تاؤ کړې او بیـا پـه نوې عزم کار ته اړم شو ۔ تر غرمې پورې لګیاوو۔ خولې خولـې او غوښـې غوښـې وو خو خپل کار یې پرې نه ښودو ۔ چې ړومبې بنیـاد یـې ختـم کـړو او بهـر را اووتو نو دومره ستړې شوې وو چې اودریـدې نشـو۔ کیـنـاستـو ، خپله خوله شوې ځنګل یې دَ پرتوګ په بډه راخکـلـه او بیا یې هغه اوچه ځنګل په تندی او مخ راخکله او دَ خاؤرې ډیـری تـه یـې ډډه اووهـلـه ۔ دَ هغه ساه دومره ګډه وډه شوې وه چې لـکـه دَ تازه حـلال شـوی ځـخوندرې دَ ساه په وجه سینه او دواړه تشـی تـلـۀ راتلۀ ۔ هغه سترګی پټې کړې وی او معلومه نه ده چې ځۀ سـوچ کښې تلے وو۔ په دیکښـی دَ هغه نائیک ډوډۍ راؤړه ۔ هغه چې ورتـه اوکـتـل نـو هـغـه تـه داسې ښکاره شو لکه یونانی دیوتا او قومی هیـرو اکیـلس چې دَ ټرائے په میدان کښې دَ ټولې ورځې دَ جنګ نه پس پـه زمکه ستړے ستومانه او دانه وانه غزیدلے پروت وو۔ هغه ورته یوه

شیبه ولاړ وو او دَ هغهٔ په ښکلې ځوانۍ او دَ هغه په غریبۍ او مزدورۍ یې افسوس کوو. کله به یې دَ هغه په خاؤرو، ختو ککړ بدن ته کتل او کله به یې دَ هغه دَ لاسونو دَ هغهٔ په وینو سرو چیرړو ته. بیا یې ورته غلے غوندے اووې "پاځهٔ بچے ډوډۍ اوخوره". دے اواز سره هغه سترګې اوغړولے او کیناستو. دَ نائیک په یو لاس کښې ډوډی وه او په بل کښې دَ اوبو لوښې. شایان دَ هغهٔ نه دَ اوبو لوښی واخستو یو ګوټ یې ترینه اوڅکلې او بیا ئے ترینه تپوس اوکړو "تا ډوډۍ ولے راؤړه نائیکه"؟

نائیک:۔ ډوډی مِ ځکه راؤړه چې ته اوږے شوے هم یې او ستړے شوے هم یې. چې موړ شې نو هله به کار ته جوړ شې."(هغه ورته ډوډی اړدی) ...." خفه نشې بچے. زمادلته کور نشته. دا کباب او ډوډی مِ دَ کراهی نه راؤړل.

شایان:۔ د دے دے څو روپۍ ورکړے؟

نائیک :۔ دا تپوس ولے کوې؟

شایان:۔ دا تپوس ځکه کوم چې دغے مخامخ کور والا زمانه سل روپۍ دَ ډوډۍ او سل دَ چایو کټ کړے وې خو بیا یې مور راغله نو هغے راکړے.

نائیک:۔ زهٔ دغه کسانو کښې نه یم. ډوډی خوره بچے.

شایان:۔ ته هم راځه کنه نائیکه.

نائیک:۔ نه بچے ماخوړلے ده. ته خوره ځان موړ کړه "شایان چې



www.pukhto.net



ډوډی اوخوړه نو بیا کار ته اونختو. د غرمے نه مازیګر شو، دَ مازیګر نه ماښام شو خو هغه لا لګیا وو. چې دَ ماسخوتن تیارهٔ خوره شوه نو هغه دَ بنیاد نه اووتو او دَ خاؤرے په ډهیری کیناستو او تر هغے ناست وو چې خوب جُوته ورکړه. بیا یې ګنتې، بیلچه سرته کیښودے او دَ خاؤرے په ډهیری سملاستو ...هغه اته ورځے پرله پسې کار اوکړو نو بنیادونه یې سرته اورسول. په نهمه ورځ یې دَ هغے هوارے کوو چې یو سړې راغې، هغه ته اودریدو او وئے وئیل "ښه چارے"شایان چې سر اوچت کړو او هغه ته یې اوکتل نو هغه دَ هغوی دَ کلی شمشاد وو. هغه مسکې شو دَ بنیاد نه یې بهر توپ کړو هغه ته ورترغاړه وتو او وے وئیل "په خیر راغلے کاکا. دلته څهٔ کوی"؟

شمشاد:۔ دا تهٔ چې څهٔ کوی دے له زهٔ هم راغلے یم.

شایان:۔ دَ زمیدارۍ کاروبار دے چاته پریښودو.

شمشاد:۔ یوائے په زمیدارۍ کارنه کیږی خانیه. بله دا چې نور شته هغوی به یې کوی. زهٔ به یو څو ورځے مزدوری اوکړم.

شایان:۔ ډیره ښه ده، دواړه به جوړه شو. تیکے به اخلو او درز به ورکوو.

شمشاد:۔یَه هلکه شایانه، زه خو بال بچ دارسړے یم، مجبوری مِ ده خو تهٔ ولے راغلے یې.

شایان:۔ که ته غریب یې نو زهٔ څهٔ خان خو نه یم. زهٔ تانه زیات غریب یم.

شمشاد:۔ تا خو مړه ځان سره بد اوکړل. ښه رنګه ډهنګه دے جوړه وه،

ولې مشرخان سره دې څۀ زړۀ بداوې راغلې دې څه ؟

شایان:۔ نه هیڅ نشته خو دَ خپلو لاسو دَ ګټې بیل خوند وی ۔

شمشاد:۔ شایانه بچې زمانه خبره مه پټوه ۔ ماته پته ده چی ستا مشرخان سره زړه بد شوې دې ۔ خو دا راته اووایه چی ولې ؟ په څۀ خبره ؟

شایان:۔ هیڅ نیشته شمشاد کاکا۔ که څۀ وې نو ماتاته ویلې وو۔ تۀ خو ماته دَ خپل پلار نه کم ښکاری ۔

شمشاد:۔ چی هیڅ نشته نو بیا مزې کوه ګرځه خو خپل احتیاط کوه ۔ تاپسې دَ مشرخان سړی ګرځی ۔ او ستا دَ نیوو کوشش کوی او که یو ځل د هغه پنجې له ورغلې نو بیا دې ترینه څوک نشی خلاصولې۔ ستا نیولو پسې هغه انعام هم ویستلې دې ۔

شایان:۔ اخر ما کړې څۀ دی چی ماپسې دَ مشرخان سړی ګرځی ۔

شمشاد:۔ چی اوګه نه خوری ، بوئیں ترې نه ځی ۔ تا به څۀ کړی وی کنه ، ځکه خو درته دومره غصه دې۔

شایان:۔ ښه څه په دې به بیا خبرې اوکړو اوس دا لږ شان کار راته پروت دې چی دا ختم کړم او دَ نائیک نه پیسې واخلم نو بیا به ګپ لګوؤ۔

شمشاد:۔ زۀ درسره شیبه اوکړم ۔

شایان:۔ نه تۀ په دغه موړه کینه او تماشه کوه ۔

شمشاد:۔ تماشه نه کوم ۔ زۀ ورځم چی چرته تیکه واخلم، بیا به پرې دواړه شریک شو ۔



www.pukhto.net



شایان:۔ ډیره مِ خوښخه ده ۔ ځه ورځه ۔

دَ شمشاد دَ تلو نه پس هغه بیاکار ته اړم شو او ایله په خوارۍ ترینه مازیګرپې غمه شو ۔ خپې لاس یې اووینځل ، قمیص یې واغوستو او دَ نائیک دَ راتلو انتظار یې کوو ۔ هغه دَ نائیک دَ راتلو لاره سارله چې دیکښې یو موټر راغی ، هغه ته مخامخ په سړک اودریدو او مشر خان ترینه سره دَ سړو کوز شو ۔ شایان چی هغوی اولیدل نو وار یې خطا شو او په بل اړخ روان شو ۔ مشرخان چې دَ هغۀ په نیت پوهـ شو نو اواز یې پرې اوکړو "اودریږه شایانه چرته ځې "۔ شایان دَ هغه دَ حکم هډو څۀ پروا اونکړه البته قدمونه یې تیز کړل ۔

مشرخان:۔ "شایانه بچې ؟ خبره ووره ...خبره ووره ځویه ...راشه بچې خبره ووره " شایان په اوازونو ځان کوڼ کړو او قدمونه یې نور هم تیز کړل ۔ مشرخان سړو ته اووې "ورپسې شی چې لاړنشی درنه ...اوې نیسی او ما پورې یې راولی "۔ شایان چی هغوی ته په شا اوکتل نو هغه هم ترینه منډه کړه ۔ یو سړی یو لاروی له اواز ورکړو "یه روره دغه هلک اونیسه " هغه واقعی ورله په لنډو کښې مخه اووهله او اوې نیوو۔ شایان هغه ته په غصه اووې "پرې مِ ږده دَ خدای ظالمه وژنی مِ "۔ لاروی چې دا وورېدل نو هغه یې پریښودو ۔ دَ مشرخان سړی چی ورتلل ۔ نو هغه لرې رسیدلې وو او په لږ ساعت کښې دَ نظره پناه شو۔ مشرخان یوه شیبه غلې ولاړ وو۔ بیا یې سراوخنډو او ګاډی له روان شو ۔ دَ شایان دَ تلو نه پس دَ هغه نائیک هم راغلې وو او دَ مشرخان موټر

سره ولاړ وو۔ هغه چې دا ټوله تماشه اولیده نو دَ مشرخان نه یې تپوس اوکړو ۔ ''دا هلک ستا څۀ دے خان جی ''؟

مشرخان:۔ دا زما ځوے دے ، دَ مور نه مرور شوے دے ۔

نائیک :۔ ماوې چې عام مزدور نه دے خان جی ۔ دواړه لاسونه یې تڼاکے شوی وو او هغه تڼاکے ماتے شوے وے ۔ د دے ګنټي دے لاسکی ته اوګوره خان جی ۔ دا دَ هغه په وینو سور شوے دے ۔ مشرخان په خوله هیڅ اونه وې ۔ سر یې یو ځل بیا اوخنډو ، ګاډی کښې سره دَ سړو کیناستو او روان شو۔

شایان په منډه منډه ځان لوے سړک ته اورسوو او دَ ګاډی په انتظار کښې اودریدو ۔ ډیر ګاډی راغلل او لاړل خو ټول ډک وو ۔ هغه لا په خپلو سوچونو کښې ولاړ وو چې یو موټر ډیر په تیزی سره راغی او دَ هغه خوا کښې اودریدو ۔ هغه چې ورته اوکتل نو هغه دَ مشرخان موټر وو۔ هغه اویریدو او بیا یې منډه کړه ۔ دَ مشرخان سړی چی دَ ګاډی نه کوزیدل او دَ هغه دَ نیولو هڅه یې کوله نو هغۀ په شاړه کښې منډے وهلے او ډیر لرے رسیدلے وو۔

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★

★



www.pukhto.net



## دریم باب

دَ محرم شپې ورځے وې ۔ دَ ملک دَ یوے مخصوصے مذهبی ډلے دَ خلقو جوش وجذبه دَ جنون حد ته رسیدلے وه ۔ دَ انټیلی جنس ادارو له خوا حکام ته دَ یوے لوے وران کارۍ او ترهه ګرۍ خبر ورکړے شوے هم وو او دَ ترهه ګرو خلیے ، رنګ ډهنګ ، جامه پیزار او شکل وصورت هم ښودلے شوے وو۔ پولیس ځینې دَ ګوټے ګوټے ښارونه او ځایونه دَ مخکښے نه خپل تحفظ کښې اخستی وو او دَ یوم عاشوره نه مخکښے یې حساس ښارونو یعنی پېښورکوهاټ ، هنګو او ډیره اسماعیل خان کښې په مهمو ځایونو څوکۍ جوړے کړے وې ۔ څوکۍ په څوکۍ او اډه په اډه به ګاډی لټولی شو ، دَ سورلو جامه تلاشۍ کیدے ، شناختی کارډونه به کتلی کیدل او چاسره به چې شناختی کارډ نه وو یا به یې طالبان نما ویښتۀ ساتلی وو نو هغه به بے تپوسه نیولے کیدل او حوالات ته به لیږلے کیدل ۔ شایان دَ مشرخان نه دَ یرے په وجه په منډه وو ۔ په دغه منډه کښې هغه دَ صوبے اخری برید ډیره اسماعیل خان ته اورسیدو۔ هغه دَ بسونو په اډه کښې دَ کوزیدو سره اونیولے شو ځکه چې دَ هغه خلیه او جامه پیزار دَ هغه کسانو غوندے وو کوم چې مشکوک او پولیس ته مطلوب وو ۔ دے نه علاوه هغه سره شناختی کارډ هم نه وو ځکه چی دَ هغه عمر په مشکلۀ شپاړس کالو خواؤ شاوو ۔ دغه مشتبه کسان چی تانو ته بوتلی شو نو هلته په دوو برخو کښې تقسیم شو۔ کوم چې کم خطرناک وو نو

Pukhto.Net

هغوی دَ ډیره اسماعیل خان جیل ته اولیږلی شو او په چا چې دَ زیات خطرناک ملزم قیاس کیدے شو نو هغوی بنوں ته اولیږلی شو۔ بنو ں کښې دغه کسان په ریمانډ باندے پولیس ته حواله شو۔ د دغه مشکوک کسانو په گرفتارۍ حکومت دَ خپلې لوے کامیابۍ اعلان اوکړو او په مختلفو اخبارونو کښې دَ لوے سرخط لاندے راغلل چې ''دَ ترهه گرو لوے منصوبے ناکام شوے ۔ خطرناک ملزمان او خودکش ترهه گر اونیولی شو ۔ دَ سنسنی خیز انکشافات توقع کیدیشی ۔ د اردو په اخبارونو کښې هم راغلل '' دہشت گردوں کے بڑے بڑے منصوبے ناکام ،بیسیوں خودکش حملہ آور اور خطرناک ملزمان گرفتار ۔ اہم انکشافات کی توقع کی جاتی ہے ''۔

حکومت دَ پولیس دَ کارکردگی نه ډیر خوشحاله شو او دَ هغوی دَ پاره یې دَ لوے لوے انعامونو او تمغو اعلان اوکړو ۔ په یومِ عاشوره دَ پولیس دَ توقع خلاف په هر ښار کښې ځائے په ځائے خودکش چودنے اوشوے چې په سوؤنو کسان پکښې مړۀ او ژوبل شو ۔ حکومت او پولیس چې دَ کومے کامیابۍ اعلان کړے وو دَ هغے حقیقت خلقو ته معلوم شو۔

عاشوره ختمه شوه خو دَ شایان او دَ هغه دَ ملگرو سزا ختمه نشوه ۔ دَ ټارچر (Torture ) په دوران کښې دَ پولیس دَ خیال مطابق واقعی ځینی اهم او زړۀ بوگنونکی انکشافات اوشو ۔ شایان دَ خیبر پختونخوانه علاوه په ملک کښې شوی دَ ټولو چودنو ذمه واری قبوله کړه ۔ دے نه علاوه یې دَ عاشورے په ورځ یې دَ ډیره اسماعیل خان ښار په امام باړه



www.pukhto.net



کښې دننه دَ خودکش حملے اراده هم وه ۔ دے سره سره هغه خپل تعلق یونوے جهادی تنظیم سره اوښودلو ۔ په ټارچرسیل (torture cell) کښې څو څو ځله په هغه دَ مرگ چپې راغلے او تیرے شوے ۔ چې کله یې دَ ژوند پاڼه زیړه شوه او د رپ وهلو نه پاتے شو نو بیا جیل ته اولیږلې شو او دَ سزاے موت په انتظار کښې دَ نورو جهادی ملگرو په ډله کښې شامل شو ۔ هغه دومره وهلې شوے وو چې دَ بدن دَ جوړ جوړ نه به یې دردونه او دَ دردونو بیناړے ختو۔ نه اودریدے شو ، نه کیناستے شو او نه یې څۀ خوړلې څکلې شو ۔ یو لاش پروت وو ۔ په غټو غټو به یې خلقو ته کتل خو دَ خبرو نه پاتے وو۔ دَ جهادی ملگرو په اثر ، رسوح دَ جیل ډاکټر هغه ته ډریپونه اوخیژول او دَ هغه علاج شروع شو ۔ دَ ډیر محنت نه پس ډاکټر په خپل کوشش کښې کامیاب شو۔

دَ شایان په ساه کښې ساه راغله ، لاړے یې تیرے شوے او سترگو کښې یې دَ مسکا ښُکلا خوره شوه خو سر یې نشو ټینگولے ۔ دَ جیل ډاکټر خپل رپورټ کښې اولیکل چې ، په سر دَ گزار په وجه دَ ده دَ مغزو په رگونو کښې زخم پیدا شوے دې ۔ دلته دَ دۀ علاج ناممکن دے ۔ دے د پاره دِ دے دَ پیښور لیډی ریډنگ هسپتال نیرو وارډ ته منتقل کړے شی ''۔ هغه خپل رپورټ دَ جیل داروغه ته اولیږو او داروغه دَ کار روائی د پاره حکام بالا ته اولیږو ۔ په مودو ، مودو دا کیس زانگیدو خو دَ حکام بالا له خوا هیڅ خبر رانه غیۍ ۔ دَ هغه ملگرو دَ موبائیل په

ذریعه خپلو مشرانو او ډاکټرانو سره مشورے اوکړے ۔ دَ هغوی په مشورو هغوی دَ جیل دَ ډاکټر په ذریعه خپلې انجکشنې او ګولۍ را اوغوښتې او دَ هغې استعمال شروع شو ۔

هلته دَ مشرخان په کور کښې بے مرې ژړا وه ۔ مشرخان خفه وو، مشرے بی بی په خپل حماقت او د شایان او ثنا په کړمو اوښکے بهولے ۔ انیله خو به چې ثنا ته کتل نو ژړا به ورتله ۔ دَ بدرۍ اویاسمین بی بی هم دغه حال وو ۔ کله چې اعجاز خان او دَ هغه نور ځامن او اینګیاندے خبر شوے نو هغوی هم ډیر خفه شو ځکه چې ورکوتے ورسره لوے شوے وو او دَ ټولو پرے دَ اولاد مینه ماتیده ۔ کله چې دَ ملک په لویو لویو اخبارونو کښې دَ نورو ملګرو سره دَ هغه تصویر او دَ اقبال جرم لوے بیان راغے نو هغوی ته پته اولګیده چې اوس په داسے دام کښې ګیرشو چې وتل یې ناممکن دی او د داسے کیسونو سزا څوځو واره سزاے موت دے د اخبارونو دغه خبر مشرخان ، مشرې بی بی ، دَ هغوی ځامنو او اینګیاندو هم اولوستلو خو هریو دومره خفه وو چې ساه یې پوزے له راغلے وه ۔ مشرخان ، مشرے بی بی او دَ هغهٔ ځامنو او اینګیاندو ته پته وه چې دا ټول الزامونه دروغ دی خو داسے دروغ دی چې هغه په خپله په ځان رشتیا کړی دی او ټوله ذمه واری یې اخستے ده ۔ مشرخان دَ شایان دَ ترهه ګرۍ او ګرفتارۍ خبره دَ مشرے بی بی نه پټه اوساتله ، مشرے بی بی دَ مشرخان نه او دَ هغوی ځامنو او اینګیاندو دَ دواړو نه ۔



www.pukhto.net



دَ ثنا دَ سکول پرنسپله دَ هغې دَ سبق او په "پاکستان کرکټ ټیم فار سپیشل ویمن" کښې دَ هغې دَ سلیکشن دَ پاره ډیره فکرمنده وه ۔ په دے غرض هغه مشرخان کره په خپله لاړه ۔ هغې مشرے بی بی او مشرخان سره لیدل کتل اوکړل او ثنا سره هم ۔ هغې دَ هغې ډاډګیرنه هم اوکړه او دَ هغې نه یې سکول ته دَ تلو وعده هم واخسته ۔ ثنا هغې سره وعده اوکړه خو دَ شایان نه بغیر بل ډرائیور هغې ته قابلِ قبول نه وو۔ اخر مشرخان او مشرے بی بی دا فیصله اوکړه چې هغوی به په خپله هغه سکول ته بوځی او راولی ۔ دَ هغوی فیصله ثنا اومنله او سکول ته دَ هغې تګ راتګ شروع شو ۔ دَ سکول دَ پرنسپلې په ډاډ هغې په سبق کښې هم دلچسپی واخسته او په کرکټ کښې هم ۔ چی کله به دَ سکول نه راغله نو بیا به دَ شایان په ځائے ورسره انیله دَ کرکټ لوبه کوله خو چې کله به یې دَ شایان خیال زړهٔ له راغی نو بیا به یې لوبه پریښوده او خفه به کیناسته ۔ هغه دومره بدقسمته وه چې هغې لکه دَ نورو بیناؤ خلقو دَ خپل خفګان اظهار دَ اوښکو په ذریعه نشو کولے ۔ هغې نه دنیا لیدلے وه او نه یې دَ دنیا حسن لیدلے وو ۔ البته بیلتون کړون او کنتون یې اولیدو ۔ کله کله به چې شایان ته خپل مور پلار او ثنا رایاده شوه نو سترګې به یې ډکے شوے ۔ دَ خپل ژوند متعلق به یې سوچ کوو چې دَ هغهٔ څهٔ ارادے وې او څهٔ ترینه جوړشو ؟ دَ هغهٔ ځینی ملګری دَ جیل نه لاړل خو هغه او دَ هغه خاص ملګری ښه په پخه اراده پراتهٔ وو۔ هغه دَ خپلو ملګرو دَ خدمت ، خلوص او

مینه محبت نه ډیر متاثر وو ځکه چې دَ هغوی په وجه دَ هغۀ بیماری ښۀ شوے وه ـ اوس هغه کیناستے پاڅیدے ، اودریدے اوګرځیدے شو۔ دَ هغوی په وجه دَ هغه په مخ کښې وینه اوځلیده او دَ هغوی په وجه به یې کله کله په خوله خندا راتله ـ

وخت تیریدو سره دَ هغوی په تعلقاتو کښې نوره هم اضافه اوشوه۔ دَ هغۀ دَ ملګرو دَ ژوند طمعه قطعی شوے وه ـ هغوی ته خپله سزا دَ وخت په آئینه کښې صفا ښکاریده ـ خو دَ هغوی دا یقین وو چې مرګ همیشه په خپله نیته راځی ـ دَ مرګ راتلو نه مخکښے هغوی ولې خفګان اوکړی ـ ښۀ په خندا ، خوشحالۍ وخت تیرول پکاردی ـ او مرګ ته په مسکا او خندا هرکلې ویل پکار دی۔ هغوی به په خپل وارډ کښې نعتونه هم ویلے او چې کله په جذبه کښې راغلل نو اتڼ به یې اچوو۔ په دغه اتڼ کښې به ورسره شایان هم برخه اخسته ـ یوه ورځ هغوی ټولو دَ مازیګر نه اولامبل ، خپله سرځنه یې اوکړه ـ صفا جامے یې واغوستے او خپلے غاړے غوټے یې اوتړلے ـ دَ هغوی په وینا شایان هم اولامبل ، ویښتو کښې یې ګمنز اووهله او په اوړو یې دانه وانه خور کړو ـ چې دَ شپې دولس بجے شوے نو په جیل ناصافی حمله اوشوه۔ داسے حمله چې دَ هر طرف نه دَ کلاشن کوفو ، مشین ګنو او لائټ مشین ګنو ډزے شروع شوے ـ په ګیټ ولاړ څوکیدار سپاهی دَ مخے سره اوویشتلی شو او دَ مینځ نه اووتو ـ بیا په لوے ګیټ بے واره ، بے واره ډزے شوے ـ ګیټ په ګولو سورے اورے شو او



www.pukhto.net



مات کړے شو۔ دَ جیل دننه ګارډ هم اوویشتلی شو ـ څۀ مړه او څۀ ژوبل شو ـ دَ هغوی نه کنجیانے واخستې شوے او دَ جهادی ګروپ وارډ لرے کړے شو۔ دَ هغوی غاړے غوټے اوچتی کړے شوے ، په ګاډو کښې واچولے شوے او هغوی په خندا ، خوشحالۍ په ګاډو کښې کینولی شو ـ شایان هم په دغه کسانو کښې شامل وو۔ چې دَ صبا سترګه خته نو هغوی خپلو خپلو تنظیمونو او کورونو ته رسیدلی وو۔

## دویمه برخه

شایان او دَ هغه ملګری دَ جهادی تنظیم په ذریعه دَ جیل نه اووتل او خپلو خپلو کورونو ته لاړل خو دَ شایان او طارق کمال دَ پاره دَ کور کلی ټولے لارے بندے وې ـ او که هغوی کور کلی ته په څۀ طریقه تلی هم وې نو هلته ورته وخت تیرول ناممکن وو ځکه چې دَ صوبے هر تانړے ته دَ هغوی دَ جرمونو ریکارډ او تصویرونه رسیدلی وو او دَ هغوی دَ ګرفتارۍ دَ پاره دَ لوئے لوے انعامونو اعلان شوے وو۔ دے نه علاوه په ټی وی به وخت په وخت دَ هغوی تصویرونه ښودلی کیدل او دَ هر تصویر لاندے به دَ انعام رقم لیکلے شوے وو۔ دَ شایان او طارق کمال نه علاوه دغه ټول ملزمان دَ علاقه غیر اوسیدونکی وو۔ هلته یې خپل کورونه او تنظیمونه وو۔ دغه ټول په سنګین جرمونو کښې ملوّث وو۔ طارق کمال ملزم نه بلکه مجرم وو۔ هغۀ ته دَ سزاے موت حکم اورولے شوے وو او که دَ جیل نه اوتے نه وے نو قریبه وه چې دَ عاشورے نه پس هغه په ټکټکی ختلې وې البته شایان ورسره دَ املوکو په تول

کښې راغلے وو۔ هغوی دواړه جهادی ډلے سره دَ میلمنو په حیث ډیره وو او دَ قبائلی روایاتو مطابق واره په واره به خپلو ملګرو خپلو خپلو حجرو ته بوتلل او دَ هغوی میلمستیا به یې کوله ۔ دَ هغوی دغه میلمستیا لاجاری وه چې دَ هغوی خلاف اشتهارونه چهاپ شو۔ دَ هغوی دَ نیولو دَ پاره لوے لوے پیشکشنې دَ مخکښے نه شوے وی خو کله چې دغه اشتهارونه دَ هیلی کاپټر په ذریعه په دغه او خواؤ شا ایجنسو کښې اونوستلی شو نو هغوی سره یره ملګرے شوه ۔ دغه اشتهارونه طارق کمال او شایان له هم په ګوتو ورغلل ۔ بل خوا دَ جیل ټوله عمله نیولے شوے وه او په هغه وارډ کښې بندیوانه شوے وه په کوم کښې چې دَ هغوی نه وړاندے جهادی ګروپ وو۔ دَ هغوی خلاف دَ حکومت له خوا دَ مکمل انکوائری حکم ورکړے شوے وو۔ دے نه علاوه دَ مفرور ملزمانو دَ ګرفتاری دَ پاره دَ پاکستان او امریکے یو مشترکه اپریشن هم متوقع وو۔ دے سره سره په ډرون حملو کښې اضافه اوشوه ۔ په دغه حملو په لږو ورځو کښې ډیر بے ګناه ماشومان، زنانه ، بوډاګان ، مریضان او نوخیز زلمی شهیدان او زخمیان شو۔ دَ مفرور ملزمانو ته دَ کورونو نه وتل ګران شو ۔ دے نه علاوه بجلی یې پرے مکمل بنده کړه ۔ چې کله د دغه علاقو عوام دَ ډرون حملو نه تنګ شو نو دَ ملک ارسلان په حجره کښې دَ خواؤ شاعلاقو عوامو یوه درنه غونډه اوکړه ۔ په غونډه کښې دَ عوامو په کړمو او پیښو تقریرونه اوشول او بالخصوص په ډرون حملو ۔ په اخره کښې غونډے





دَ خپل خپل قوم او خیل نه یو یو ملک منتخب کړو۔ دغه قومی ملکانو بیا یو ملک صدر کړو او نور دَ جرګے ممبران شو ۔ دغے قومی جرګے دَ ایجنسی پی ۔ اے سره یوه درنه غونډه اوکړه او خپلې ستونزے یې ورته په ګوته کړے ۔ په غونډه کښې فوجی نمائندګی هم اوشوه ۔ دَ جرګے مطالبے دا وې چې ډرون حملے دے بندے کړے شی ۔ دَ بجلی بندش دے ختم کړے شی او دَ هغوی دَ علاقے نه دے فوجی کیمپونه ختم کړی شی ۔ دَ حکومت له خوا هغوی ته پوره یقین دهانی ورکړے شوه چې دَ هغوی ټولے مطالبے به تسلیم کړے شی خو مخکښے دے مفرور ملزمان حکومت ته حواله کړې شی ۔ دَ ډیر بحث وتکرار نه پس دا فیصله اوشوه چې طارق کمال او شایان به حکومت ته حواله شی ۔ ملکانو په معاهده دستخطے اوکړے ۔ خپلې علاقے ته لاړل او خپله فیصله یې عوامو ته ووروله ۔ په شروع کښې د دے فیصلے سخت مخالفت اوشو خو په اخره کښې ټول په دے متفق شو چې دغه ملزمان به حکومت ته حواله شی ځکه چې نه یې دغلته کورونه شته ، نه کلی ، نه قام او نه یو تنظیم سره تړلی شوی دی او نه مدرسے سره ۔ دَ هغوی په وجه ټولو عوامو ته ځانی او مالی نقصان ولے ورکړے شی ۔ چې هغوی حکومت ته حواله شی نو د دے علاقو عوام به دَ مالی او ځانی زیان نه بچ شی او که داسے نه وی نو دغه رنګے به اوچو سره لوانده سوزی ۔ په اخره کښې یو سړی دا هم اووے چې "مونږ دَ ټولو ملزمانو ټیکه خو نه ده اخستے چې هلته دے جرمونه



www.pukhto.net

کوی او پناه له دلته راځی ". خبره په دې فیصله شوه چې ملزمان هر چرته او هر چا سره وی ، صبا لس بجې دې دَ ملک صیب حجرې ته راوستې شی چې لاس تړلی حکومت ته حواله شی ۔

شایان او طارق کمال ته پته هم نه وه چې دَ هغوی د سرونو سودا شوې ده ۔ هغوی بې غمه دَ یو ملګری غنچه ګل په بیټک کښې پراته وو او خپلو کښې یې ګپې لګولې ۔ غنچه ګل او دَ هغه مور پلار چې دَ شایان او طارق کمال دَ حوالګۍ نه خبر شو نو هغوی په ظاهره څۀ اونه وی خو پټ په پټه یې دَ دې فیصلې منلو نه انکار اوکړو ۔ غنچه ګل خپلې مور ته اووې چې " دا خو انتهائی بې غیرتی ده چې زۀ خپل میلمانه لاس تړلی دَ هغوی دشمن ته حواله کړم ". دَ هغه مور پلار ته هم په دې فیصله ډیر خفګان رسیدلې وو خو هغوی چپ پاتې شو۔

**دریمه برخه**

غوټه نیمه شپه وه ۔ خلق په دروند خوب اوده وو ۔ غنچه ګل او دَ هغۀ مور پلار هم اوده وو البته دَ غنچه ګل پیغله خور ګل ورینه لا ویښه وه ۔ دَ ستورو ډک اسمان ته یې کتل خو په سوچونو او خیالونو کښې دَ ستورو نه هم ورتیره وه ۔ دَ هغې نه نه صرف خوب تختیدلې وو بلکه دَ خوب سره سره ترینه دَ زړۀ قرار هم تښتیدلې وو۔ ډډې په ډډې اوخته را اوخته خو په کټ کښې نه ځائیده ۔ کله کله به یې سر اوچت کړو او خپل مور ، پلار او رور ته به یې په بې وسۍ اوکتل ۔ دَ هغوی په بې حسۍ او بې غمی به یې دَ ډیره سوخته دَ سرنه شنه لوخړه اوخته او



www.pukhto.net



ډډه به یې بدله کړه ۔ دَ هغې په زړۀ کښې دَ شایان او طارق کمال دَ ګرفتارۍ سره تړلې ډیرې خبرې وی او دا خیال به یې دَ زړۀ نه چاپیره تاویدو چې "که صبا زمونږ میلمانۀ زمونږ دَ کوره حکومت ته حواله شی نو دا خو به زمونږ دَ پاره لوې پیغور شی چې خپل میلمانۀ لاس تړلی دَ هغوی دشمن ته حواله کړو ...دَ سړو دَ پیغور جواب به سړی اوکړی ۔ دَ ښځو دَ پیغور جواب به مِ مور اوکړی ۔ خو زۀ به جینکو له څۀ جواب ورکوم ....که صبا دغه ټولې جینکۍ په ګودر راغونډې شی او ماته دَ دې بې ننګۍ پیغور اوکړی نو زۀ به ورته څۀ وایم ؟...یه خدایه تا مونږ ولې دومره لوې آزمائش کښې واچولو ۔ دا دَ بې ننګی داغ خو دَ ټول عمر په وینځلو نه ختمیږی ...یو خوا دَ کلی دَ مشرانو فیصله ده بل خوا دَ میلمنو دَ حوالګۍ معامله ده ...دا څومره بې غیرتی ده چې تر بیګاه پورې زمونږ میلمانه دی او صبا له پردی دی ...که دوی مجرمان دی او که ملزمان دی خو زمونږ میلمانۀ دی ، زۀ د دوی دَ حوالګۍ پیغور نشم برداشت کولې ...هیچرې نشم برداشت کولې ". دې خیال سره هغه غلې غونډې پاڅی او خپې یبله خپې دَ بیټک کړکۍ له ورغۍ ۔ کړکۍ سره غلې غونډې اودریږی ۔ دَ یرې او حیانه یې زړه رپیږی او دَ زړه درزا یې زیاتیږی چې پردو سړو سره به هغه څنګه خبرې اوکړی ۔ هسې نه چې مور پلار یا رور یې اووینی ، هغوی په هغې شک من شی او څۀ نورې خبرې ترینه جوړې شی ۔ هغه ډیره شیبه په دغه وسوسو او تلوسو کښې وه خو بیا یې زړۀ

ټینګ کړو او پـه رپیـدونـکی لاس یې کړکۍ پـه مزه مزه اوټکوله ـ دَ کړکۍ ټکیـدو سره طـارق کـمـال بیـدار شو ـ پـاڅیـدو او کړکۍ لـه ورغـی۔ دَ هـغـه پـاڅیـدو سره شـایـان هم بیدار شو۔ پـاڅیدو او غلـے غـونـدے دَ طارق کـمـال شاتـه اودریـدو ـ ګـل ورینـے ورته پـه ګـنګوسو کښې اووے "ستاسو خلاف دا فیصله شوے ده چې تاسو به صبا سحر لس بجے حکومت ته لاس تړلی حواله کوی خو مونږ دا نه غواړو چې خپـل میـلمانۀ پـه خپـل لاس اوتړو او دَ هغوی دشمن ته دے حواله کړو ...خو ...خوتاسو ځان سره نور ساتلے هم نشو ـ دے دَ پاره تاسو اوس اوس دَ شپې پـه تیارۀ کښې د دے علاقے نه او د دے ایجنسۍ نه اوځۍ هسے نه چې څوک مو اونیسی او زیان درکړی ...ځۍ اوځۍ ـ دَ لوے الله پـه امان ـ دَ ګـل ورینـے پـه پیـغـام دَ شایان او طارق کمال دَ خپو نه زمـکـه اوتـختیـده او دومره یرے واخستـل چې هغوی دَ هغے دَ الوداع جواب ورکولو ته هم جوړ نشو او دَ شپې په تیاره کښې روان شو۔

## څلورمه برخه

سحر ټول دَ ملک ارسلان حجرے ته راغونډ شو او ټول په دے انتظار وو چې درنګ ساعت له به شایان او طارق کمال لاس تړلی راځی او لاس تړلی بـه حـکـومـت تـه حواله کیږی ـ دَ نهو بجو نه لس بجے شوے دَ لسـو نـه یـوُلـس شـوے خـو نـه شایان لاس تړلے راوستې شو او نـه طارق کـمـال ـ پـه غـونـډه کښې پس سپی شروع شو چې هغوی ولې رانـه وستې شو ـ دَ ګـنګوسی خبره ښکاره شوه او میدان ته اووته ـ خبره



www.pukhto.net



تله تله او په غنچه ګل ټکې شوه ـ دَ غنچه ګل نه چې دَ هغوی په باره کښې تپـوس اوکـړے شـو نو هغه اووې چې "ملک صیب تاسو ویلې وو چې لـس بجے به ملزمان ستا په حجره کښې حاضریږی ـ زۀ ستا دَ خاطره ټیک شپږ بجے بیټک ته ورغلم چې هغوی پاځوم ، ناشته پرے اوکړم او دَ اتهو بـجـو نـه مخکښے مخکښے یې ستا حجرے ته راولم۔ خـو پـه بیټـک کښې هیـڅوک نه وو۔ داسے معلومیږی چې دَ هغوی غـوږونـو لـه زمـونـږه خبره رسیدلـه وه او هم په دغه یره هغوی دَ شپې اوتـے دی ـ

ملک صیب:۔ د دے مطلب دا دے چې هغوی ستا په لمسه اوتے دی۔

غنچه ګل:۔ ملک صیب زۀ درته دَ دے ټولو خلقو مخکښے تسلی کوم چې نـه ترینه خبر یم نه ترینه اتریم او نه مې دَ هغوی دَ تلو څه ښکالو تر غوږو شوے ده ـ

ملک صیب:۔ تا دَ شپے نه هغوی ولے نه بندیوان کول۔

غـنـچـه ګـل :۔ نـه مـلـک صیب دَ شپې م څنګه بندیوان کړے وی ـ تر صبـا لـسـو پـورے خـو هـغـوی زمـا میـلـمـانـه وو۔ ما به ستا حجرے ته خـلاص لاسـونـه راوستل او تاته به مې حواله کول بیا ستاخوښه وه که دے ورته زولنې اچولے او که بیړی ـ

مـلـک صیب:۔ که ته هرڅۀ وایې خو زۀ یې نه منم ـ ټوله لوبه تا کښې ده غنچه ګله ـ

غـنـچـه ګـل:۔ چې ټـولـه لوبه ماکښې ده نو زه حاضریم چې څۀ مو

Pukhto.Net

خوښخه وی ماسره اوکړی۔

ملک صیب خلقو ته ګوری او دَ هغوی نه تپوس کوی "دۀ سره څۀ اوکړو"؟

دَ غنچه ګل دَ قوم یو سړې اعتبار ګل پاسی او وائی "دۀ سره به څۀ اوکړے ملک صیب ؟ دۀ سره ته هیڅ نشې کولے ۔ دۀ خو ورله خپو کښې پړی نشوا چولے ۔ چی لاړل نو لاړل ۔ البته داسے کیدیشی چې دغه کسان زمونږ دَ ټولو په شریکه دشمنان دی ۔ چې چرته مو په خپله خاؤره کښې اولیدل نو سرپه پرے اونکړی ځکه چې هغوی مونږ کوز سترګې کړو ۔

ملک صیب:۔ اعتبارګل کاکا کوز سترګې خو مونږ شو ۔ زۀ شوم او زما ملګری شول ۔ مونږ به اوس حکومت له څۀ جواب ورکوو۔

اعتبارګل:۔ هم دا چې هغوی تختیدلی دی ۔ زمونږ دَ ټولو دشمنان دی او مونږ دَ هغوی تلاش کوو۔

ملک صیب:۔ مونږ اوس څۀ اوکړو؟

اعتبارګل:۔ تاسو دَ حکومت نه لږ مهلت واخلی او مونږ ټول به دَ هغوی لټون پسې اوځو (خلقوته) راځی چی ځو ورپسې ۔ ځی به چرته ؟ هم دے خواؤ شا علاقو کښې به چرته پټ وی "۔ دَ کلی خلق ټوپکی په لاس دَ هغوی تلاش پسی اوځی ۔

★★★★★

★★★



www.pukhto.net



## څلورم باب

دَ شایان دَ پاره دا علاقه نوے وه ۔ او دَ شپې په تیاره کښې ورته په غرونو ختل او کوزیدل ډیر ګران وو۔ څو څو ځله دَ هغه په زړۀ کښې راغله چې ، لاسونه اوچت کړی او خلقو ته چغه کړی چی "یه خلقو راشئ ما اونیسئ "او یو ځله دوه یې طارق کمال ته اووے چی هغه نور نشی تلے او ګرفتاری ورکول غواړی خودَ هغه په ډاډ هغه داسے اونکړے شول او هغه پسې یې سړے کوو، په ټکه چال روان وو۔ طارق کمال په دے علاقه کښې څۀ نوے نه وو۔ په دے خواؤ شا علاقو کښې او ایجنسو کښې هغه ډیره موده تیره کړے وه ۔ هغه یو پیشه ور مجرم وو او څو څو سنګین جرمونه یې کړی وو، څو څو چودنے یې کړے وی چی پکښې حساس ځایونه هم شامل وو۔ دَ سؤنو خلقو غوښې یې په بمونو الوځولے وې۔ دَ ځانی نقصان نه علاوه یې ملک وقوم ته په اربونو روپئ نقصان رسولے وو۔ څو څو ځله ګرفتار شوے وو خو دَ عدمِ ثبوت په وجه بری شوے وو۔ دے نه پس یې دَ کراچئ دَ نیول بیس په حمله کښې هم شامل وو او د دے حملے په منصوبه سازو کښې هم ۔ د دے حملے نه پس دَ هغه لټون شروع شو ۔ په هر ښار کښې دَ هغۀ څوک نه څوک ملګری خو وو۔ هغوی سره به څو ورځے پټ وو بیا به یې خلیه او نوم بدل کړو او بل ښار ته به لاړو ۔ هغه څو څو نومونه بدل کړی وو خو دَ زوړ نوم سره سره حکومت ته په هر نوم مطلوب وو۔ هغۀ په څۀ چل خپل تنظیم ته ځان رسول غوښتل

خو هغه په خپل مقصد کښې کامیاب نشو او بنوں کښې اونیولے شو۔ دَ بنوں په جیل کښې دننه په هغه مقدمه اوچلولے شوه او سزاے موت ورته اورولے شو۔ دَ عاشورے نه پس دَ هغه سزا موت یقینی وو خو دَ یو بل تنظیم جهادی ډلے په جیل حمله اوکړه او خپل کسان یې ځان سره بوتلل ۔ دَ خوش قسمتئ نه دغه کسانو سره لکه دَ شایان هغه هم اووتو ۔ هغه زر نه زر خپل تنظیم ته ځان رسول غوښتل خو دَ شایان په وجه دَ هغه په تګ کښې تاخیر راتلو ۔

یوه موقعه داسے راغله چې شایان بالکل پل اولګوو خو هغه دَ لاس نه اونیوو او ځان سره یې په مزه مزه روان کړو۔ طارق کمال په هر صورت کښې هغه د دغه ځائے نه ویستل او خپل تنظیم ته یې بوتلل غوښتل دَ هغوی تنظیم ته د نوے کسانو ضرورت وو او شایان غوندے فدائی خوش قسمته سړی ته ملاویدے شو ځکه چې دَ هغه په سر کښې دَ لوے انعام امید کیدے شو ۔

زیړ مازیګر وو چې هغوی دَ یو غر نه بل غر ته ووختل ۔ دَ شایان خپه اوخویده او په زغړیدو ، زغړیدو لاندے ګرنګ ته اورسیدو ۔ طارق کمال چې هغه ته اوکتل نو هغه ډیر لاندے رسیدلے وو۔ هغه ته پته اولګیده چې هغه لاړو مړ شو او مړو سره چا کلی کړی دی ۔ دے دَ پاره هغه نور وخت ضائع کول نه غوښتل ۔ هغه په منډه منډه دَ څو څو غرونو نه ووختو ۔ په اخره کښې یې چې یوه لویه ډاګه اولیده نو په تندی یې رڼا شوه ځکه چې د دے غر نه لاندے یوه لویه ډاګه وه او دَ


www.pukhto.net



ډاګے نه مخکښے دَ بلے ایجنسی حدود شروع کیدل چرته چې هغه تلل غوښتل ۔ هغه په مزه مزه دَ غر نه کوز شو او په لوے ډاګ کښې یې قدم کیښودو نو هغه منډه کړه چې زر نه زر دے ځائے نه اوځی او بلے ایجنسی ته ووړی ۔ چې لږ مخکښے لاړو نو دریوواړو طرفونو نه ورلـه دَ کلی خلق راپورته شو او دَ هر طرف نه په هغه اواز اوشو "اودریږه هلکه ..... مخکښے لاړ نشی ګینی خیر دے نشته ۔ طارق کمال چې مخکښے روستو اوکتل نو هغه دَ هغوی په ګیره کښې راغلے وو۔ هغه دَ هغوی دَ اوازونو څۀ پروا اونکړه او منډه یې تیزه کړه ۔ دَ کلی خلقو هغه ژوندے نیول غوښتل خو چې کله هغوی ته پته اولګیده چې ژوندې په ګوتو نشی ورتلے نو هغوی پرې ډزے شروع کړے ۔ دَ هر طرف نه په هغه ډزے کیدے او هر بار سره به هغه مخکښے روستو تلو ۔ نمر په غرغره وو چې هغه سورے سورے په زمکه راپریوتو او ساه یې ورکړه ۔ دَ هغۀ دَ مرګ نه پس خلقو دَ شایان تلاش شروع کول غوښتل خو تیاره خوره شوے وه نو په دے وجه دَ هغۀ دَ لټون هڅے اوزانګیدے ۔ ځینې کسانو پکښې دا هم اووے چې کیدیشی هغه بلے ایجنسی ته اوختې وی ۔ دے دَ پاره دَ هغه تلاش پاتے شو او دَ طارق لاش اوچت کړے شو۔

## دویمه برخه

شایان دَ غرنه دَ زغړیدو په وجه سخت دړدیدلے وو۔ هغه لا دَ غر په وینښ کښې پروت وو چې دَ کلی خلق دَ هغه دَ پاڅه ووختل۔ هغه چې

دغه خلق اولیدل نو ځان یې زمکې سره زمکه کړو هغه دَ خلقو خبرې اوریدې چې "راتاؤشۍ ورلـه ، لاړ نشی درنـه" چې دَ خلقو کړپ کړوپ ختم شو نو هغه دَ خپلو دړدونو پروا اونه کړه او په زمزمبولی یې ځان یو کړومب ته اورسولو ـ په هغې کښې یې ځان راغونډ کړو او دَ ګټې سره ګټه شو۔ لږه شیبه پس هغهٔ دَ ډزو اواز وورېدو ـ هغه په زړهٔ اوخوړه چې طارق کمال اوویشتلې شو۔ ماښام ترږې وو چې خلقو دَ هغه لاش په ډنګه ډولۍ دَ هغه دَ پاسه په غر تیر کړو۔ په دغه خلقو کښې چا دا هم اووې چې " اوس شپه ده ، شایان سره به صبا لـه ګورو"۔ دې سره هغه دَ اطمینان یوه لویه ساه واخسته او دَ تندی خوله یې په ځنګل اوچه کړه ـ دَ شپې تورې زلفې په تورو غرونو خورې شوې وې ـ هغه دَ دغه تور غلاف لاندې خلقو اونه لیدو او محفوظ پاتې شو خو دَ یرې نه یې سترګه پټه نه کړه او ټوله شپه یې په ویښه په ناسته تیره کړه ـ یو خوا دَ مار ، لړم او نور زهرژنو حشراتو یره وه ، بل خوا دَ ځنګلی ځناورو خو دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دَ ټولو نه زیاته یره دَ انسانانو نه وه ـ دَ پاڼې کش سره به ترینه زړهٔ بوټ وتو۔ چې خوب به جُوټه ورکړه نو کله به یې ګټې سره تندې اولګیدو او کله روستۍ کپره ـ دې نه علاوه دَ ګیدړانو او بیزوزاګانو اوازونه او مستۍ هره لمحه ، دَ هغه دَ پاره دَ قیامت دَ چیچې نه کمه نه وه ـ هغه ته داسې ښکاریده چې هغه یو روح بوګنونکې خوب وینی او دا ټولې کړمې هغه ته په خوب کښې پیښیږی ....هغه نه پو هیدو چې هغه ته دَ کومې



www.pukhto.net



ګناه سزا ملاویږی ـ چې څومره به شپه پخیده ، هومره به دَ هغه په یره کښې اضافه کیده ـ عجیبه عجیبه مخلوقات به دَ هغهٔ مخې ته تیریدل ، عجیبه عجیبه اوازونه او عجیبه عجیبه حرکتونه به یې کول ـ یو ځل دَ ګیدړانو چغې شوې ـ په چغو چغو هغوی ټول یو ځائې ته راغونډ شو، یوه لویه ډله ترینه جوړه شوه او په غرونو کښې یې انډوخر جوړ کړو ـ په دغه منډو او مستۍ کښې چې هغوی ووختل نو دَ میلوګانو یوه جوړه راغله او دَ هغه خوا کښې اودریده۔ هغه دَ یرې نه ساه داسې بنده کړه لکه چې بیخی مړ وی ـ لږه شیبه پس دَ هغوی بچی هم هغوی پسې را اورسیدل او هغوی سره په مستۍ مستۍ روان شو۔ چې هغوی تیر شو نو هغه یوه لویه ساه واخسته ـ دَ هغه دغه یره لاختمه نه وه چې دَ غرڈَ سوکې نه یو کاڼې را اوزغړیدو او په سانتهو راتلو هن چې دَ هغهٔ خوا کښې یوې ګټې سره اولګیدو او دوه ټکړې شو ـ یوه شیبه پس هغه ته مخامخ دَ غر په نیمۍ کښې ولاړه دَ یوې ځنګلی ناشپاتۍ اونه اوشنیده او دَ اونې یوه ښاخ تله راتله ـ دَ یرې یو برقی سرېکه دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه پورې راپورې اووته ـ دَ هغهٔ په زړهٔ کښې راغله چې دا پیریان دی او هغه یره وی ـ دَ پیریانو خیال سره دَ هغهٔ په ټول بدن دَ یرې زلزل راغۍ ـ هلته ښاخ شنیده او دلته هغه رچیدو ـ یوه شیبه پس چې هغهٔ ورته په نیم کخو سترګو اوکتل نو هغه یوه بیزو وه چې په یو لاس یې په ښاخ زانګل او په بل لاس یې دَ ناشپاتۍ نه ټک ویستلو۔ هغه

سترګے پټې کړے او د دے ځنګلی ځناورو متعلق یې سوچ کوو۔ چې دا ټول دَ هغه په وجه راپاره شوی دی او که دا د دوی معمول دے ۔ اخر په دے نتیجه اورسیدو چې دَ هغه په وجه نه دی راوتے بلکه دا دَ دوی ژوند او دَ ژوند عامے هلے ځلے دی ځکه دا دَ دوی علاقه وه ۔ دا د دوی کلې او کور دے او که د هغه په وجه راوتے وې نو هغه به یې روغ نه وو پرېښې ۔ کله کله به دَ هغه دَ خپل ځانه هم یره اوشوه ۔ کوم ژوند ، کوم وجود چې هغه دَ سزا نه بچ کول غوښتل اوس په هغه ژوند او تن بدن باندے پښیمانه وو۔ هغه لا په دغه سوچونو کښې ډوب وو چې یوه بګوه راغله دَ هغه په خوا کښې اودریده او یوه لویه چغه یې اوویستله ۔ هغے پسې ګیدړانو هم چغے کړے او ټولو دَ هغے چغے پسې منډه کړه ۔ بګوے چې دَ هغوی دَ راتلو ښکالو وورېده نو په هغه کړومب وردننه شوه په کوم کښې چې هغه ناست وو۔ دَ ننوتو سره دَ هغهٔ دَ دواړو خپو مینځ کښې پټه شوه ۔ شایان ته پته اولګیده چې اوس ایله ګیرشو ۔ هغه ساه بنده کړے وه او لکه دَ اوچ ، بے روحه بت ناست وو۔ دَ ګیدړانو سیل راغی۔ دَ هغه خوا کښې اوګرځیدل خو چې بګوه یې اونه لیده نو په مستی۔ مستی۔ روان شو ۔ دَ ګیدړانو دَ تلو نه پس بګوه هم غلے غوندے اووته ۔ دَ هغه بدن دَ یرے دَ خولے نه جب جوب شوے وو۔

اسمان بالکل صفا وو۔ تیر پاتی ستوری هم برخیره شوی وو او ټول په دغه زوړنده بت کښې دَ هغهٔ په تماشه وو۔ پیرونے دَ هغه دردناک اذیت



www.pukhto.net



برداشت نه کړے شو او په ډکو سترګو پریوتلے ۔ تلے دَ انصاف په تول کښې ګوتے کولے چې یو لکی مار ستورے دَ هغے خوا کښې تیر شو او دَ هغے بے انصافی یې ټول اسمانی مخلوق ته په ګوته کړه ۔ قطبی ستوری دَ صبا کاذب ستوری ته سترګه اوهله ۔ هغه په مسکا مسکا سپوږمۍ خبر کړه ۔ سپوږمی چې هلالی توره په لاس راتله نو هغه دَ مینځ نه اوتے وے ۔ دَ هغے په بُزدلی دَ صبا صادق ستورے په خندا شو او دَ هغهٔ خندا سره ټوله فضا تکه سپینه شوه ۔ د لرے نه دَ اذان اوازونه پورته شول او په غرونو کښې اوکړنګیدل ۔ دے سره دَ شایان په مخ هم مسکا خوره شوه ۔ چې هرخوا رڼا شوه او نمر په غرونو خور شو نو هغه دَ کړومب نه اووتو ۔ او رو رو په هغه لار روان شو چې په کومه طارق کمال تلے وو۔ چې کله ډاګ ته اورسیدو نو ځائے په ځائے دَ کارتوسو کوکے اولیدے ۔ چې لږ مخکښے لاړو نو دَ وینے اوچ څاځکی یې په زمکه اولیدل ۔ اخر دا چې هغه ځائے ته اورسیدو چرته چې هغه ویشتلی شوے وو او چرته چې هغه لټې وهلے وی ۔ هغه ډیری شیبه دَ طارق کمال اوچے وینے ته ولاړ وو او ډکے سترګے یې ورته کتل ۔ په دغه کتو کتو کښې هغه ته په وینو ککړ طارق کمال مخکښے شو ۔ هغهٔ ته مخامخ اودریدو او ورته یې اووے "شایانه ، زهٔ درنه لاړم خو ستا هم خیر نشته۔ وخت مهٔ ضائع کوه شابه دانګه خپی اوباسه "۔
دے سره هغهٔ یو سوړ اسویلے اوکړو او په نامعلوم منزل مخکښے روان شو ۔

دا ټوله علاقه ډاګه او آباده وه ـ ځائے په ځائے په کښې دَ انارو ، سیوانو باغونه او شنه فصلونه زانګیدل ـ هغه داسې محسوسه کړه لکه چې هغه دَ ترمو ختهو نه اووتو او په هواره زمکه په سپک قدمونو روان دے ـ چې لږ مخکښے لاړو نو چلنده لار یې پریښوده او په پولو روان شو ـ چې چرته لرے به یې ثوک اوځلیدو نو په فصل کښې به پټ شو او تر هغے به پټ وو چې هغه به تیر شو ـ خو اخر تر کومه ؟ چې ثومره به مخکښې تلو نو په پټو کښې به دَ خلقو تعداد زیاتیدو ـ لوږ مازیګر وو چې په تلو تلو کښې ناصافی په یو کور وراوختو. هغه دَ یو کور خوا کښې تیریدو چې یو دروند ، پوخ عمره ، سپین ږیرے مسلح سړے هغه له راپورته شو ـ دَ هغه مخه یې اونیوه ـ ټوپک یې ورته نیغ اونیوو او ورته یې اووے ، "اودریږه هلکه، چرته ځې "؟

دے ناګهانه اواز سره دَ هغهٔ زړه اوخویدو او دَ خپو نه یې دم اوختو. هغه دومره یریدلے او لړ ګل شوے وو چې هغه له یې هیڅ جواب ورنکړو او نه یې دَ جواب ورکولو جرأت کولے شو ـ دَ هغه خوله داسے اوچه شوے او تالو یې داسے کالو شوے وو لکه چې په موټو موټو شنې بیرے یې خوړلے وی ـ بهرحال هغه په اوچ او پړسیدلی تالو او په اوچو شونډو ژبه اووهله او ثۀ ویل یې غوښتل چې هغه ترینه بیا تپوس اوکړو "تۀ جوړ میلمه یې "؟ دے سره هغهٔ زړهٔ اوموندو ، حوصله یې زیاته شوه بالکل داسے لکه یو ماشوم ته چې خپې اودربی. او بیا ورله





په سر دَ مینې لاس کیږدے ـ دَ هغه په مخ مسکا خوره شوه او دَ جواب ورکولو په ځاے یې ورته سر اوړکولو ـ هغه ترینه بیا تپوس اوکړو "چاله ځې ؟ . .دَ چا میلمه یې "؟

شایان:ـ بابا زۀ په دے علاقه کښې ثوک نه پیژنم ـ زۀ . . .زه خدائی میلمه یم "ـ

بابا:ـ دَ شکل نه راته میلمه ښکاره شوے ګینې اوس به مِ په ګولو سورے کړے وې . . .تاته پته نشته چې دے علاقه کښې ثوک سرتور سر نشی ګرځیدے ؟

شایان :ـ جی ـ جی شته دے ـ

بابا:ـ نو بیا ولے لوڅ ، لغړ زمونږ په علاقه کښې ګرځې.

شایان:ـ معافی غواړم بابا ، ماسره نه پټکې شته او نه ټوپی ـ

بابا (دَ ټوپک شپیلی لاندے کوی ) "چې درسره نشته نو ماپسی راځه " دَ بابا کور سره جخت څنګ په څنګ اوچنه په چنه لویه حجره وه. په حجره کښې دَ ختې اوګټې دوه کوټې وی او دَ کوټو مخے ته برنډه او دَ قلعه دیوال سره جخت دَ واخو یو لوے سپر وو. بابا او شایان چې حجرے ته ورغلل نو بابا هغه په برنډه ورتیر کړو او کوټې ته یې دننه کړو ـ او ورته یې اووې "دے کټ کښې کینه "ـ

شایان دَ هغه دَ حکم مطابق په کټ کښې کیناستو او بابا کور ته لاړو. موسم دَ اوړی وو خو دَ دغه علاقو اوړے دَ سمے دَ علاقو دَ ژمی نه زیات یخ وی ـ نری نری هوا چلیده او دَ هغه ښه زیګه شوے وه. هغه



Pukhto.Net
www.pukhto.net

تـه دَ مـزل پـه دوران کښـې دَ يـخـنـۍ احساس نه وو شوے خو کله چې هـغـه دمـه شـو نـو پـه ناسته ناسته يې لاسونه راغونډ کړل او ترخونو کښـې يې ورکـړل ۔ لږه شيبـه پـس بـابا دَ کور نه ، پټکې ، ټوپۍ او يو څادر راؤړو ، هغه له يې ورکړۀ او ورته يې اووے " ټوپۍ په سر کيږده او پټکی پرے اوتړه " شايان هم هغسے اوکړل څۀ چې ورته هغے وے ۔ بيا يې ورته اووے "اوس دا څادر دَ ځان نه تاؤ کړه "۔ دَ هغه يخنی شوے وه نـو څادر يې دَ ځان نـه کـلک تـاؤ کړو ۔ بابا مسکې شو او وے وئيل " اوس درنه ځوان جوړ شو . . .اوس تاته اجازت دے تلے شی "۔

شايان پاڅيدو او هغـه تـه يې اووې "بـابـا ډيـره مهربانی ۔ ډيره ډيره شکريه ، لاړم درنه سلام عليکم "۔

بابا:۔ وعليکم سلام په مخه دے ښه ۔ شايان چې روان شو او دَ کوټے نه اووتـو او بـرنـډے تـه شو نو بابا دَ روستو نه اواز ورکړو "اودريږه زلميه " شايان پـه بـرنـډه کښـې اودريـدو ۔ په ديکښے دَ بابا پيغله لور ملغلره دَ واخو پنډ په سر دَ حجرے په ګيټ رادننه شوه او کور ته تله ۔ شايان چې هغے ته اوکتل نو شا يې کړه ورته ۔ چې هغه تيره شوه نو بيا يې بابا ته مخ کړو ۔

بابا :۔ ته به شپه چرته کوې ؟

شايان:۔ زمـا دَ شپې هيڅ پته نه لګی ۔ چې چرته راغله ، رابه شی او تيره به شی ۔

بـابـا:۔ کـه ډير ضرور کار دے نه وی نو پاتے شه شپه دلته اوکړه ناوخته



www.pukhto.net



دے ۔ صبا چې چائے اوڅکې نو زۀ به دے په موټر سائيکل اورسوم۔

شايان:۔ نه بابا هيڅ کار م نشته ۔

بـابـا (مسـکـې شی ) چې کار دے نشته نو راځه کوټے ته ۔ بے غمه ډېره شـه ۔ شپـه بـه دلتـه اوکـړے ۔ صبا چې چرته تۀ غواړے هلته به دے اورسـوم ۔ زۀ ورځـم چی تـالـۀ چائے راؤړم ۔ بابا دَ هغه دَ جواب انتظار اونـکړو او کور ته روان شو ۔ لږه شيبه پس يې دَ کور نه يو غټ چينک بے پيـو تـرخه چاے او ورسره اوچ توتان او انځران راؤړل ۔ بابا يوه پيالۍ ځان تـه ډکـه کـړه او بـله هغه ته او ورته يې اووے "چائے واخله زلميه" چې چاے اوڅکلے شوه نو بيا ورته وائی "ښه زلميه اوس راته دا اووايه چې تـه څـۀ غـرض دَ پـاره دے عـلاقے ته راغلے يې "۔ شايان ورته دَ ډيره اسماعيل خان دَ واقعے نه واخله دَ طارق کمال دَ مرګه پورے ټوله قيصه اوکـړه او اخـره کښـې يې ورتـه اووې "اوس چرتـه پناه اخستو دَ پـاره ګرځم"۔

بـابا:۔ دَ پناه خو هډو غم مه کوه ۔ دا تاته هر ځائے ملاويدے شی ۔ دَ چا پـه حـجـره چې ورغلے نو هغه ځائے ستادَ پناه شو۔ دلتـه ميلمه ته خلق ډيـر پـه درنـه سـتـرګـه ګـوری ۔ پـه خپـل ميلمه خپل سر ورکوی خو دَ خپـل ميلمه لاس به د هغه دَ دشمن په لاس کښې چرے هم ورنکړی ۔ دا د دے عـلاقے دود ، دستور او روايات دی ۔

شـايـان :۔ بـابـا دا دود دستـور دَ ملالۍ کلی هم دی خو چې دَ حکومت له خوا پرے زور راغی نو خپل ميلمه طارق کمال يې په ګولو سورے

Pukhto.Net پښتو

کړو او دَ هغهٔ لاش یې ډیر په خوشحالۍ حکومت ته حواله کړو۔

بابا:۔ بالکل دا خبره نن غرمه دغه بره کلی کښې کیده چې دَ هغه لاش حکومت ته حواله شو او نن ماسپخین دوه بجې دَ پښتو په خبرونو کښې هم دا خبر راغی۔ البته دے سره مِ دَ غوږو یوه خبره بله هم راغله چې دَ هغه دَ ملګری شایان تلاش جاری دے. . .شایان ستا نوم دے ؟

شایان:۔ جی ۔ شایان زما نوم دے ۔

بابا:۔ هغه تیرو ورځو کښې هیلی کاپټر راغلې وو په دے ګردونواح علاقو کښې یې پرچے غورځولے ۔ یوه پرچه ماله هم په ګوتو راغلے ده (هغه جیب کښې ګوتې وهی او یوه پرچه ترینه را اوباځی ) دا پرچه ده ۔ چا راته وې چې دیکښې ډیر نوموونه دی ؟" شایان (پرچے ته ګوری) "نوموونه خو پکښې واقعی ډیر دی خو هغه نور معاف شو ځکه چې هغوی دے علاقو کښې اوسیږی او خپل قوم قبیل لری ۔ فیصله دَ طارق کمال او زما په سر اوشوه ۔ هغه هم لاړو اوس یواځے زهٔ پاتے شوم ، بے خولے ، بے زبانه او بے ثوکه ۔

بابا:۔ غم مه کوه زلمیه دَ چاچې ثوک نه وی نو الله یې مل وی ۔ دا ښه اوشو چې دلته راغلے ګینی ستا به هم دغه حال وو کوم چې دَ طارق کمال شو ۔

شایان :۔ بابا اوس راغلے کنه زما خبرے له ۔ تا وے چې د دے ځاے خلق په خپل میلمه سرورکوی ۔



www.pukhto.net



بابا:۔ دَ ملالۍ خلق ښهٔ پښتانهٔ او میلمه دوست خلق دی خو تاسو هلته بے جلبه ګرځیدی۔ ۔ هډو دا خبره مو په خیال کښې نه راتله چې دَ حکومت لاسونه ډیر اوږده او مضبوط وی ۔ بله دا چې دَ حکومت جاسوسان درپسې وو۔

شایان :۔ دا جاسوسان دلته هم راتلے شی ؟

بابا:۔ راتلے شی . . .ولے نشی راتلے ، ځکه چې جاسوسان چرته دَ بل ځاے نه خو نه راځی ۔ دا پرچے چې دَ چا لاس له ورغلی دی کیدیشی دَ انعام په لالچ کښې حکومت سره دَ خپل ضمیر سودا اوکړی ۔ دا ځکه خو درته ویم کنه چې ډیر ښهٔ اوشو چې دلته راغلے ۔ زما کور او حجره دَ نور کلی نه یو خوا ته ده ۔ دے نه علاوه زهٔ چاسره دومره تعلق نه ساتم ۔ دلته ثوک نشی راتلے خو تهٔ هم لږ احتیاط کوه ۔ بهر ډیر اوځه را اوځه مه ۔ هنّ چې خبره لږه سړه شی نو بیا به په خپله هیره شی او ځهٔ پته لګی که دَ حکومت له خوا دَ عام معافۍ اعلان اوشی ځکه چې په ټول ملک کښې اړے ګړے دے ۔ حالاتو ته به ګورو نو هغسے به چلیږو ۔ او که بالفرض دلته دے ګزاره ګرانه شوه او ما نشوے ساتلے نو بیا به دے افغانستان ته اولیږم ۔ زما یو کور هلته دے ۔ رونړه او ځامن مِ هلته دی ۔ خپلی زمکے او کاروبار مو دے ۔ هلته به درله تذکره جوړه کړو بیا بے غمه په ټول افغانستان کښې ګرځه ۔ که خپله مزدوری کوے او که عسکری کوے ثوک درته پورته هم نشی کتې ۔ ښه زلمیه ، ښهٔ بے غمه ډډه واچوه او ټول غمونه او فکرونه دَ بالخت لاندے

کړه ۔ نورے خبرے به په ډوډۍ اوکړو "۔

شایان ښۀ په نره دَ حالاتو مقابله کوله خو چرے یې هم نه دَ خپل قسمت نه گیله اوکړه او نه دَ بل چا نه ۔ کله کله به ثنا او دَ هغے خبرے دَ هغۀ په زړۀ کښې راتلے ۔ دے خبرو سره به هغه ول په ول تاؤ شو او بیا به لوے سوچ کښې پریوتو ۔ دَ مشرے بی بی سپورو ستغو "رذیله، ستا سترگے کاسیرې دی ۔ څه روک شه چی بیادے په دے طرف اونه وینم ....که مشرخان درنه خبر شو نو ټکړے ټکړے به دې کړی او سپو ته به دے واچوی "۔ خبرو به هغه له لکه دَ سرو مچو ټکونه ورکول او هغه به ډډے په ډډے اوختو را اوختو ۔ بیا دَ شمشاد خبرے چې "تا پسې دَ مشرخان سړی گرځی او ستا دَ نیولو کوشش کوی او که یو ځل دَ هغۀ پنجے له ورغلے نو بیا دے ترینه ثوک نشتی خلاصولے ۔ ستا نیولو پسی هغه انعام هم ویستلے دے " دے سره ورته دَ مشر خان دا خبرے هم رایادے شوے چې "اودریږه شایانه چرته ځی ؟ " شایانه بچے خبره ووره ...راشه بچے خبره ووره ....ورپسې شی چی لاړ نشی درنه ۔ اوې نیسی او ما پورے یې راولی "۔ دا ټولے خبرے دَ هغۀ په زړۀ کښې پرتے وے او واره په واره ورته ټولے رایادے شوے ۔ دَ ډیره اسماعیل خان او بنو ن نه واخله تر ملالی کلی پورے ټول واقعات دَ فلم دَ سین غوندے هغه ته مخکښے کیدل او هغه به یو یو دَ نظره ویستلو۔ دلته په راتلو باندے هغه مطمئن وو۔ اگر چی په شروع کښې دَ بابا رویه هم هغه سره ښۀ نه وه ۔ دَ هغه خبرے سپورے او انداز



www.pukhto.net



ظالمانه وو خو بیا ډیر زر خوږ شو ۔ هغه له یې نه صرف تسلی ورکړه بلکه دَ هغۀ دَ ساتلو ذمه واری یې هم په سر واخسته هغه سترگې پټې کړے وی او دغه ټول واقعات یې په پټو سترگو لیدل او دغه ټولے خبرے یې وورېدے چې دیکښے بابا ډوډۍ راؤړه ۔ په پوړ یې کیښوده او هغۀ ته یې اووې "راځه زلمیه چې ډوډی اوخورے "۔ هغه سترگې اوغړولے او هغه سره ډوډۍ ته کیناستو ۔ بابا په لنډ تنگ وخت کښې دَ هغۀ پوره میلمستیا اوکړه ۔ دَ قبائلی روایت مطابق یې وله صحبت تیار کړے وو۔ شایان دَ دوه ورځو اوږے وو ۔ ښۀ په درز کښې یې ډوډۍ اوخوړه او خپل کمې یې پوره کړو ۔ چی ډوډۍ اوخوړے شوه نو په کوټه کښې یې ورته کټ سم کړو او بیا یې ورته اووے "زلمیه تۀ بے غمه اودۀ شه ۔ ستړے یې ۔ صبا له به ملاقات کوو"۔

شایان :۔ انشاء الله ۔ شایان کټ کښې سملاستو، بابا خپل لوښی واخستل او په تلو تلو کښې یې ور دَ بهر نه بند کړو۔ شایان ستړے هم وو او شوگیر ه هم ۔ دَ سترگو پټو سره په درونډ خوب اوده شو۔

**دریمه برخه**

سحر نمر په کلی خور شوے وو خو نه شایان پاڅیدو او نه بابا ښکاره شو ۔ چی ځاښتی محال شو نو دَ مور په وینا باندے ملغلره حجرے ته ورغله چې دَ بابا معلومات اوکړی ۔ دَ کوټې ورډَ بهر نه جرنده وو۔ ملغلرے دَ کوټے دَ دیوال په طاق نما روشندان کښې چې اوکتل نو شایان اودۀ وو خو دَ بابا درک نۀ لگیدو ۔ هغه په یوه منډه کور ته لاړه او

مـور تـه یـې تـول حـال اووې ـ دَ هغـې مور چې دا وورېدل نو دواړه لاسه یـې سینـې لـه راواچـول او وئیل "هله خدایه ډوبه شوم ـ ملغلرې پلار دے بیـا څـۀ لـوبـه جوړه کړې ده ـ هله شابه ورشه ، موبائیل راواخله او تـنـظیـم تـه خبـر ورکـړه هسـې نـه چې دَ هغۀ په تښ کښې راله بیا کور اوسیزی . . .شابه زرکوه چی دَ پلار دَ راتلو نه دے مخکښې هغوی خبر کـړې "ـ مـلغلره کوټې ته ورغله ، موبائیل یې راواخستو او مور ته یې اووے "واخله مورې کمانډرصیب سره خبرې اوکړه "ـ

مـور:ـ نـه لـورې زۀ پـه مـوبـائیـل څۀ پو هیږم ـ په خپله ورسره خبرې اوکړه ـ

ملغلره :ـ زۀ به یې درته نمبر ملاؤ کړم ، ته به ورسره خبرې اوکړې ـ

مـلـغـلـره دَ کـمـانـډر صیب نمبر ملاؤ کړی ، مورله یې ورکوی او ورته وائـی "رنګ ورځـی ، خبـرې ورسـره اوکـړه "ـ مـور دَ هغـې نه موبائیل اخـلـی ، غوږ ته یې نیسی او وائی "هیلو کمانډر صیب ، زۀ دَ ملغلرې مـور او دَ جانو تېر خبرې کوم ـ ته لږ زمونږ حجرې ته راشه ، دَ ملغلرې پـلار بیـا څـۀ لـوبـه جـوړه کـړې ده . . .نـه نـه نور خیر دے خو بیګاه یـو میـلـمـه راغـلـے دے ، هـغـه پسې یې دَ کوټې ورجرنده کړې دے او په خپـلـه چـرتـه تلے دې . . .داسې معلومیږی چې . . .نه ـ نه . . .ما خپله غـاړه خـلاصـه کـړه ـ هسـې نـه چې دَ هـغـه په تښ کښې راله بیا کور اوسیـزې "ـ دے سره هـغـه مـوبـائیـل مـلـغـلـرې لـه ورکوی ـ ملغلره مـوبائیل بند کړی او کوټې ته لاړه شی ـ چی هغه دَ کوټې نه راؤځی نو



www.pukhto.net



جانو بابا هم راشی او هغې ته وائی "مور دے څۀ شوه جینۍ "ـ

مـلـغـلـره :ـ په چارګی کښې ده . . .بابا چائې میلمه له نه وورې ، دا خو ډیر ناوخته دے ؟

"جانوبابا ( مسکې شی ) هغه لا اوده دے . . .خو ځه ته چائې تیاره کړه زۀ ورځـم چې هـغـه پـاڅوم "ـ جانوبابا حجرې ته لاړو ، جرنده یې لرې کـړه او هـغه ته یې اووے " پاڅه زلمیه چی چائې اوڅکې "دَ هغه خوب پوره شوے وو ـ هغه په مسکا مسکا پاڅیدو ، غسل خانې ته ورغی او بـابـا کـور تـه لاړو ـ لږه شیبـه پـس بـابـا چاے راؤړه ـ دواړو ښۀ په خوند خـونـد چائې اوڅـکـلـه ـ دَ چائې څـکـلو نه پس بابا ورته اوکتل او په ژړغـونـی انـداز یـې اووے "زلمیه تیارې کوه چې ځو"ـ شایان هغه ته پـه حیـرانتیـا اوکتـل څۀ ویل یې غوښتل خو جانو بابا پرې مخکښې شـو او زیـاتـه یې کړه "په کلی کښې ستا دَ راتلو ګنګوسې خور شوے دے ـ دوه ، څـلـور کسـانـو سره مې په لاس کښې پرچې هم اولیدے اوستا نـوم مې هم وورېدو . . . .ځان تیاره وه چې ځو . . .موټر سائیکل تیار ولاړ دے ـ چې تـا مـحفوظ ځائې ته اورسوم نو هله به مې زړۀ په قلارشی . . . هسـی نـه چې زمـا پـه ډیـره دَ کـلـی خلقه افه اوکړی ، تا رانه لاس تړی بـوځـی یـا دے مـړ کـړی "ـ شایان چې دا وورېدل نو دَ مرګ چپې پرې راغـلـے ـ خوله یې ترخه او مرۍ یې اوچه شوه ـ په ډیر زور یې په اوچه او تـرخـه خوله کښې ژبه اوګرځوله ، لاړے یې تیرے کړې او هغه ته یې اووے ، "چه ـ چه .چرته ځوـ با . . .با ؟

بابا مسکې شی او هغهٔ ته یې اووے "پریږه مه ، هیڅ نشته خو هسے خپل احتیاط کوو۔ تا چرته محفوظ ځائے ته رسوم ۔ شابه ناوخته دے ، هسے نه چې په دے دے کښې راباندے افه راشی ... چې دَ هغوی دَ راتلو نه مخکښے مخکښے اوځو ۔ بیادے د دغه ټولو لاس خلاص او توره تیره وی "۔

شایان :۔ ډیره ښه ده باباجې څنګه ستاخوښخه وی ۔

بابا:۔ زما هم داسے خوښخه ده ۔ ته ځان تیار کړه ۔

شایان:۔ زهٔ تیار یم بابا ، ځه چې ځو ۔

بابا:۔ ( لوښې راغونډی او لاس کښې یې نیسی )" زهٔ دا لوښې کور ته اوړم نو راځم "۔ بابا لوښې په لاس چې روان شی او دَ کوټے نه یوه خپه اوباسی نو دَ بلے بهر ویستو ته جوړ نشی او کوټے ته واپس شی ۔ رنګ یې تک زیر شی او ځان سره وائی " او هاؤ ...کار خراب شو ۔ هم هغه اوشو څهٔ نه چې زه یریدیم "۔

شایان :۔ ولے بابا ؟ بابا هغه له هډو جواب ورنکړو ، لوښې یې په کټ کښې کیښودل او غلے اودریدو ۔ په دیکښے پنځه مسلح کسان ډیر په تونډی کښې کوټے ته راننه وتل ۔ دَ هغوی شکلونه دومره دهشت ناک وو چې شایان دَ یرے نه اوړچیدو او ړچیدو سره پاڅیدو ۔ دَ هغوی راتلو سره بابا اووے "تاسو ولے راتلی صیب ...تاسو ولے تکلیف کوو۔ دے خو ما لاس ترلے په خپله دروستو "۔ شایان حیران ولاړ وو کله به یې بابا ته کتل او کله مسلح کسانو ته ۔ بابا ورته بیا اووے "هتکړے





درله راواخلم صیب "۔

کمانډر صیب:۔ هتکړی دے هم ساتلی دی ؟

جانو بابا ( مسکے شی ) هتکړی ، بیړی هرڅهٔ مِ ساتلی دی . دا صیب دَ داسے کسانو دَ پاره ۔ صیب زهٔ درلـه هتکړی راخلم " جانو بابا بلے کوټے ته ورځی ، هتکړی راؤړی او دَ شایان مخے ته یې شړنګوی ۔ یو مجاهد دَ هغه نه هتکړی اخلی ۔

بابا:۔ صیب هتکړی ورته واچوی چې اونه تختی ۔

کمانډر صیب په درونډ اواز وائی " هتکړی ورته واچوی "۔

شایان هغه ته دواړه لاسونه مخکښے کړی خو سترګے یې داسے ډکے شی چې لړی لړی اوښکے یې په مخ راماتے شی ۔ هغه مخ بل طرف ته واړه وی او دَ هغوی دَ هتکړی لګولو انتظار کوی ۔ مجاهد دَ هتکړی ولونه سموی چې کمانډر صیب بیا وائی "هتکړی ورته واچوه "۔

جانو بابا :۔ هاؤ کنه ۔ هسے نه چې اوتختی او دَ عمر خواری مو په اوبو لاهو شی ۔

کمانډر صیب په درونډ اواز بیا وائی "هتکړی جانو بابا ته واچوه "۔

(مجاهد جانو بابا ته هتکړی اچوی)

جانوبابا:۔ دا څهٔ کوے صیب ، تیروتے ؟ دَ خر په ځائے کولال اونه داغے"؟

کمانډر صیب :۔ چې دَ کولال نه خر جوړ شی نو داغل یې پکار دی "واچوه ورته هتکړی او ګاډی ته یې اولی "۔



www.pukhto.net

جانـو بابا:۔ صیب دا څۀ کوې ؟ ماڅۀ جرم کړے دے ؟ ملزم خو دے دے

(روانوی یې)

کـمـانـډرصـیـب:۔ خـیـژه ګـاډی تـه ۔ هـغـوی تول ګاډی کښې کینی ۔

شایان کمانډر سره مخکښے کینی ۔ دَ شایان اوښکے نه اودریږی ۔ غلے غلے کـلـه په لمن او کله په ګوتو خپلې اوښکے اوچوی او په زړۀ کښې وائی چی " دا هغه سره څۀ کیږی ؟ دا کړمے تهولے دَ هغۀ په برخه رسیدلی دی ؟ ..دے نه پس به څۀ کیږی ؟ کمانډر صیب کله کله هغه تـه پـه نیـم کـخـو سترګو اوکله په شیشه کښې ګوری خو په مخ یې دَ خوشحالۍ یا غم هیڅ نښـخـے نه ښکاری ۔ یوه شیبه پس ګاډې دَ هـوارے زمـکـے نـه اووتـو او غـرونـو او ځنګل کښې داخل شو ۔ چی څومره به ګاډې مخکښے تلو نو ځنګل ګڼیدو ۔ اخر دا چې یو مخصوص ځائے کښې دَ ګڼو اوونو په سیوری اودریدو ۔ چې هغوی دَ ګاډی نه کوز شو نو په یو غار ورننوتل ۔ دَ غار خولے سره نزدے یوزمین دوز کوټه وه ۔ دا غار مخکښے هم تلے وه خو کمانډر صیب او دَ هغه تهول ملګری دغه کوټے ته ورغلل ۔ دا دَ کمانډر صیب دفتر وو۔ چی تهول کیناستل نو کمانډر صیب دَ جانو بابا نه تپوس اوکړو ...ښه جانو بابا وایه ، دے ماشوم څۀ ګناه کړے ده ؟

جانو بابا (شایان ته ګوری) دا ماشوم نه دے صیب ۔ دا ډیر نمک حرامه او ناشکرته انسان دے۔ دے دَ حکومت له خوا ملزم دے خو زما په حجره راننوتو او مانه یې پنائی اوغوښته نو ماپناه ورکړه ۔ اودۀ ماسره





څۀ اوکړل ؟ (کمانډر ته په سوالیه نظر ګوری)

کمانډر صیب :۔ مونږ ته پته نشته چی دۀ تا سره څۀ اوکړل ۔ په خپله اووایه ۔

جانو بابا:۔ صیب دَ شرم خبره ده خو چې ته رانه تپوس کوی نو درته به یې اوویم ګینی په خوله مِ نه راځی ۔

کمانډرصیب :۔ خبره کوه جانو بابا ، وخت مه ضائع کوه ۔

جانو بابا:۔ دے نمک حرامه زما پیغلے جینۍ ته په بد نظر اوکتل۔

کمانډر صیب (شایان ته) ستا څۀ نوم دے ؟

شایان:۔ زما نوم شایان دے ۔

کمانډر صیب:۔ جانو بابا رشتیا وائی ۔ تا د ده جینۍ ته کتلی دی۔

شایان په خیال کښې لاړ شی خو ډیرزر واپس شی او وائی "هاؤ صیب ۔ زۀ او بابا په برنډه کښې ولاړ وو خبرے مو کولے چی دَ واخو پنډ په سر یوه زنانه حجرے ته رادننه شوه۔ ماچی ورته اوکتل نو مخ مِ ترینه واړه وو او هغے ته مِ شا کړه ۔

کمانډر صیب:۔ دے رشتیا وائی ، جانوبابا ؟

جانوبابا:۔ دروغ ، بالکل دروغ وائی ۔ دۀ هله شا کړه ورته چې ماورته په برندو سترګو اوکتل "۔

(شایان غوږونو له ګوتے اوړی او تویے اوباسی)

کمانډر صیب:۔ دے نه علاوه څۀ غلط حرکت خو یې نه دے کړے؟۔

جانوبابا:۔ کړے به یې وو خو که ما وریسی دَ بهرنه جرنده نه وه اچولے



www.pukhto.net

کمانډرصیب:۔ جانو بابا یو تپوس درنه کوم خو رشتیا رشتیا به راته وائې چی تا پاکستانی حکام سره د دۀ دَ سر سودا په څومره روپو کړے ده ۔

جانو بابا:۔نه صیب نه ۔ زۀ به داسے قبیح کار څنګه اوکړم۔ زۀ سودا دَ پاره بازار ته تلے ووم خو هلته فوجیانو ګیر کړم ۔ نه یې پریښودم خو دَ عمردراز ملک په ضمانت یې پریښودم ۔

کمانډر صیب:۔ فوجیانو ولے نیولے ؟ تا څۀ کړی وو؟

جانوبابا:۔ خبره هم دغه ده چې زه هم حیران ووم چی دا ولے ماڅۀ کړی دی ۔ نه یې پریښودم خو عمردراز ملک صیب سره دے خداې ښه اوکړی هغه زما صفائی هم اوکړه او زما ضمانت یې هم اوکړو۔

کمانډرصیب:۔ جانوبابا ماسره ګوتے مه کوه ...ماته هرڅۀ معلوم دی خو که ته یې په خپله خوله اووائی نو ډیر خوند به هم اوکړی او دَ سزا نه به هم بچ شې ؟

جانوبابا:۔ صیب چې رشتیاخبره درته اوکړم نو ما هغوی سره صرف دَ انعام په روپو یعنی پنځه لاکهه خبره کړے ده ۔

کمانډر صیب:۔ نغدې یې پکښې څومره درکړے ؟

جانوبابا:۔ دوه نیم لاکهه روپۍ یې نغدې راکړې او دوه نیم لاکهه به هله راکوی چی دَ ده لاس دَ هغوی په لاس کښې ورکړم ۔

کمانډر صیب:۔ تاخبره چاسره کړے ده ؟

جانوبابا:۔ پی ۔ اے سره ۔

کمانډر صیب :۔ دَ چا په ذریعه دے خبره کړے ده ۔


www.pukhto.net



جانو :۔ دَ ملک عمردراز صیب په ذریعه ۔

کمانډر صیب:۔ ملک صیب له دے څومره ورکړے ؟

جانوبابا:۔ هغۀ سره مِ په نیمه خبره کړے ده خو که ستاسو خوښخه وی نو هغه به دَ مینځ نه اوباسو او زۀ او تۀ به پرے نیم شو۔ دوه نیم لاکهه روپۍ زما شوی او دوه نیم لاکهه روپۍ ستاشوے ۔

کمانډرصیب:۔ ماله ترینه خپلې دوه نیم لاکهه راکړه نورته پو هـ شه او ملک صیب ۔

جانوبابا:۔ ډیره ښه خبره ده ۔ خوښخه مِ ده ( هغه دَ جیب نه روپۍ را اوباسی او هغه له یې ورکوی ) هنّ صیب دا واخله دوه نیم لاکهه روپۍ

کمانډر صیب ( روپۍ جیب کښې اچوی ) خفه خو نه یې جانوبابا؟

جانوبابا:۔ نه صیب نه ۔ په تا دَ خپلې مور پۍ دی ۔

کمانډر صیب ( یو ګارډ ته ) هلکه دَ جانو بابا نه هتکړی اوباسی "(ګارډ راځی او دَ هغه نه هتکړی اوباځی ...بیا شایان ته ګوری او وائی " شایانه ستا په سر ترینه ما خپله برخه روپۍ واخستې ۔ نورے دوه نیم لاکهه روپۍ دَ جانو بابا دی ۔ ستا څۀ خیال دے حکام ته دے حواله کړو"؟ ( شایان سترګے خکته کړی وی او چپه خوله ناست وی) "تاته ویم کنه ۔ سر اوچت کړه ، سترګو سره سترګې اولګوه او جواب راکړه "۔ شایان سر اوچت کړو او هغه ته یې په سکروټو سترګو اوکتل ۔ کمانډر صیب چې هغه ته اوکتل نو خپل کتل یې برداشت نه کړے شو او سترګې یې پټې کړے ۔ په پټو سترګو یې اووې "ستا څنګه

خوښخه ده "؟

شایان:۔ که زما خوښخه کوې نو بابا ترینه اوباسه ۔ بابا پو هـ شه او سرکار ۔تاسو زما دَ سر سودا په خپله اوکړۍ ۔

جانو بابا:۔ ماترینه ولے اوباسی ؟ تۀ دومره ناشکرته انسان یې چې کوره ما درله پناه هم درکړه ۔ ډوډۍ چائے مِ هم درکړه ۔ شپه مِ هم درکړه پټکی ، ټوپۍ او څادر مِ درکړو او چې دَ ګټې وخت راغی نو ته وائی چې " بابا ترینه اوباسه "۔

کمانډر صیب ( شایان ته ) تاته خپل انجام معلوم دے ؟

شایان(په ډډ اواز ) هاؤ صیب ۔ عبرتناک انجام ...سزاے موت ۔ دے نه علاوه هیڅ نه ۔

کمانډر صیب :۔ ته سزاے موت ته تیار یې ۔

شایان (دَ ناخوالۍ مسکا ) ۔ زۀ خو لمحه لمحه قتلیږم او لمحه لمحه ژوندے کیږم ۔ دَ څو څو ځله مرګ نه ښه دا ده چې یو وارے مړ شم ، او خبره ختمه شی ۔ چې په دنیا مِ څۀ نوم نشان پاتے نشی ۔ چې نه څوک دا اووائی چې زه دے دنیا ته راغلے یم او نه څوک دا اووائی چې زه ترینه تلے یم۔ دَ عدم خاؤره چې عدم ته اورسی نو بهتره به وی ۔

کمانډر صیب:۔ ته خپل ژوند په خپل ځان یو بوجهـ ګڼې ؟

شایان:۔ زۀ یوائې په خپل ځان بوجهـ نه یم بلکه د دنیا دَ هر سړی په سر بوجهـ یم ۔ زما دَ سر سودا زما په مخکښے کیږی ۔ روپۍ شمیرلے کیږی ، جیب کښې اچولے کیږی او زمانه زما دَ خوښخے او ناخوښخے



www.pukhto.net



پوښتنه کیږی ۔ دا کومه پښتو او کوم انسانیت دے ۔ داسے خو څوک یو ځناور سره هم نه کوی لکه تاسو چې ماسره کوی ۔ یو ځناور چې حلالیږی نو قصاب خپله چاړه دَ هغه دَ سترګو نه پټه ساتی او ته ماته وایې سترګے اوچتې کړه ۔

کمانډر صیب:۔ تۀ خو دا منې چې ستا مرګ یقینې دے ځکه ....

شایان (دَ هغۀ دَ خولے نه خبره اخلی ) کمانډر صیب مرګ دَ هر چا یقینی دے خو په خپله نیټه ۔ چې څوک دے دنیا ته راځی نو دا یقینی خبره ده چې هغه به ترینه ځی ۔

جانو بابا:۔ صیب ماته څۀ حکم دے ؟

کمانډر صیب ( یو ګارډ ته ) "هلکه جانو بابا بندی خانے ته بو ځه : او دَ شورئ اجلاس را اوغواړۍ چې د دۀ خبره ختمه کړو۔

جانو بابا:۔ دا څۀ کوی صیب ۔ زما څۀ ګناه خطا ده ۔

کمانډر صیب:۔ تاسره به بیا ګورم اوس مِ ده ته پریږده ( ګارډ هغه دَ څټ نه نیسی او بندی خانے ته یې بوځی ) دَ هغه دَ تلو نه پس کمانډر صیب شایان ته ګوری او وائی " ما خبره کوله خو تا زما دَ خولے نه واخسته ...ماوې چې ستا مرګ یقینی دے ځکه چې تاباندے دَ تخریب کارۍ او ترهه ګرۍ ډیرے دفعے لګیدلے دی ۔ دا څۀ دروغ نه دی ځکه چې تا په پوره هوش وحواس کښې اقبالِ جرم کړے دے ۔ ستا شمار په خطرناک ملزمانو کښې دے او ستا سزاے موت یقینی دے ځکه چې ترڅو پورے زماخیال دے تا پسی روستو څوک نیشته۔ دا



Pukhto.Net

هر څۀ تا دَ تنظیم دَ پاره نه دی کړی بلکه په خپله خوښخه دې کړی دی ۔ که ته غواړې نو زۀ ستا ټول کیسونه ختمولے شم خو په یو شرط۔

شایان :۔ څۀ شرط ؟

کمانډر صیب:۔ شرط دا دے چې تۀ زمونږ په تنظیم کښې شامل شه ۔ مونږ ته ستا غوندے دَ بهادر او نر ځوان ضرورت دے ۔

شایان:۔ زما کار به څۀ وی ؟

کمانډر صیب:۔ ستا دَ کار تعین به روستو کیږی خو بهرحال زمونږ دَ تنظیم اغراض ومقاصد په لنډو ټکو کښې دَ خپل وطن دفاع او دَ امریکے خلاف جهاد دے ۔ امریکه زمونږ دَ ټولو مسلمانانو دشمنه ده ۔ افغانستان یې په زور اونیوو او اوس پاکستان ته خپې وهی ...د هغے مخ نیوے پکار دے ۔ ستا څنګه خوښخه ده ؟

شایان :۔ کمانډر صیب ما دَ امریکے هیڅ خواړۀ ، تراځۀ نه دی لیدلې ...ماسره امریکے هیڅ بد نه دی کړے ۔ زۀ خو د دے وطن دَ مسلمانانو دَ ظلم نښخه یم ۔ دے خپلو خلقو په ما دا خپل ملک سور تنور کړے دے ۔ زما په خپل ملک کښې ځاے نیشته ۔ په ناحقه په جیل کښې واچولے شوم ، په ناحقه هغه سزاګانے راکړے شوے چې دَ ویلو او اوریدلو قابلې نه دې ۔ ماله ټوله سزا هم دے مسلمانانو رونو راکړه۔ زما سزا پسې امریکه نه ده راغلے ۔ دلته هر یو ښامار دے ۔ چې چاته نزدے کیږم نو ټک راکوی ۔

کمانډر صیب:۔ دے نه معلومیږی چې ته دَ وطن غدّار او دَ امریکے



www.pukhto.net



ایجنټ یې ۔ ستا ارادے ډیرے خطرناکے معلومیږی ؟

شایان:۔ دا الزام لا پاتے وو ؟ ...څه یو پکښې دا هم صحی ۔ هغه دَ چا خبره چې دا یوه پرے دَ بنګړو ( خاندی )

کمانډر صیب:۔ شایانه ، ستا دَ خبرو انداز ګستاخانه او باغیانه دے۔ نن دے لحاظ ځکه چې میلمه یې خو که بیا دے داسے خبرے اوکړے نو ژبه به درنه پریکړم ( ګارډ ته ) راشه هلکه دے زما دَ مخے نه لرے کړه (ګارډ راځی او هغه دَ دفتر نه بهر اوباځی )

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

Pukhto.Net پښتو

## پنځم باب

دَ چل ولی کاکاخېل نوم موسیٰ خان وو خو په دغه نوم په کلی کښې چانه پېژندو ۔ هغه لا ورکوټې وو چې په چل ولی مشهور شو ۔ چې زلمې شو هم چل ولی وو۔ چې دَ بال بچ پلار شو نو هم چل ولی وو۔ البته دَ عمر په لحاظ سره دَ یو بل ټکی اضافه اوشوه او دَ چل ولی نه چل ولی کاکا شو ۔ دَ چل ولی نوم په هغهٔ ځکه شته شو چې دَ "چل ول" ټکې دَ هغه تکیه کلام وو ۔ چې څهٔ خبره به یې کوله نو په هغې کښې به یې دَ چل ول ټکې ارو مرو راوستو ۔ چې چابه ورته اووې "چل ولی کاکا څنګه چل دے"؟ نو هغه به جواب ورکړو "ټول چل ول دے"۔ که چا به ترینه په لاره کوڅه کښې تپوس اوکړو چې، 'ولې چل ولی کاکا پټې ته نه یې تلې ؟' نو هغه به ورته اووے ، "یره ګله، میلمانهٔ مِ راغلی وو۔ دَ هغوی نه مِ په چل ول ځان خلاص کړو اوس دا دے روان یم"۔ که چابه ورته ګیله اوکړه چې "ته ګوره چل ولی کاکا ځوی له دے پټ په پټه واده اوکړو او ماته دے ست اونکړو"۔ نو هغه به ورته په خندا اووے "یره زلمیه خفه نشې ، وادهٔ څهٔ واده وو هسے چل ول وو۔ که چا به دَ ورو دَ سکول او سبق خبره کوله نو هغه به وراوداـنګل او اوبه ئې وئیل "سبق خو مړه هغه پخوانے سبق وو ۔ چې چابه خلورم جماعت پاس کړو نو دے اوسنی شپاړسم پاس سره به یې مقابله کولے شوه ۔ دا اوسنې سبق خو ټول چل ول دے"۔ که دَ زمیدارۍ او دَ فصل د ابادۍ خبره به راغله نو هغه به اووے "زمیدارۍ



www.pukhto.net



هغه پخوانی وې چې دَ ګنو ګوډ به یې په رمبی کوو او هر بوټی ته به یې ډهیرانی سره اچوله ۔ دا اوسنی زمیدارۍ خو ټول چل ول دے"۔ که دَ ډاکټر او بیمارۍ خبره به راغله نو هغه به په لنډو ټکو کښې اووې "ډاکټران هغه پخوانی وو چې په نبض به یې درله ګوتے کیښودے نو ته به چپ وې او هغه به لګیا شو ستا دَ بدن ټوله بیماری به یې تاته اوښودله ۔ دا اوسنۍ ډاکټرۍ خو ټول چل ول دے ۔ تانه به ستا دَ بیمارۍ تپوس کوی"۔

چل ولی کاکا په ذات خان نه وو او نه یې خانانو سره څهٔ رشته ناطه وه بلکه پلار په نیکهٔ یو غریب سړې او دَ خانانو زمیدار وو خو په مال دولت او جائیداد کښې دَ خانانو نه کم نه وو۔ هغه دَ خپلې کورنۍ مشر وو۔ شپږ یې ښه تکړه روڼه وو او دَ هغهٔ دَ پنځو ځامنو نه علاوه دَ هر یو رور یې پنځه پنځه او شپږ شپږ ځامن وو ۔ اته کسان یې په سعودی او دوبۍ کښې د مودو مودو نه پراتهٔ وو۔ هغوی به په هره میاشت کښې په لاکهونو روپۍ رالیږلې او هغه به سمبالولے ۔ دے سره سره به دَ زمیداری هم په لاکهونو روپۍ امدن راتلو او ټول به دَ چل ولی کاکا په لاس په صندوق کښې خوندی کیدو ۔ اتفاق یې برابر وو ۔ ټول په یو نغری او یو تالی راغونډ وو او دَ ټولو یوه خوله وه ۔ په لړه لړه یې دَ خانانو نه سل جریبه زمکه او لس دوکانونه خپل کړل او چې کله سیف علی خان دَ دوکانونو په خرڅ شروع اوکړه نو غونډ یې بیعه واخستل ۔ دے نه علاوه دَ هغه زرعی زمکه ، دَ همسایه ؤ مینې او دَ هغه شاملات

یې هم واخستو ۔ دغه رنګې هغه ذوالفقار خان او دَ سیف علی خان نورو تربورانو سره په شاملات کښې شریک شو ۔ چل ولی کاکا دَ سیف علی خان کور او حجرے ته هم چل جوړ کړے وو خو دَ ښځے په انکار سیف علی خان دَ هغے خرڅ ته جوړ نشو البته چل ولی کاکا په ګانه دومره پیسې ورکړے چې دَ بیعے نه کمې نه وې ۔ دَ کلی خلق چې دَ هغۀ دَ ګانے نه خبر شو نو یو کس ورته په ډله کښې اووے "چل ولی کاکا چې ګانه دے اخستل نو بیعه به دے اخستی وو"؟ چل ولی کاکا په وخکی کښې اوخاندل او هغه ته یې اووے ، "په چل ولِ مِ ترینه ګانه واخستل او په چل ول به یې ترینه بیعه واخلم"۔ دَ چل ولی کاکا دغه خبره په هغه ساعت ذوالفقار خان ته اورسیده ۔ تربور بیا هم تربور وی ۔ په خپلو کښې چې هر څۀ کوی خو دَ هغه خلاف پردی سپکه نشی برداشت کولے ۔ په هغه دَ چل ولی کاکا خبره بده اولګیده او بالخصوص دَ چل ول ټکې ۔ اګر چه دغه ټکې په عامو خبرو کښې چاته بد نه ښکاریدو خو ځینې کسانو دَ هغه خبرے له بل رنګ ورکړو ۔ دَ هغه سم دمه خبره یې خرابه کړه او دَ هغے معنیٰ یې الټه کړه ۔ بیائے پکښې تر هغے ګوتے وهلے چې دَ ذوالفقار خان دَ غصے پاره یې دَ هغه سر ته اوخیژوله او هغه چل ولی کاکا ته په زړۀ کښې واچوله ۔

دَ چل ولی کاکا خپل کور اګر چې لوے وو خو دَ هغه کورنۍ ډیره ګڼه وه او ټولو ته په دغه کور کښې اوسیدل ګران وو ۔ هغه په زړه کښې اووے چې دَ سیف علی خان کور ته به کډه یوسی ۔ دَ حجرے دیوال به



www.pukhto.net



دَ مینځ نه اوباسی او کور او حجره دواړه به یو انګڼ شی ۔ هغۀ لا هلته دَ کډے اوړو بندوبست کوو چې ذوالفقار خان پرے مخکښې شو او دَ هغۀ کور او حجرے دواړو ته یې خپلې جرندے واچولے او هغه له یې دا پیغام اولیږو چې "که په دے طرف راغلے نو خپې به درباندے ماتے کړم "۔ دَ چل ولی کاکا ځامن ، رونړه او اوریرونه چی خبر شو نو هغوی ټوپکې راواخستې خو چل ولی کاکا ورمخکښې شو ۔ دَ هغوی نه ټوپکې واخستې ، کور یې کینښودې او هغوی ته یې اووے "تاسو نه پو هیږئ ، دا دَ مرګ ژوبلے کار نه دے ، دا چل ول غواړی او دا به په چل ول فیصله کوو"۔ دے سره هغه دوه جرندے واخستے ، یوه یې دَ کور دروازے ته دَ ذوالفقار خان دَ جرندے دَ پاسه واچوله او بله یې دَ حجرے دروازے ته ۔ دَ دواړو طرفه دَ خولو ډزے کیدے او لوګی او دوړے الوتے خو لا دَ ټوپکو ډزے نه وې شروع شوے او قریبه وه چې دَ ټوپکو ډزے هم شروع شوے وی او مرګ ژوبله هم پکښې شوے وے خو چل ولی کاکا دَ چل ول نه کار واخستو او دَ ذوالفقار خان خلاف یې عدالت کښې کیس داخل کړو ۔ کیس دَ فوجدارۍ نه دیوانی شو او مقدمه شروع شوه ۔ لوے لوے وکیلان به پیش کیدل خو چې دَ یو فریق وکیل به حاضر شو نو دَ بل فریق به حاضر نشو ۔ کیس پوره پنځه کاله سیول جج سره اوچلیدو ۔ په شپږم کال دَ ذوالفقار خان په حق کښې فیصله شو ۔ ذوالفقار خان چی کیس اوګټو نو هغۀ اودَ هغۀ ځامنو په کلی کښې دَ خوشحالۍ ډزے شروع کړے ۔ دَ ټولو ټوپکو

خولے دَ چل ولی کاکا کور ته وې ۔ ګولی به دَ هغۀ په کور تیریدے او دَ هغۀ دَ کور دَ توت اونے نه به څانګے راپریوتے ، خو هغۀ یا دَ هغۀ رونړو هیڅ اونه وې ۔ البته بله ورځ چل ولی کاکا لاړو او په سیشن کورټ کښې دَ سیول جج دَ فیصلے خلاف اپیل اوکړو ۔ په سیشن کورټ کښې مقدمه شروع شوه او پوره درے کاله اوچلیده ۔ دَ څلورم کال په سر ، سیشن کورټ دغه کیس سیول جج ته واپس اولیږو ۔ څلور کاله سیول جج سره اوچلیدو او په اخره کښې فیصله دَ چل ولی کاکا په حق کښې اوشوه ۔ دَ کیس ګټلو په خوشحالی کښې دَ چل ولی کاکا ځامنو ، رونړو او وریرونه هغه باړونه اوچلول چې دَ لارے ، کوڅے ماشومانو دَ یرے نه کورونو ته منډے کړے ۔ دَ هغوی ټولے ګولی دَ ذوالفقار خان دَ کور او حجرے دَ پاسه تیریدے او شنیدے ۔ دَ ذوالفقار خان په حجره کښې دَ ولاړ لاچی یوه غټه څانګه هم اولګیده ۔ دَ هغوی سرونو ته خیر شو خو څانګه راپریوته . . . په صبا ذوالفقار خان لاړو او په سیشن کورټ کښې یې اپیل اوکړو ۔ یو کال پس سیشن کورټ دغه کیس سینر سیول جج ته اولیږو او دَ باقاعده انکوائرۍ حکم یې ورکړو ۔ شپږ میاشتې پس هغۀ دَ ځینې تکنیکی اوکلریکل غلطو په وجه دغه کیس سیول جج ته واپس اولیږو ۔ دا کیس لا سیول جج سره چلیدو چې ذوالفقار خان دَ سیف علی خان دَ ښځے یاسمین بی بی دَ پنځوست جریبه دَ مهر په زمکه دَ چل ولی کاکا خلاف بل کیس داخل کړو چې دَ هغے انتقال چل ولی کاکا پسې نه وو شوے



www.pukhto.net



البته په سپین کاغذ دَ سیف علی خان دستخط شوے وو، چل ولی کاکا داسے ګیر شو چې چل ول دواړه ترینه خطا شو خو دَ وکیلانو په ډاډ دَ هغه خپې مضبوطے شوے ۔ دواړه فریقه به دَ دواړو کیسونو پیشۍ له ډلے ډلے تلل ، تکے ، کباب او غوړے زیړے به خوړلے کیدے او دَ هار، جیت نه بغیر به دواړه راتلل ۔ ذوالفقار خان چې تیارے روپۍ ختمے کړے نو دَ یو بینک نه یې په زمکه په لاکهونو روپۍ راواخستے ۔ اوس دَ هغۀ زړۀ مضبوط او خپې کلکے شوے ۔ په ملک کښې دَ ګرانۍ دَ طوفان راتلو سره دَ وکیلانو په فیسونو کښې هم اضافه شوے وه ۔ چې د وکیلانو زړے بقایے یې ختمے کړے نو دَ نوے کیس او دَ نوکرانو او ټوپک مارو دَ خرچے دَ پاره یې په لاکهو روپۍ دَ بل بینک نه راواخستې ۔ په دغه کښې ترینه ، پټواریانو او تحصیلدار هم خپلې خپلې برخے واخستے او اردلیانو ، چپړاسانو هم ۔ بهرحال ذوالفقار خان په دے اړه نه لرلۀ ۔ هغه خپل غیرت اخستے وو او په هر حالت کښې یې خپله پښتو تر سره کول غوښتل ۔ په یو موقعه کښې هغه په ډکه حجره کښې اووے ۔ "زۀ به دوی سلامی کوم او دَ کلی نه به یې شړم ۔ دا خوشے خلق زمونږ په ډوډۍ لوے شول او اوس مونږ ته خپې وهی "؟

په کلی کښې دَ تاویلی ماویلی لوګے ختو چې دَ "ګورم به ورسره" په لمن وهلو دغه لوګې په یو برق لمبه شو او ډزے شروع شوے ۔ دَ چل ولی کاکا دوه رونړه یو ځوې او دوه وریرونه او دَ ذوالفقار خان دوه زلمی

ځامن او دوه سرې په رومبو ډزو کښې لاړل مړهٔ شول ۔ دَ چل ولی کاکا ځامنو او رونړو هم کډې پورته کړې علاقه غیر ته لاړل او ذوالفقارخان هم سره دَ ځامنو علاقه غیر ته لاړو ۔ دواړه ډلې به فصل په فصل راکوزیدې او دَ یو بل فصلونه به یې ریبل او تالا کول ۔ هن چې دَ دواړو فریقو زمکې شاړې شوې ۔ دې نه پس په یوه بله مقابله کښې چل ولی کاکا هم لاړو او دوه رونړه او درې اوریرونه یې هم لاړل ۔ دغه شان ذوالفقار خان سره دَ دوو ځامنو دَ مینځ نه اووتو ۔ دَ هغه په اولاد کښې یو دَ هغهٔ کشر ځوې وقار خان او یو دَ هغهٔ لور مریم پاتې شوه۔ دَ ذوالفقار خان کورنۍ هم تباه شوه او دَ چل ولی کاکا کورنۍ هم ۔ مقدمې په سر پاتې شوې ۔ زمکې یې شاړې شوې او پردۍ مزدورۍ ته کیناستل ۔

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## شپږم باب

ثنا په "پاکستان کرکټ ټیم آف سپیشل ویمن انډر نائنټین" کښې دَ کپتانې په حیث منتخب شوې وه او دَ ټیسټ سیریز دَ پاره سارک ملکونو ته تلې وه ۔ دَ هغې په خواهش انیله هم دَ یوې خدمتګارې په حیث هغې سره تلې وه ۔ دا دوره څو څو میاشتې جاري وه او په هره دوره کښې ورسره انیله موجود وه ۔ دَ دورې شروع دَ بنګله دیش نه اوشوه دا مقابله دَ وړو وړو ښارونو نه شروع شوه او په هر ښار کښې به یوه یوه مقابله کیده ۔ دَ بنګله دیش ټیم اناړی وو او دَ مقابلې نه داسې معلومیده چې پاکستانی ټیم هغوی سره مقابله نه کوی بلکه دَ هغوی کوچنګ کوی ۔ په وړو ښارونو کښې ټولې مقابلې پاکستانی ټیم اوګټلې ۔ دَ هرې مقابلې په اخره کښې به دَ کپتانې په حیث هغې دَ خپل ټیم له خوا انټرویو ورکوله او دَ خپلې کامیابۍ اعزاز به یې شایان ته ورکوو ۔ دې نه پس لوبه لویو لویو ښارونو ته لاړه او دَ چټاګانګ نه شروع اوشوه ۔ په چټاګانګ کښې دَ مقابلې دَ پاره لوې انتظام او اهتمام شوې وو۔ دَ لوبې نه مخکښې ثنا دَ خپل ټیم نه ډیره مطمئنه وه ، خو چې لوبه شروع شوه نو دَ پاکستانی ټیم کارکردګی تسلی بخش نه وه ۔ نه یې بالنګ صحی وو ، نه بیټنګ او نه فیلډنګ ، دَ ټیم نه علاوه ثنا هم دَ یوې کپتانې په حیث دَ ښهٔ کارکردګۍ مظاهره اونه کړه ۔ داسې معلومیده چې هغې له چا خپو کښې پړې اچولې دی او دَ مخکښې تلو په ځائې یې روستو راکاږی ۔

چی لوبه ختمه شوه نو دَ چټاګانګ سیریز پاکستانی ټیم بائیلو ۔ ثنا چی کله دَ بیلات ووریدل نو لکه دَ ماشومانو په چغو چغو په ژړا شوه ۔ دَ معمول مطابق یې انټرویو هم ورنکړه او په ډیره غصه دَ خپل ټیم سره دَ ګرونډ نه اووته ۔ دَ ثنا هر سیریز به مشرخان او دَ هغهٔ پوره کورنۍ کتو۔ چی کله هغوی مقابله بائیله او ثنا ژړل نو دَ مشرخان او مشرے بی بی په سترګو کښې هم اوښکے راغلے ۔ دَ هوټل په کمره کښې هم ثنا ژړل ۔ انیله هغه په غیږ کښې نیولے وه او هغے له به یې تسلی ورکوله ۔ ماښام مشرخان هغے ته فون اوکړو۔ دَ هغے حال احوال یې معلوم کړو او هغے له یې تسلی ورکړه چې "هارجیت لوبے سره تړلی خیزونه دی ۔ کله به یو ګټې کله بل ۔ کله تاسو کله هغوی ۔ په دے باندے زړه مه خکته پورته کوه ۔ چې څنګه ته خپل جیت غواړے دغه رنګے هر ټیم او هر لوبغاړے خپل جیت غواړی"۔ چی دَ هغه خبرے او نصیحت ختم شو نو ثنا ورته اووے ، "دا خبره صحی ده ابو چې لوبه کښې هارجیت راځی ۔ زهٔ دَ لوبے په بیلات خفه نه یم ابو...ابو زهٔ خفه په دے یم چې د دے سیریز اعزاز نه شایان ولے محروم شو ۔ داسے معلومیږی چې هغه خداې مهٔ که چرته لوبے مصیبت کښې ګیر دے او زمانه زیات ورسره دَ خپل ځان فکر ملګرے شوے وی ...داسے هم کیدیشی چې زهٔ دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه اوتے یم ګینې دے نه مخکښے به چې ما بالنګ یا بیټنګ کوو نو هغه به لکه دَ کوچ باقاعده هدایات راکول ۔ ما به دَ هغهٔ په هدایاتو عمل کوو او هر څهٔ به


www.pukhto.net



تیک ټاک وو خو په دے مقابله کښې نه هغه راغی او نه دَ هغهٔ اواز... (ژاړی) ....دا ولے ابو ؟ داسے معلومیږی چی هغه زمانه خفه ... شوے ...دے"۔ دے سره موبائیل دَ هغے دَ لاس نه په فرش پریوځی ۔ او چی انیله یې دَ نیولو کوشش کوی نو هغه په فرش باندے دانه وانه پروت وی ۔ هلته مشره بی بی چې دَ مشرخان اوښکو ته اوګوری نو هغه هم په ژړا شی ۔ مشرخان په خوله هیڅ اونه وائی ، خپلې اوښکے اوچے کړی او بهر اوځی ۔

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★

Pukhto.Net

## اووم باب

دَ کمانډر صیب په دفتر کښې دَ مجلس شورىٰ ممبران او صدر صیب ناست وو ۔ لږه شیبه پس جانو بابا هم حاضر کړے شو او شایان هم راوستے شو ۔ کمانډر صیب په لنډو ټکو کښې دَ شورىٰ ممبرانو او صدر صیب سره دَ شایان تعارف اوکړو او دَ هغهٔ دَ کیسونو په باره کښې یې هغوی سره خبرے اوکړے بیا یې دَ جانو بابا متعلق یو څو خبرے اوکړے او په اخره کښې یې ورته اووې چې ، "صدر صیب له خپل بیان ورکړه "۔

جانو بابا:۔ صدرصیب ، خبره دا ده چې دا هلک دَ پاکستانی حکام له خوا مفرور هم دے او هغوی ته مطلوب هم دے ۔ دے چې زما په حجره راننوتو او مانه یې پناه اوغوښتله نو د دے علاقے دَ دود ، دستور او رېوایاتو مطابق مادهٔ له دَ یو پښتون په حیث پناه ورکړه ۔ دهٔ له م چائے ډوډۍ هم ورکړه او شپه هم ۔ دے نه علاوه دے لوڅ ، لغړ راغلے وو، ما ورله خپله ټوپۍ ، پټکې او څادر هم ورکړو ۔ خو دهٔ ماسره څهٔ اوکړل صیب ؟ زما جینۍ ته یې په بدو سترګو اوکتل ۔ دے نه پس م په زړهٔ اوخوړه چې دے ډیر نمک حرامه انسان دے ۔ پاکستانی حکام سره م د دهٔ دَورکولو خبره اوکړه ۔ هغوی ماته دَ پنځه لاکهه روپو انعام لافه اوکړه ۔ دوه نیم لاکهه روپۍ یې نغدی راکړے او دوه نیم لاکهه به د دهٔ دَ ورکولو نه پس راکوی ۔ ماکمانډر صیب سره خبره اوکړه او ورته م اووې چې نیمے ستا ، نیمے زما ۔ دهٔ له م ترینه خپلې دوه نیم لاکهه



www.pukhto.net



روپۍ ورکړې او دوه نیم لاکهه لا پاتی دی ۔ دا خبره ده صیب ۔

صدر صیب :۔ ته څهٔ وائی کمانډر صیب ؟

کمانډر صیب :۔ دا جانو بابا عادی مجرم دے ۔ دے نه مخکښے دهٔ دوه داسے جرمونه کړی دی او دا یې دریم جرم دے ۔ په رومبۍ ځل یې دَ جهاد په نوم دَ پیښور نه دوه کسان راوستل ۔ کلاشن کوفے یې ترینه هم واخستې او هغه مجاهدین خواران یې افغان حکام ته حواله کړل ۔ هغوی مجرمان ثابت شو ۔ دَ هغوی تصویرونه او بیانونه په ټی وی کښې هم راغلل ، په اخبارونو مجلو کښې هم او په اشنا ریډیو باندے دَ هغوی انټرویو هم راغله ۔ هغه دواړه خوارانو ته دَ پنځویشت ، پنځویشت کالو سزا ورکړے شوه او لا تر اوسه جیل کښې پراته دی ۔ چې زهٔ او زما ملګری دَ صورتِ حال نه خبر شو او دَ دهٔ نه مو تپوس اوکړو نو دَ ډیر کوشش نه پس دے اعترافِ جرم اوکړو او دا یې تسلیم کړه چې ده دَ هغوی جیبونه هم تش کړی دی ، دَ هغوی نه یې کلاشن کوفے هم اخستے دی او دَ افغان حکومت نه یې انعام هم اخستے دې ۔ د دغه کیس په باره کښې مَا دَ شورىٰ اجلاس را اوغوښتو او تاسو ټولو دا فیصله اوکړه چې دَ ده نه دے کلاشن کوفے او دَ انعام رقم واخستې شی او دَ سزا په طور دے ورله کور اوسوزولے شی ۔ مونږ ستاسو دَ فیصلے مطابق ستاسو په حکم عمل اوکړو او د دهٔ کور مو اوسیزو۔

دَ شورىٰ ممبر:۔ دهٔ له مو دَ بیا دَ پاره تنبیه ورکړے وه ۔

کمانډر صیب:۔ بالکل صیب ، ده له مو تنبیه هم ورکړه او د دهٔ نه مو

ښه پخه وعده هم واخسته ۔

صدرصیب:۔ ښه بیا څۀ اوشو ۔

کمانډر صیب:۔ په دویم ځل یې دَ مردان دَ علاقې نه دَ جهاد او مالِ غنیمت په بهانه دوه دَ مدرسې طالبان خواران راوستل او هغوی سره یې هم دغسې کار اوکړو ۔ دَ هغې دَ پاره ما بیا دَ شورئ اجلاس را اوغوښتو او تاسو دَ مخکښې غوندې دَ سزا ورکولو حکم اوکړو۔ دَ انعام روپۍ او کلاشن کوفې مو ترینه واخستې او کور مو ورله اوسوزه وو ۔

دَ شورئ دویم ممبر :۔ دَ کور سره مو دې ولې اونه سیزو ؟

کمانډر صیب:۔ د دې د سیزلو حکم تاسو نه وو کړے ...اوس په دریم ځل یې دا کار کړے دے ۔ چې په دې هلک ، شایان باندې یې خپله لور توره کړه او په دې بهانه یې پاکستانی حکام سره په پنځه لاکهه روپۍ خبره اوکړه ۔ دوه نیم لاکهه یې واخستې او نورے لا پاتې دی ۔

صدر صیب:۔ که ستا خوښخه وی نو د دې کیس خبره به روستو کړو او مخکښې به دَ بهتان په خبره بحث اوکړو ۔ دَ شورئ ممبرانو ته دَ اظهارِ رائے اجازت دے ۔

دَ شورئ ممبر 1 :۔ جناب صدر صیب تاسو ډیره ښه خبره اوکړه خو معافی غواړم په دې باره کښې دَ هلک او جینۍ بیانونه هم اوریدل پکار دی ۔

دَ شورئ ممبر نمبر2 :۔ جناب صدر صیب ، دیکښې دَ گواۀ هم ضرورت پیښې دے شی ۔



www.pukhto.net



دَ شورئ ممبر نمبر3 :۔ جناب صدر صیب ، د هلک دَ بیان سره سره دَ جینۍ دَ بیان هم ضرورت دے ۔

کمانډر صیب :۔ هغه به اوشی ۔ تاسو مخکښې دَ هلک نه بیان واخلئ۔

صدر صیب:۔ ( شایان ته ) ښۀ بچے تۀ په خپله صفائی کښې څۀ وائے۔

شایان:۔ نه جی داسې نه ده ۔ زۀ خو په دغه ساعت ده سره حجرے ته راغلم او دۀ په کوټه کښې کینولم ۔ ماله یې ټوپۍ ، پټکی او څادر راکړو ۔ ما ټوپۍ او پټکی په سر اوتړلو او څادر مې دَ ځان نه کلک تاؤ کړو څکه چې یخنی مې شوے وه ۔ دۀ نه مې اجازت واخستو او چې دَ کوټې نه اووتم نو ده وې اودریږه زلمیه ۔ زۀ هم په هغه ځائے ، برنډه کښې اودریدم او دۀ سره مې خبرے کولے چې په دیکښې دَ واخو پنډ په سر دَ حجرے په گیټ ځوک رادننه شو ۔ ما چې ورته اوکتل نو هغه ځوک زنانه وه ، ما ترینه مخ واړه وو او هغې ته مې شا کړه ۔

جانو بابا ( دَ هغه په خبره کښې رادانگی ) "تا هله شا کړه چې مادرته سترگے برندے کړے ۔ ستا سترگے کاسیرے دی ۔ زۀ سړے پیژنم ۔ تانه سترگے ویستل پکار دی ۔

کمانډرصیب:۔ جانو بابا ، دَ بل په خبره کښې مۀ رادانگه۔ دَ خپل وار انتظار کوه ۔

جانو بابا:۔ نه صیب دا خبره نه ده ۔ دا دومره نمک حرامه دے چې اوږے ، ترږے لوڅ لغړ راغلے وو۔ مادۀ له چائے ، ډوډۍ ورکړه ، شپه مې ورکړه ۔ ټوپۍ ، پټکی او څادر مې ورکړواو.....

شایان دَ سر نه ټوپۍ ، پټکۍ او دَ اوږې نه څادر کوزه وی ، هغه ته یې وراولی او وائی " واخله دا خپل پټکی ، ټوپۍ او څادر دې چی ستا دَ پیغور نه خلاص شم او څۀ احسان دې راباندې پاتې نشی ( جانوبابا، ټوپۍ ، پټکې او څادر په غیږ کښې نیسی )

جانو بابا:۔ او چاې ، ډوډۍ او شپه ؟

کماندر صیب :۔ ډیرې بې پښتو خبرې کوې او ډیر بې پښتو کاردې اوکړو ۔

جانو بابا:۔ دۀ سره به زۀ ګورم خو چې یو ځل د دې ځاې نه اوځم ۔

صدر صیب(خاندی) "که اوځې هله "۔ ( هغه سره ټول ممبران هم خاندی )۔

کماندرصیب:۔ چپ شه جانوبابا ۔ که خوله دې پریکړه نورنګه به دې بده کړم ۔ تاخو دَ حیانه خبره اوویستله ۔

جانوبابا:۔ معافی غواړم صیب ۔ زۀ پو هـ نشوم ۔

صدرصیب:۔ ښه شایانه ، دې نه معلومه شوه چې تا د دۀ جینۍ ته کتلی دی خو مخ دې ترینه اړولے دې ۔ دا شرعی طور سره هیڅ ګناه نه ده ( جانوباباته ) ښه جانو بابا دا جینۍ تا چاله ورکړې ده ؟

جانوبابا:۔ نه صیب هیچا له مِ نه ده ورکړې ۔

صدرصیب:۔ دا خو تا دَ خپله لاسه توره کړه ۔ تاخو د دې ټول ژوند خراب کړو ۔ دا غریبه به اوس څوک اوکړی ؟

جانوبابا ( شایان ته ګوته نیسی ) " دا دَ دۀ د لاسه "۔



www.pukhto.net



دَ شوری ممبر 2 :۔ جناب صدر صیب معافی غواړم ۔ یوه خبره کیدیشی او په دیکښې دَ دواړو خیر دې ۔ زما مقصد دا دې چې دغه جینۍ هم دې هلک ته په نکاح شی ۔

جانو بابا:۔ واه عجیبه خبره ده مړ هم مامدزې او پړ هم مامدزې ۔

صدرصیب:۔ دَ جینۍ نه به تپوس اوکړو که دَ هغې مرضی وی نو بیا دَ دۀ اجازت ضرورت نشته ۔

کماندرصیب:۔ دَ جینۍ او دَ هغې دَ مور نه ماتپوس کړې دې هغوی دواړه صلاح دی ۔

جانو بابا:۔ ښه ښه نو لکه دا خبره ده ۔ هغوی دواړه یوه خوله شوی دی

کماندرصیب:۔ تاسو دَ شایان مرضۍ معلومه نه کړه صیب ۔

صدرصیب:۔ هم دۀ له راځم . ښه شایانه ۔ تاخو به جینۍ لیدلی وی : ستا خوښه ده ؟

شایان:۔ قسم درته خورم صیب ، چی ما دَ هغې مخ نه دې لیدلے ۔ صرف پټ مخ مِ لیدلے دہ ۔

صدر صیب :۔ بچې که تا لیدلے ده او که نه ده لیدلے خو خپل پلار په تا توره کړه ۔ دغه توره به اوس تۀ سپینه وی تانه بغیر هغې سره بل سړې وادۀ نشی کولے ۔ که ستا خوښه ده او که ناخوښه ده خو دا قربانی به اوس ورکوې ۔ په دې کښې ستاسو او زمونږ دَ ټولو خیر دې ۔ جانو بابا ستاخو پرې اعتراض نشته ؟

جانوبابا:۔ که مِ دا دواړه ټکړې ټکړې نه کړل او سپو ته مِ وانه چول نو

زما نوم به جانو نه وی ۔

کمانډرصیب:۔ صیب ده سره څۀ اوکړو ۔ د دۀ ارادے خو ډیرے خطرناکے دی ۔

صدرصیب:۔ ترڅو چی زما خیال دے ، دلته دَ شایان خپل کور نشته؟

کمانډرصیب:۔ هاؤ صیب۔ دلته دَ شایان خپل کور نشته ۔

صدرصیب:۔ دَ جانو بابا کور کښې به دَ شایان وادۀ اوشی او دۀ له دے هم هغه سزا ورکړے شی کومه چی دے شایان او دغه جینۍ له ورکول غواړی ۔ یعنی د دۀ سردے قلم کړے شی او د دۀ غوږنے دی سپو ته واچولے شی څکه چی دۀ خپل وطن او دَ وطن مجاهدینو سره غداری کړے ده ۔

جانوبابا:۔ نه صیب نه ۔ دا ظلم دے ۔ دا زیاتے دے ۔

کمانډر صیب ( ګارډ ته ) "هلکه دے بندی خانے ته بوځه"

جانوبابا:۔ په خدایې به شی او په تاسو به شی ...دا خو زما بچے دے او هغه مِ لور ده ۔ ګارډ هغه دَ څټ نه نیسی او بندی خانے ته یې بوځی۔

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## اتهم باب

دَ یو څوورځو ارام نه پس دَ هغوی اخری سیریز په ډهاکه کښې شروع شو ۔ د دے سیریزی اهتمام دَ نورو په مقابله کښې ډیر اوچت وو۔ دَ ثنا تصویرونه دَ بنګله دیش په لویو اخبارونو او مجلو کښې راغلی وو۔ دَ هغے خصوصی ایډیشنې ویستلے شوے وې او په هر فوز کښې دَ هغے تصویرونه ویستلی شوی وو۔ دَ مختلف مجلو په رومبی مخ دَ هغے دغه دلکش او دلاویز تصویرونه لګیدلی دَ هغے انټرویوز شائع شوے وی او دَ هغے دَ حسن او حسنِ کارکردګی قیصے په هر ښار کښې کیدے او اورولے کیدے خو خلق پرے نه مړیدل ۔ دے آخری سیریز له دَ ملک دَ ګوټ ګوټ نه دَ کرکټ شوقیان راغلی وو ۔ کالم نګارانو پرے کالمونه او شاعرانو پرے دَ "دخترِ مشرق" دَ سرخط لاندے نظمونه لیکلی وو۔

د دے آخری سیریز ګټولو د پاره مشرخان او مشرے بی بی هغے ته دَ دعا دَ پاره څو څو شپې رونې کړے وې ۔ دغه شانے دَ هغے رونړو ، ښځو او دَ هغوی بال بچ هم هغے ته ډیرے دعاګانے کولے ۔ مشرخان څلور خوارۀ دیګونه پاخۀ کړل او په ټول کلی کښې اوویشل ۔ دا سیریز پاکستانی ټیم ډیر زبردست اوکړو ۔ دَ زبردستې کارکردګی مظاهره یې اوکړه ۔ پاکستانی ټیم ډیر اوچت سکور اوکړو ۔ بنګالی ټیم دَ هغوی نیمې لا هم نه وورسیدلے چی ټول آؤټ شو۔ دَ سیریز په ګټلو ثنا ډیره خوشحاله وه ۔ په انټرویو کښې هغے د دے سیریز دَ کامیابۍ اعزاز شایان له ورکړو ۔ دَ انټرویو په اخره کښې انټرویور دَ هغے نه تپوس



Pukhto.Net

اوکړو "مس ثنا دا شایان څوک دے چې دَ هرے ګټې اعزاز هغه له ورکوے ؟

ثنا:۔ شایان زما ذاتی کوچ دے۔ دَ هغهٔ په خوارۍ او محنت زهٔ دے مقام ته را اورسیدم ۔

انټرویور:۔ دَ ذاتی کوچ نه ستا څه مراد دے ؟ زما مطلب چې هغه سره څهٔ نوره رشته یا تعلق ؟

دے سره هغه په خندا شوه ، هغه له یې هیڅ جواب ورنکړو او روانه شوه ۔ هغه لا خپلې کمرے ته نه وه رسیدلے چې دَ هرے خوا ورته مبارکۍ شروع شوے ۔ په دے مبارکو کښې دَ مشرخان او مشرے بی بی نه علاوه دَ هغه رونړه ، اوروندارے دَ هغے مشره خور مریم او دَ کورنۍ واړه ، ماشومان ټول شامل وو البته دَ شایان له خوا ورته دَ مبارکۍ هیڅ پیغام ملاؤ نشو ۔ د دے سیریز ګټلو نه پس هغوی هندوستان ته لاړل ۔ دَ هندوستان نوے نسل دَ فلم او کرکټ ډیر شوقیان دی ۔ دَ هغوی دَ شوق پوره کول دَ پاره دَ هندوستان حکومت په هر لوے ښار کښې دَ هغوی دَ پاره دَ کرکټ اهتمام کړے وو ۔ دَ کرکټ شروع دَ حیدر آباد دکن نه اوشوه او په دهلی یې خاتمه اوشوه ۔ په شپږو کښې دوه مقابلے دَ انډیا ټیم اوګټلې او څلورم پاکستانی ټیم ۔ د دے سیریز ګټلو نه پس هغوی بهوټان ته لاړل ۔ دَ هغوی ټیم ډیر کمزورے وو۔ او ټول سیریز پاکستان اوګټلو ۔ دے نه پس هغوی دَ سارک نورو ملکونو ته تلل غوښتل خو هغوی سره دا قسمه ټیم موجود نه وو۔ دے دَ پاره هغوی



www.pukhto.net



دغه ملکونو ته دَ تلو پروګرام کینسل کړو او پاکستان ته یې دَ تلو تیارے کوو چې دَ صدرِ پاکستان له خوا ورته دَ یورپ د ټور خوشخبری ورکړے شوه ۔ دا پیشکش هغوی ډیر په خوشحالۍ سره قبول کړو او ټول دَ یورپ په سیل روان شو۔

## دویمه برخه

سیف علی خان او یاسمین بی بی دَ ثنا دَ یورپ دَ دورے نه خبر شو خو دَ مودو مودو راسے اورک دَ خپل څوی دحال احوال نه خبر نشو ۔ یاسمین بی بی به چې کله دَ بدرۍ په خوله دَ مشرخان نه دَ شایان په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه به جواب ورکړو " دعا ورته کوه خدائے به خیر کړی "۔ دے نه علاوه هغه چاله دَ چا دَ یوے خبرے جواب هم نه دے ورکړے ۔ بهرحال هغه خپل کوشش جاری ساتلے وو۔ وقاص خان هم ترقی کړے وه او دَ میجر نه کرنل جوړ شوے وو۔ دغه شان د الطاف خان هم ترقی کړے وه او دَ سنیر سیول جج نه سیشن جج شوے وو۔ مشرخان خپلو ټولو ځامنو سره رابطے ساتلے او ورځ تر مینځه به یې ترینه دَ شایان پوښتنه کوله ۔ مشرخان که یو خوا دَ ثنا په کامیابۍ په جامو کښې نه ځائیدو نو بل خوا دَ شایان په وجه په اغوستو جامو تنګ وو۔ چې کله به یوائے شو نو هغه به ورته مخے ته اودریدو۔ دَ هغهٔ ماشوم والے ، دَ هغهٔ دَ ماشوموالی ساده خبرے ، دَ هغه منړے تړے ، دَ هغهٔ په خپو ، لاسونو ، سر او اوږو به یې په وړو وړو لاسونو زور کوو او چې ستړے به شو نو هغه به ورته وے بس بچے بس ۔ هغه

به ستړےوو خو دَ هغهٔ دَ زړهٔ د پاره به يې وے - لږ نور نو بيا بس"- دے سره به هغه مسکے شو دَ هغه مسکا سره به مشرخان هم مسکے شو او په دواړه مخه به يې هغه ښکل کړو - هغه دَ سيف علي خان ځوی وو خو سيف علي خان دومره مينه نه وه ورکړے لکه څومره چې مشرخان ورکړے وه - بيا به ورته دَ هغه هسکه ځوانی ، دَ هغه تابعداری او وفاداری رايادہ شوه - دا هر څهٔ به هغه دَ خيال په دنيا کښې ليدل خو چې په ظاهره به يې اونه ليدو نو په کټ کښې به بوړے بوړے پريوتو ، بے حسه ، بے حرکته او سترگے به يې دَ اوښکو نه ډکے شوے - ټول حيران وو چې دے هلک په مشرخان څهٔ جادو کړے دے چې دَ هغه دَ مينے جوړوالے او وچتوالے وار تر واره زياتيږی- مشره بی بی په خپلو کړو پښيمانه وه - هغے ته ځان ډير ملامته ښکاريدو- هم دغه وجه وه چې هغه به دَ مشرخان مخے له ډيره نه راتله - هغهٔ هم دَ هغے نه ، نه څهٔ مشوره اخسته او نه يې ورکوله - دواړه په يو کور او په يوه کمره کښې دَ يو بل نه ډير لرے وو-

### دريمه برخه

مشرخان به دَ ناظر او نوکر په لاس دَ سيف علي خان دَ علاج دَ پاره پيسے ليږلے خو کله نه چې شايان تختيدلے وو دَ هغے نه پس يې هغه سره سترگے نشوے لگولے ، هڅ چې دَ شرمه دَ هغهٔ پوښتنے له هم نشو ورتلے - سيف علي خان هم دَ هغهٔ نه گيله نه کوله ځکه چې هغه او ياسمين بی بی دواړو ته پته وه چې هغه دَ شايان په وجه پريشان دے ،


www.pukhto.net



ياسمين بی بی به دَ زړهٔ براس پټ په پټه په اوښکو او اسويلو ويستلو خو سيف علي خان دَ اسويلو نه هم پاتے وو- دَ هغه بيماری ورځ په ورځ زياتيده صحت يې وار تر واره غورځيدو او گونه يې زيړيده - يو لاش په کټ کښې پروت وو- مخامخ ورته به يې کتل او دَ شايان دَ راتلو لار يې سارله - چې کله يې دَ ژوند پاڼه په رجيدو شوه نو ياسمين بی بی ته يې اووے "ياسمين زما دَ تلو هيڅ پته نه لگی - زما نه مه خوځه"- ياسمين بی بی چې دا ووريدل نو زړهٔ يې اوخويدو خو دَ هغهٔ دَ خاطره مسکی شوه او ورته يې اووئيل "تا دے خداې هيڅ نه کوی دَ شايان پلاره - ته به ژوندے يې زما دَ پاره ، دَ خپل ځوی شايان دَ پاره ، او دَ هغه دَ ناوے دَ ليدو دَ پاره "- دَ هغے په تسلی سيف علي خان سترگې پټې کړے په پټو سترگو يې شايان ليدو او هغه سره يې خبرے کولے - مشرخان ، مشرے بی بی او دَ کور نورو خدمتگارو ته دا پته نه وه چې ياسمين بی بی دَ شايان مور دهٔ - چې دوه ورځے پرله پسې مشرے بی بی کره لانه رهٔ نو هغے ورپسې بدری را اوليږله - بدری چې دَ سيف علي خان حالت ته اوکتل نو هغے سره يې غم رازی اوکړه او چپه خوله واپس لاړه البته چې کور ته اورسيده نو مشرے بی بی ته يې ټول حال اووے - مشرے بی بی بدری ځان سره کړه او دَ سيف علي خان پوښتنې له ورغله - دَ سيف علي خان دَ نازک حالت نه مشرخان هم خبر شو - هغه هم دَ هغهٔ پوښتنے له ورغی - دَ سيف علي خان په کور کښې دَ محلت او گوانډښځې راغونډے شوے وې او دَ قرآن شريف

ختم یې کوو۔ مشرخان چې کور ته ورغی۔ دَ هغه سر دَ یاسمین بی بی په غیږ کښې پروت وو۔ مشرخان سیف علی خان سره دَ کټ په لنګه کیناستو او ورته یې اووې ، "سیف علی څنګه یې "؟ سیف علی خان دَ هغه خبره وونه ریده ځکه چې هغه دَ ځنکدن په حالت کښې وو۔ سیف علی خان په ځنکدن کښې یاسمین بی بی ته اووې "دَ شایان مور...مورې ۔ شا..یان...را...نه غی...چې..چې...هغه...را.. راشی ...نو...نو...ورته او....اووایه...چې..چې ستا...په... پلار...دَ...شینکی...ډهیری...په...په..هدیره کښې...ستا.. ستاانتظار کوی "۔ دې سره یې وخکی اووهو او سترګی یې پټې شوې ۔ مشرخان ته په یو وخت درې غمونه مخکې شو۔ یو دَ سیف علی خان مرګ ، بل دَ شایان یاد او دریم غم او افسوس ورته په دې خبره اوشو چې دَ هغه خدمتګاره دَ سیف علی خان ښځه او دَ شایان مور ده ۔ بهرحال هغه دَ هغه قبر پسې خپل سړی دَ شینکی ډهیری هدیرې ته اولیږل ۔ دې نه علاوه یې خپلو رشته دارو ، یارانو دوستانو او پیژندګلو کسانو پسې خبراوکړو ۔ دې سره سره یې په خواؤ شاکلو کښې دَ جنازې اعلان له سړی اولیږل ۔ هلته په شینکی ډهیری او هغې سره په خواؤ شاکلو کښې هم دَ جنازې اعلانونه اوشو ۔ په صبا چې مړې شینکی ډهیری ته یوړې شو نو دَ کلی خلقو دَ مخکښې نه دَ هغه دَ کور او حجرې جرندې ماتې کړې وې۔ کټونه او کرسۍ پکښې اچولې وې او دَ میلمنو خدمت ته ولاړ وو۔



www.pukhto.net



مشرخان چې په حجره کښې کیناستو نو دَ دغه کلی یو سړې یې ځان سره کینوو او هغه ته یې پټ اووې " دا حجره خو دَ لاهوخان ده کنه؟ هغه ورته اووې " هاؤ خان جی دا حجره او کور یې لاپاتی دی ، په دې یې هم په ګانړه پیسې راخیستې دی خو لا بیعه یې خرڅ کړې نه دی۔

مشرخان :۔ هغه څۀ شو ۔ چرته دې نن صبا۔

سړے :۔ هغه خو درنه لاړو مړ شو۔

مشرخان:۔ کله مړ شو ۔ زه خو ترینه هډو خبر نه شوم ۔

سړے :۔ خان جی تاسو چې دَ چا جنازې له راغلے یې۔ دا لاهوخان وو کنه ۔

مشرخان خپل سر په دواړه لاسو کښې نیسی او وائی "اوه ، خدایه، دے نه پس هغه نور څۀ اونه وے خو سترګې ډکې شوې ۔ دَ سیف علی خان جنازې له ، دَ هغه ټول ځامن ، اینګیاندې ، دَ مشرخان خپل خپلوان د خواؤ شاکلو بانډو او دَ خان آباد ټول خلق لکه دَ مچ میږو راچلیدل ۔ او چې په لویه حجره او دَ کلی په جماتونو کښې ځائے نشو نو په لارو کوڅو کښې ولاړ وو۔ چې څوک به خبریدل نو هغه به راتلو خو شایان نه دَ پلار دَ مرګ نه خبر شو او نه دَ هغۀ جنازې له راغی ۔ دَ جنازې نه پس دَ مشرخان ځامن او اینګیاندې لاړې خو مشرخان او مشره بی بی د دریمې پورې دعا ته ناست وو۔ مشرخان ته دَ مړی په صبا اوویلے شو چې دَ لاهوخان کور او حجره چل ولی کاکا سره ګانړه دی ۔ او دَ هغه ټوله زمکه او دوکانونه هم هغه بیعه اخستی دی ۔ دَ



Pukhto.Net

چل ولی کاکا او ذوالفقارخان دَ مقدمو او دشمنۍ نه هم خبر شو ۔ په اخر کښې ورته دَ کلی خلقو دَ جرګې په طور دَ هغوی دَ روغې جوړې خواست اوکړو ۔ مشرخان یوه شیبه سوچ کوو بیا یې غاړه تازه کړه او وے وئیل " روغه به یې اوشی خو یو فریق به کلی پریږدی ځکه چې دَ هغوی پولے ، پټی یو بل سره لګیدلی دی ۔ هسے نه چې په پوله پټی یا په واله او لختی یو بل سره بیاونخلی او دغه پاتې کسان هم ورپسی لاړ شی ۔ خبره خو دَ مشرخان معقوله وه خو بیا هم ترینه دَ کلی یو مشر تپوس اوکړو "دا به څنګه روغه وی خان جی چی یو فریق به کلی پریږدی ځکه چې دَ دواړو فریقو په کلی کښې کورونه او زمکے دی "؟ ۔

مشرخان:۔ ماله یې چل راځی خو که هغوی روغے ته تیار وی او روغه کول غواړی هغوی ته اووایۍ چې ما اووینی "۔

دَ مړی په دریمه دَ ذوالفقارخان ځوے سره دَ ماماګانو راغی ، مشرخان ته یې دعا هم اوکړه او دَ جوړے خبره یې هم ورسره اوکړه ۔ په دغه ورځ مازیګر دَ چل ولی کاکا رونړه هم راغلل او هغوی هم ورسره خبره اوکړه چې دریمه ختمه شوه نو مشرخان ، مشره بی بی او یاسمین بی بی هغه ځان سره په ګاډی کښې کینول او خپل کور ته یې بوتله په خپل کور کښې یې دَ کونډے بی بی په حیث کینوله او لکه دَ خپلی خور به یې ورته کتل ۔

★★★★★



www.pukhto.net



## نهم باب

دَ پروګرام مطابق دَ پاکستانی کرکټ ټیم دوره دَ برطانیے نه شروع کیدونکے وه ۔ دے نه پس فرانس ، کینډا ، بلجیم او جرمنی وو ۔ په برطانیه کښې دَ پاکستان سفارت خانے ته دَ هغوی دَ ورتلو اطلاع ورکړے شوے وه او دَ سفارت خانے عمله دَ هغوی استقبال ته په لنډن ائر پورټ کښې ولاړه وه ۔ دَ هغوی نه علاوه دَ پاکستانی کمیونیټی ګڼ شمیره خلق او دَ کرکټ شوقیان ، نرښځے په ائر پورټ کښې دَ هغوی په انتظار وو ۔ چی کله هغوی دَ جهاز نه کوز شو نو دَ هغوی زبردست استقبال اوشو ۔ دَ سفارت خانے عملے هغوی ته ګل دستے پیش کړے او پاکستانی کمیونیټی هغوی ته دَ ګلونو سهرے واچولے ۔ دے سره سره اخباری نمائندګان رپورټران او کیمره مین هم راغلی وو او دَ هغوی دَ فوټو ګرافۍ یو کړچ کړوچ شروع وو ۔ یو اخباری رپورټر دَ ثنا نه دَ انټرویو اخسو دَ پاره رامخکښے شو او دَ هغے نه یې تپوس اوکړو " مس ثنا ستاسو ټیم دَ بنګله دیش او انډیا ټیمونو له په لوے سکور شکست ورکړو دَ یوے کپتنې په حیث ستا څهٔ احساسات دی "؟

ثنا:۔ زهٔ ډیره خوشحاله یم چې دَ یو کپتانے په حیث ما دَ خپل ټیم مشری اوکړه او زما په مشرۍ کښې مونږ له خدای کامیابی راکړه ۔ زهٔ دَ خپل ټیم هم ډیره مشکوره یم چی ټولو لوبغاړو په جائنټ ټیم ورک کښې دَ همت ، جرأت ، خلوص او نیک نیتۍ مظاهره اوکړه ۔

رپورټر:۔ یوکے (U.K) ته په راتلو باندے تاسو څنګه محسوسوی؟



Pukhto.Net

ثـنا:۔ اگر چه ماته خپل فینز(Fans ) او دَ کرکټ شائقین په سترگو نه ښکاری خو زه دَ هغوی دَ مینے ډک اوازونه او دَ جوش وخروش نعرے اورم ۔ دَ دوی دَ مینے اوخلوص احساس ماته کیږی ۔ د دوی دَ مینے په سوب مونږ ته خپل ځان ډیر اوچت ښکاری ۔ زهٔ ډیره خوشحاله یم چې دوی په مونږ کښې دَ سرلوړی احساس پیدا کړو ۔ زهٔ دَ خپل او دَ خپل تیم له خوا دَ پاکستانی سفارت خانے ، پاکستانی کمیونټی ، دَ کرکټ دَ شائقینو ، دَ پرنټ او الکټرانک میډیا ډیره مشکوره یم چې مونږ له یې زمونږ دَ توقع نه زیات عزت راکړو ۔

رپورټر:۔ مس ثنا:۔ ستا په کامیابی کښې لوې لاس دَ چا دے ؟

ثنا:۔ مونږ له کامیابی الله راکړے ده خو دے مقام ته دَ مور، پلار په دعا او دَ خپل کوچ شایان په خوارۍ او محنت رارسیدلے یم۔

رپورټر:۔ مس ثنا ، ستا په زړه څهٔ ارمان دے ؟

ثـنـا :۔ زمـا دَ ټولـو نـه لـوے ارمان دا دے چې دَ خپل ملک وقوم نوم روښانـه کـړم ۔ او دویم ارمانی مِ دا دے کاش زهٔ بیناوے او خپل محسن شایان مِ لیدلے وې ۔

رپورټر:۔ دَ شایان دَ لیدو نه مخکښے دَ دنیا لیدو ارمان نه کوے ؟

ثنا(خاندی) ما دَ پاره دَ هغهٔ شخصیت دنیا ده ۔

رپورټر :۔ دَ موجوده ترهه گرۍ او شرپسندۍ په حقله نوے کول له څهٔ پیغام ورکول غواړے ؟

ثـنـا :۔ نـوے کـول له زهٔ دَ همت ، جرأت ، دَ اعتدال پسندی او دَ مینے او



www.pukhto.net



خلوص پیغام ورکول غواړم او دا چې دنیا دَ مینے کور دے ، دیکښې دَ دنیا خلقو سره په مینه اوسیدل پکار دی ۔

دَ ثـنا مرکه په سترگه رپ کښې نشر شوه او ټولے دنیا ته په الکټرانک میډیا اورسیده ۔ دغه مرکه او بالخصوص دَ هغے ارمان پاکستانی حکام ته هم اورسیده ۔ هغه ایله هوټل او خپلې کمرے ته رسیدلے وه چې دَ صدر پاکستان له خوا پاکستانی هائی کمشنر ته اوویلے شو چې دَ ثنا ارمان دے په هر قیمت پوره کړی شی ۔ پاکستانی هائی کمشنر دَ ثنا نه پوره کوائف واخستل او دَ یو۔ کے (U.k) لویو لویو ډاکټرانو سره یې رابطے اوکړی ۔ چې کله ورته دَ هغوی له خوا گرین شگنل ورکړې شو نو بیا یې خپل کار شروع کړو ۔

Pukhto.Net

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★

## لسم باب

دَ چل ولی کاکا کورنۍ او دَ ذوالفقار ځوی دواړه فریقه دَ دشمنۍ نه پوزے لـه راغلی وو۔ دَ دواړو جانی او مالی لویه تباهی هم اوشوه او په علاقه غیر کښې دَ قبائلی ملکانو خدمتونه پرے لا تیرے وو۔ زمکے یې شاړے شوے ، ابادے مینې یې ورانے شوے او کومے چې پخې وې هغه نړیدلے وې او پیشوګانو پکښې لوپے کولے ۔ دَ ذوالفقار خان دَ ځوی وقار خان خو په کلی کښې عزیزان او تربوران وو نو چې کله به هغه سره دَ سړو لاندے راکوز شو نو خپلو خپلوانو سره به ئے څۀ شپې ورځے تیرے کړے خو دَ چل ولی کاکا په خپل کلی کښې څۀ نزدے عزیزان نه وو او کوم چې په رشته کښې ترینه لرے وو نو هغوی ترینه دَ دشمنۍ په اور کښې نور هم څنګ اوکړو ۔ دواړو فریقو مشرخان سره لیدل کړی وو خو کلې پریښودو ته یو هم تیار نه وو ۔ ځکه چی په کلی کښې دَ دواړو په سؤنو جریبه زمکه وه ۔ که چرے دَ زمکے خبره پکښې نه وه نو دَ چل ولی کاکا خیل به چرے هم دَ کلی نوم نه وو اخستې ۔ هم په دے سلسله کښې دَ چل ولی کاکا رونړه عیسیٰ خان او فدا ګل دواړه دَ مشرخان حجرے ته لاړل ۔ هغه ته یې دَ سیف علی خان په حق کښې یوه دعا بله هم اوکړه او دَ جوړے جاړے خبره یې هم ورسره اوکړه ۔ مشرخان دَ هغوی نه تپوس اوکړو "تاسو سره په شینکۍ ډهیرۍ کښې څومره زمکه ده "۔ مشرعیسیٰ خان وو خو فدا ګل دَ هغۀ نه په خبرو کښې چالاکه وو۔ دَ عیسیٰ خان په ځاے هغه



www.pukhto.net



جواب ورکړو "درے سوه جریبه "۔

مشرخان :۔ دَ سیف علی خان نه مو څومره زمکه بیعه اخستې ده؟

فداګل:۔ دوسوه جریبه زمکه ۔

مشرخان :۔ په دے دوه سوه جریبه کښې تاسو پسې دَ څومره زمکے انتقال دے ؟

فداګل :۔ دا ټوله مونږ سره بیعه ده خو دَ یو نیم سل جریبه انتقال شته دے او پنځویشت جریبه په سپین کاغذ بیعه ده ۔

مشرخان :۔ د دے پنځوست جریبه انتقال مو ځان پسې ولے اونه خیژوو

فداګل:۔ د دے انتقال نه ختو ۔ دا دَ بی بی دَ مهر زمکه ده ۔

مشرخان:۔ دا دَ مهر زمکه تاسو سره په قبضه ده ؟

فداګل :۔ مونږ سره په قبضه هم ده او دَ کاغذ لیکل هم شته ۔

مشرخان :۔ دَ سپین کاغذ لیکل هېو څه ثبوت نه دے او بیا دا خونه دے نه دے ځکه چی ترڅو زماخیال دے په دے باندے دَ سیف علی خان دَ بی بی دستخط یا ګوته نشته ۔

فدا ګل :۔ دَ هغے ګوته یا دستخط نشته خودَ هغے په ځاے سیف علی خان دستخط کړے دے ۔

مشرخان:۔ سیف علی خان د دغه زمکے مالک نه دے نو دَ هغه دستخط به عدالت کښې څنګه قابلِ قبول شی ۔ که دَ هغه بی بی یا دَ هغۀ ځوې په تاسو عدالت کښې دَ زبردستۍ دَ قبضے دعویٰ اوکړی نو بیا ؟

عیسیٰ خان :۔ د دے به څۀ کیږی خان جی ؟
مشرخان :۔ د دے هیڅ نه کیږی ۔ دا زمکه اوچ په اوچه تاسو نه لاړه دَ هغے شوه او که سپریم کورټ پورے لاړشی نو زمکه به دَ هغے وی۔
فداګل:۔ ښه نو بیا ؟
مشرخان :۔ بیا دا چې دغه پنځویشت جریبه زمکه هغے ته ویړیا پریږدی ۔
عیسیٰ خان:۔ خان جی مونږ خو پرے یوه جولۍ روپۍ ورکړی دی۔
مشرخان:۔ منم، تاسو روپۍ ورکړی دی خو په پردۍ زمکه ...دا زمکه تاسو څومره موده اوخوړه ؟
عیسیٰ خان :۔ خدائے مِ غاړه نه نیسی خو تقریبا پنځلس کاله۔
مشرخان:۔ دَ پنځوست جریبه دَ پنځلسو کالو دَ سالانه امدن حساب اولګوی ؟ په جولو جوړیږی که نه ؟ او یوه خبره درته بله کوم، خیر دَ بل چا پو هـ سړی نه هم تپوس اوکړی که دَ سیف علی ښځه یا دَ هغۀ ځوي درباندے دَ پنځلسو کالو دَ حاصل دعویٰ اوکړی نو حاصل به هم درنه لاړ شی او زمکه به هم درنه لاړه شی ۔ زه نه ستاسو دَپاره خبره کوم او نه دَ هغوی دَ پاره ۔ که زما خبره درته صحی نه ښکاری نو دَ بل چا نه هم تپوس اوکړی ۔
عیسیٰ خان :۔ مونږ تپوس کړې دے خان جی ۔ داسے خبره راته بل چا هم کړے ده ۔
فداګل :۔ اوس یعنی روپۍ هم لاړے او زمکه هم ۔





مشرخان :۔ چې تاسو داسے بے عقله کار کړے دے نو اوس دیکښے څۀ کیدے شی ۔ هغه وخت مو ولے سوچ نه کوو؟
عیسیٰ خان :۔ دا ټول کار دَ چل ولی لالا دے ۔ هغه به مونږ خبرے ته نه پرېښودو ۔ او هر څه به یې په خپل مخ سر کول ...او دغه نوره یو نیم سل جریبه زمکه ؟
مشرخان:۔ هغه خو ستاسو حق دے ۔ دَ زمکے په بدل کښې که زمکه اخلی او که پیسی ؟
فداګل :۔ دَ هغه خو نوره زمکه نیشته ، مونږ له به څۀ راکړی ۔
مشرخان :۔ تاسو سره زه خبره کوم او زۀ به درکوم۔ دَ شینکۍ ډهیرۍ زمکه به راکړی او دلته به دَ کوزے میرے زمکه درکړم ۔
فداګل :۔ دَ کوزے میرے زمکه خو للمه ده ۔ په هغے کښې خو زوزان ولاړ دی ۔
مشرخان :۔ نهر پرے راروان دے بیا به باړی شی ګینې دَ نهر راتلو پورے پرے تیوبُ ویل اولګوی ...یوه خبره درته بله کوم خانیه چې که چرے دشمنی ختمول غواړی نو دومره پیشونګړی به پکښې نه تلی ۔ زما پکښې خپل غرض نیشته زۀ خو خپل تاوان کوم او ستاسو دشمنی ختمول غواړم او که واره مو پرے نه راځی نو تاسو ترلی نه یی ۔
عیسیٰ خان :۔ نه خان جی دا خبره نیشته ۔ تۀ زمونږ مشر یې او مونږ ځان ستا جولۍ کښې اچولے دے ۔ تاسو سره دے خدای ښۀ اوکړی چې



Pukhto.Net
www.pukhto.net

زمونږ دَ پاره مو دومره خبره اوکړه ، ګینې خوک دَ چا څۀ پروا لری ۔ که مری هغه مری ، که تباه کیږی هغه تباه کیږی ۔ خان جی زمکه هغه سوزی چی اور پرے بلیږی ۔ مونږ چی په کوم عذاب کښې سوزو خدائے دے ترینه کافر هم اوساتی ۔ مونږ ستا ډیر درانۀ اوږو چی زمونږ دَ پاره دومره کوشش کوے ۔

مشرخان :۔ دغه خبره ده ۔ زۀ هم دا غواړم چې تاسو دواړه دَ یوبل په سترګو نه لګئ ۔ هسے چې دَ جوړے نه پس زړۀ دشمنی بیا تازه شی۔

فداګل :۔ ډیره دَ سرپټوب ، دَ عقل ، پوهے او دَ لیکلو خبره مو اوکړه خان جی خو ۔۔۔ هسے زۀ ویم دغه شینکئ ډهیرئ کښې زمونږ سل جریبه زمکه نوره هم ده ۔ دَ هغے به څۀ کوو۔

مشرخان :۔ زۀ مو دَ شینکئ ډهیرئ نه بیخی بے غمه کوم ۔ دَ هغے په بدل کښې به هم دلته زمکه درکړم ۔

عیسیٰ خان :۔ خان جی په کلی کښې زمونږ مینې هم دی دَ هغے به څۀ کیږی ۔

مشرخان :۔ اباديې دی که ورانے ؟

فداګل :۔ ټولے کچه ابادئ دی ، ورانے شوے دی ۔

مشرخان :۔ دَ هغے په بدل کښې به یو په دوه درکړم ۔

عیسیٰ خان :۔ او دوکانونه ؟

مشرخان :۔ دَ دوکانونو په بدل کښې به یو په څلور درکړم ۔

فداګل :۔ دَ سیف علی خان کور او حجره مونږ سره ګانه دی ؟ دَ هغے



www.pukhto.net



به څۀ کیږی ۔

مشرخان :۔ کاغذ درسره شته ؟

عیسیٰ خان :۔ خان جی ، کاغذ زمونږ نه په دے دشمنئ کښې بے درکه شوے دے ۔

مشرخان:۔ چی کاغذ نشته نو بیا ستاسو پیسے روکے شوے ۔ که تاسو پیسئ غواړئ نو زۀ به یې دَ خپل جیبه درکړم خو قانوناً ستاسو پیسی نه کیږی او که خفه کیږئ نه نو یوه خبره به درته اوکړم او هغه دا چی هغه د چا خبره چې تخته لاړه نو سوباړئ دے ورپسې وی ( دے سره مشرخان هم خاندی او عیسیٰ خان او فداګل هم ) ۔ ګوری ګورئ خفه کیږو به نه خو که رشتیا راباندے وایئ نو هم ستاسو بی بی وه ۔ تر دغه وخته به ستاسو زنانۀ دَ هغے خدمت نه کوو؟ دَ هغے دَ کوره به مو زړه نوے نه ووړه ۔ ستاسو بچی دَ هغے په نغری لوے شوے نه دی ؟

عیسیٰ خان:۔ بے شکه ، بے شکه ، بالکل رشتیا خبره دے اوکړه خان جی ۔

مشرخان :۔ اوس چی په هغے بده ورځ راغلله او ستاسو لاس ته کیناسته نو څۀ اوشو ۔ که ستاسو خوښه وی نو دغه دَ هغے سرپیچک شو ۔

عیسیٰ خان :۔ ګل خبره دے اوکړه خان جی ۔ ستاسو ټولے خبرے مې خوښے شوے ۔

مشرخان :۔ خیر دے ، تاسو ټول پرے صلاح اوکړئ چې ښۀ ټول

راضي شي نو بیا راشي ۔

فدا ګل :۔ مونږ پرے راضي یو خان جي ، مونږ سره خبره ختمه کړه۔

مشرخان :۔ زماله خوا خبره ختمه ۔ چې څۀ مِ درته ویلے دي هم هغسے به کوم انشاء اللّٰه ۔ تاسو بله ورځ راشئ ...زۀ به ستاسو دَ تحصیل، تحصیلدار او پټواریان هم را اوغواړم او دَ خپل تحصیل ، تحصیلدار او پټواریان هم ۔ زۀ به تاسو پسې انتقال اوکړم او تاسو به دَ سیف علي خان ځوی شایان پسې انتقال اوکړئ ۔ پټواریان به دَ زمکے ، مینو او دوکانو کچ اوکړي او خبره ختمه ۔

فدا ګل :۔ مونږ به انتقال چاپسې کوو خان جي ۔

مشرخان :۔ دَ سیف علي ځوی شایان پسې ۔ ماخودرته مخکښے اووے چې زه ستاسو لانجه ختمول غواړم ۔ زما خو پکښې سراسر تاوان دے خو هغه دَ چا خبره چې مشري کوے نو تاوان ته به هم غاړه اږدے ۔

فداګل :۔ یره خان جي ، تر اوسه مِ نه منله خو اوس مِ اومنله چې واقعي ته یو زبردست سړے یې۔ تاله دے خدائے د دے نیکے بدلے درکړي او خداې دے په ډیرو خوشحالو خوشحاله کړه ۔

عیسیٰ خان او مشرخان ۔ آمین ۔

★★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## یوولسم باب

شایان ته دَ شورئ په فیصله باندے سخته ذهني او قلبي صدمه رسیدلے وه ۔ هغه لا دَ یو مصیبت نه خلاص نه وو چې دَ پاسه پرے مصیبت بل راغي ۔ دَ غمونو دا سلسله چلیده چې دَ پاسه پرے دَ ملغلرے سره دَ وادۀ خبره راغله او وادۀ هم دَ زبردستي ۔ نه دواړو یو بل لیدلي وو، نه یې خبرے اترے شوے وې او نه یې څۀ خوښخه ناخوښخه شوے وه ۔ هغه ته به دَ صدر صیب خبره بیا بیا مخکښے مخکښے کیده چې "بچے که تا لیدلے ده او که دے نه ده لیدلے خو خپل پلار په تا توره کړه ۔ دغه توره به اوس تۀ سپینه وې ۔ تا نه بغیر هغے سره اوس بل سړې وادۀ نشي کولے ۔ که ستا خوښخه ده او که ناخوښخه ده خو دا قرباني به اوس ته ورکوے" ۔ کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې هغه کمانډر صیب ته صفا صفا انکار اوکړي ۔ خو بیا به یې په زړۀ کښې راغله " د انکار قیمت به څۀ وې ؟ سزا ؟ کومه سزا ؟ مرګ؟ او که هغه مړ شي نو دَ هغے به څۀ کیږي ؟ آیا هغه به ټول عمر دغسے تیروی ۔ دَ هغۀ په وجه به هغے ته دائمي سزا ملاویږي او دَ ثنا به څۀ کیږي ۔ دَ وادۀ وعده خو هغۀ ثنا سره کړے دے ۔ دے سوچونو سره دَ هغه سر درووند شو او زړۀ یې ډوب شو ۔ دے سره یې په میز پروت ریډیو ته خیال شو ۔ هغه دَ ریډیو بټن تاؤ کړه ۔ چې ریډیو آن شو نو یو آواز پرے راغي "خوږو اوریدونکو ، دَ بي بي شیرینې په پروګرام کښې زمونږ ډیوه ریډیو په ولایت دَ کرکټ دَ یوے نابینا لوبغاړے ثناخور سره

مونږ یو څو خبرے ریکارډ کړی دی ۔ راځئ چی دَ هغے خبرے وورو۔
سوال:۔ ثنا خورے تهٔ زمونږ دَ خویاندو ، میاندو او پیغلو دَ پاره دَ لارے یو بل مشال یې ۔ چې دَ هغے رڼا زمونږ دَ قام ټولو زنانهٔ ته رسیدلے ده او هغه نابینا خویاندے چې دَ ژوند په هلو ځلو کښې دَ بل لاس ته ناستے دی هم د دے رڼا نه مستفید کیدیشی ۔ تهٔ دَ نابینائۍ باوجود هم په هغه لاره روانه شوے چې هغه ټولے منډے تړے دی خو په خپل همت او جرأت هغه مقام ته اورسید چې دَ ټولے دنیا خلق درته ګوته په خوله دی ۔ هغه کومه جذبه وه چې دَ هغے په وجه تادَ کرکټ لوبه ځان دَ پاره خوښخه کړه ۔
ثنا:۔ ژوند دَ ژوندو دے ، دَ مړو نه دے چی دنیا کښې اوسے نو لاس خپې به وهی ۔ زهٔ واقعی نابینا یم خو دَ ژوند په منډه کښې دَ چانه روستو نه یم ۔
نمائنده :۔ ماشاء اللہ ۔
ثنا :۔ زهٔ چې وړه ووم نو پلار سره به مِ په چمن کښې مختلفے لوبے کولے ۔ په دغه لوبو کښې دَ پړق او لټون نه علاوه یوه لوبه دَ چڼچڼی وه ۔ هغوی ماله یوداسے بال راوړے وو چې هغے به لکه دَ چڼچڼی شړنګار کوو ۔ زما ابو به هغه بال په چمن کښې ګزار کړو ۔ مابه دَ هغے شړنګار پسې منډے وهلے او دَ هغے دَ نیولو کوشش به مِ کوو۔ څهٔ مودهٔ پس یې راله یو بیټ هم راوړو۔ دغه رنګے ابو به بیټنګ کوو او مابه کیچنګ کوو۔ خو دا کیچنګ لکه دَ کرکټ هوائی کیچنګ


www.pukhto.net



نه وو بلکه په زمکه دَ بال نیول وو۔ بیا به ما بیټنګ هم کوو او بالنګ هم ۔ دغه رنګے دا سرګرمی رو رو په کرکټ کښې بدله شوه ۔ دا لوبه ما په سکول کښې هم متعارف کړه او هلته بیا باقاعده دَ کرکټ ټیم جوړ شو ۔ په کلی کښې به زما او دَ ابو باقاعده مقابله کیده ۔ مونږ به لوبه کوله او امی به امپائرنګ کوو۔
نمائنده :۔ ثناخور ستا ابو خو ماشاء اللہ بینا دے او تاسو نابینا نو مقابله به ارومرو هغه ګټله ۔
ثنا(خاندی) نه داسے نه ده ۔ ابو به چی ماسره مقابله کوله نو امی به ورله سترګے تړلی ۔
نمائنده :۔ ستاسو مقابلے به انعامی وې که غیر انعامی ؟
ثنا :۔ زمونږ مقابله دَ پلار او لور مقابله وه ۔ دے کښې دَ روپو ، پیسو انعام نه خو البته (خاندی) دَ پفے انعام پکښے وو ۔ پفه پیژنی ؟ یعنی ښکلول ۔ چی ما به مقابله اوګټله نو ابو به مِ ښکلوو او چې هغوی به اوګټله نو زهٔ به یې ښکلولم ۔
نمائنده ( خاندی ) ډیر ښه ۔ ډیر ښه ۔ ښه نو بیا؟
ثنا:۔ زما ابو یو سماجی کارکن هم دے ۔ دَ هغه ډیر کارونه او مصروفیات وو خو د دے هر څهٔ باوجود به هغوی وخت ویستلو او مازیګر به یې ماسره لوبه کوله . . .بیا روستو هغوی زما دَ پاره دَ لوبو یو داسے ملګرے راوستو چې زما په ژوند کښې یې یولوے انقلاب راوستو ۔ هغه زمانه په عمر کښې کال ، دوه مشر وو خو دَ کرکټ ډیر

شوقي وو ـ مونږ دواړو به هره ورځ په چمن کښې لوبې کولې ـ کیده کیده چې زۀ دې مقام ته را اورسیدم او هغه دَ سین نه اووتو ـ

نمائنده :ـ دَ سین نه اووتو ؟ د دې څۀ مطلب دے ؟

ثنا :ـ زۀ خو نابینا یم ماته دَ هغۀ متعلق نور معلومات نشته خو دا چې هغه چرته بل خوا لاړو ـ

نمائنده :ـ بیا دے هغه سره څۀ رابطه نه ده شوے ؟

ثنا :ـ بالمشافه لیدل کتل نه دي شوے خو چې کله به مونږ مقابله کوله نو دَ اواز په ذریعه به یې هدایات راکول ـ

نمائنده :ـ هغه ته څۀ پیغام وغیره ورکول غواړې ؟

ثنا:ـ پیغام دا دے چې هغۀ ته زۀ دا ویم چې هر ځائے یې ـ نو راشه پلیز ، تانه بغیر زۀ نیمګړے یم "ـ دے سره هغه په چغو چغو په ژړا شوه ـ رپورټر زر زر خپل ټیپ ریکارډر بند کړو او دَ هغې انټرویو یې ختمه کړه ...شایان دَ هغې ژړا وونه ریدله خو زړۀ یې یوه ډبې اووهله او په کټ کښې پټې سترګې پریوتو ـ هغه لا هغسې پټې سترګې پروت وو چې دَ هغه دَ تنظیم یو ملګرے ، ګل مرجان راغی ، دَ هغه کټ ته اودریدو او ورته یې اووے "پاڅه شایانه ، کمانډر صیب دے غواړي "ـ دے سره هغه په لاس هم دَ هغۀ دَ ویښولو کوشش اوکړو ـ هغۀ چې سترګې اوغړولې نو تپوس یې ترینه اوکړو "څۀ دي ګل مرجانه"؟

ګل مرجان :ـ پاڅۀ ، کمانډرصیب دے غواړي ـ

شایان :ـ یارګل مرجانه ، زۀ خو دَ پاڅیدو قابل نه یم ـ ټول بدن مِ



www.pukhto.net



خوږیږي ـ ته ورشه کمانډر صیب ته وایه چې هغه ناجوړه دے ، نشي راتلے (دَ هغه سترګې پټې شی)

ګل مرجان :ـ په ماولے دروغ وائې ـ ته ورشه په خپله ورته اووایه "ګل مرجان یوه شیبه ولاړ وو خو چې هغه پانه څیدو نو کمانډر صیب له ورغی او هغه ته یې اووے "صیب هغه ناجوړه دے ، نشي راتلے " ؟

کمانډر صیب :ـ(مسکې شی) "ناجوړه دے که هسې بهانې کوی " ؟

ګل مرجان :ـ داسې معلومیږي چې ناجوړه دے ګینې دَ پاتې سړې نه دے ـ

کمانډرصیب:ـ نه ، نه ستا خبره صحی ده ، د پاتې ځوان نه دے خو دَ یو څو ورځو نه دَ هغۀ خاطر زمانه دروند دے ـ داسې معلومیږي چې دغه جینۍ سره په وادۀ کولو خوشحاله نه دے ـ

ګل مرجان :ـ هاؤ صیب ، ماته یې هم څو څو ځله اورونه کړے ده خو ما پوهه کړو چې دیکښې اوس هیڅ نشی کیدے، دا دَ شوری فیصله ده ـ

کمانډر صیب (پاڅی) زۀ ورځم چې دا دروغ رشتیا یې معلوم کړم ـ که واقعی ناجوړه وی چې ډاکټر له یې اورسوو کمانډر صیب چې دَ هغۀ خوا له ورشی نو اودریږي او ورته وائي " شایانه بچې ولے ، ناجوړه یې"؟ چې هغه څۀ جواب ورنکړي نو هغه دَ هغۀ په نبض لاس اړدی او وائي "اف ، فوفو " تا باندې خو دَ اور لمبې ګرځی ...ورشه ګل مرجانه ، امیرخان ته وایه چې ګاډي تیار کړي ـ ...او که امیرخان نه وی نو سید ولی ته اووایه ...زر کوه ...زر کوه ...ګینې راځه ، راځه ...زۀ په خپله ورځم ....زۀ ګاډی را اوباسم او تاسو شایان را اوچت کړی...

خیال کوی.....په حوصله". کمانډر صیب زر زر ګاډې تیار کړو او هغوی پکښې شایان په ارام سملوو. تربړمې ماښام وو چې هغه په ګاډې کښې واچولے شو او هسپتال ته یوړے شو.

## دویمه برخه

کمانډر صیب شایان په هسپتال کښې دَ خپل شهید ځوی عبدالله په نوم داخل کړو. دَ هغه تبه دومره اوچته شوے وه چې هغه دَ مرګ او ژوند په کش مکش کښې پټې سترګے بے هوشه پروت وو. انچارج ډاکټر چې دَ هغه حالت ته اوکتل نو واریې خطا شو. زر زر یې دَ هغهٔ نه قمیص اوویستلو او دَ کپړے لوندے پټئ یې دَ هغهٔ په تندی او سینه کیښودے. دے نه علاوه لاسونه او خپې یې ورله اووینځل او نرسانو ته یې د دے عمل دَ تکرار حکم ورکړو. خپل دفتر ته په تلو تلو کښې یې کمانډر صیب ته اووے چې دَ هغه تبه دومره اوچته ده چې په داسے حال انجکشن دَ هغهٔ دَ پاره خطرناک ثابتیدیشی. چې څومره به شپه پخیده نو یو نرس به خپې ویستلې اخر دا چې ټول لاړل اودهٔ شو او خپل کار یې کمانډر صیب ته پریښودو. کمانډر صیب ټوله شپه سترګه پټه نکړه او دَ هغه خدمت ته ولاړ وو. دَ صبا سترګه چې راختله نو هغه هم سترګے اوغړولے. کمانډر صیب چې هغه ته اوکتل نو په خوبولے سترګو مسکے شو او هغه ته یې اووے "اوس څنګه یې بچے". کمانډر صیب په ړومبۍ ځل هغهٔ ته بچے اووے. دے ټکی کښې دومره خوارهٔ وو چې دَ هغه دَ زړهٔ ټوله یره، ترهه ختمه


www.pukhto.net



شوه. هغه ته یې په مینه اوکتل او وے وئیل "ښه یم بابا" کمانډر صیب دَ بابا په نوم باندے دومره خوشحاله شو چې په ځان پوهـ نشو او څو څو ځله یې هغه ښکل کړو. بیا ئے ورته غلے غوندے اووے "بچے ته ما دَ خپل شهید ځوی عبدالله په نوم دلته داخل کړے یې. دلته ستا نوم عبدالله او ستا دَ پلار نوم عبدالحق دے. که چا درنه تپوس اوکړو نو دغه نوم ورته وایه" شایان مسکے شو، هغه ته یې سر اوړکولو او سترګې یې بیا پټې کړے".

سحر چې مشر ډاکټر راغئ او دَ نوے مریضانو فهرست یې اوکتو نو دَ معمول مطابق یې نورو ډاکټرانو او لیډی ډاکټرانو سره رونډ شروع کړو. دَ نورو مریضانو دَ کتو نه پس چې دَ شایان بیډ له ورغئ او دَ هغه فائل یې اوکتو نو دَ هغه دَ نوم او ولدیت نه علاوه نور پکښې هیڅ نه وو لیکلے شوے. د هغه په تپوس باندے دَ شپے انچارج ډاکټر اووے چې "دے بیګاه په داسے حالت کښې هسپتال ته راؤړے شوے وو چې دَ ټمبریچر دَ زیاتی په وجه بے هوشه وو. په داسے حالت کښې ستاسو دَ هدایاتو مطابق علاج شروع کولو خطرناک هم کیدے شو. مشر ډاکټر یو نظر شایان ته ګوری. چې دَ دواړو سترګے اولګی نو شایان سترګے پټې کړی. ډاکټر په فائل کښې لیکلې شوے دَ هغهٔ نوم ته ګوری او وائی "ستا څه نوم دے هلکهٔ؟ شایان سترګې اوغړولی او وائی "زما نوم عبدالله دے".

ډاکټر:۔ دَ پلار دے څهٔ نوم دے؟

شایان :۔ عبدالحق ، (شایان بیاسترګې پټې کړې ۔ ډاکټر، لیډي ډاکټر ته ګوري او وائی " انیتا دے هلک ته اوګوره دا خو بالکل دَ شایان غوندے دې (کمانډر صیب چپ چاپ ولاړ وی او دَ هغوے خبرے اوری)

لیډي ډاکټر :۔ (شایان ته ګوري ، مسکې شي او وائی "دے دَ شایان غوندے نه بلکه شایان دے "۔

ډاکټر:۔ د دهٔ نوم عبدالله او د دهٔ دَ پلار نوم عبدالحق دے ۔دا بابا چې ولاړ دے ، دا د دهٔ پلار دے "۔

لیډی ډاکټر:۔ No,no ، که د دهٔ نوم هر څهٔ دے خو دا شایان دے ( غلے غوندے ) داسے معلومیږی چې شایان خپل نوم او ولدیت دواړه بدل کړی دی ته اودریږه اوس به یې پته اولږی ( هغه شایان ته په اوچت آواز وائی ) شایانه ... شایانه تاته څهٔ تکلیف دے ؟ ( هغه له ګوتے اوړی) "تاته ویم کنه ، تهٔ نه اورے شایانه "؟

(شایان سترګی اوغړوی او هغے ته ګوری )"شایانه تاته څهٔ تکلیف دے"۔

شایان :۔ زما نوم عبدالله دے بی بی ۔

لیډی ډاکټر :۔ شایانه ، تهٔ ما نه پیژنې ؟

شایان :۔ نه جی ۔

لیډی ډاکټر:۔ دا ډاکټر صیب پیژنې ؟

شایان :۔ نه جی ۔

لیډی ډاکټر :۔ ثنا پیژنې ؟ شایان سترګې پټې کړی او هغے له هډو څهٔ



www.pukhto.net



جواب ورنکړی ۔ (ډاکټر لطیف خان او ډاکټر انیتا مسکی شی او یو بل ته اوګوری )۔

هغه ترینه څو څو ځله تپوس اوکړی خو هغه چپ پاتے شی ۔ دواړه یو بل ته ګوری په سترګو سترګو کښې یو بل ته څهٔ وائی او روانیږی ۔ لږ وخت پس یوه نرسی راځی کمانډر صیب له یو چټ ورکوی او ورته وائی " دا دارو زر تر زره راوړه چې د دهٔ علاج شروع کړو ۔ ډاکټران لا دَ بل وارډ په راؤنډ باندے وی چې کمانډر صیب دارو راوړی ، او دَ شایان بیډ سره اودریږی ۔ شایان چې دَ هغه په راتلو پوهـ شی نو سترګې اوغړوی او هغه ته وائی " بابا دا دارو ځان سره بهر یوسه او ګاډی کښې کینه ۔ دا ډاکټران په ما شک من شوَ هسے نه چې پولیس راؤغواړی او تاسے ته مِ بوځی "۔

کمانډرصیب:۔ دا ښه ده چې دے پوهـ کړم ۔ زما پرے هم دَ شک منو خیال راغلے وو خو ستا دَ علاج دَ پاره مِ هیڅ نشو ویلے ۔ دَ علاج نه به نه پاتے کیږی خو چې پولیس دے اونه نیسې ۔ ښه بچے زهٔ درنه ورځم۔ تهٔ ما پسې غلے غوندے راؤځه او دَ هسپتال لوے ګیټ ته ځان را اورسوه ۔ ځه زهٔ درنه لاړم "۔ دَ هغه دَ تلو نه پس شایان غلے غوندے پاڅیدو او دَ وارډ نه اووتو ۔ چې دَ هسپتال دَ لوے ګیټ نه بهر اووتو او ګاډی ته ورنزدے شو نودَ پولیس یو اے ایس آئی او دوه سپاهیان یې اولیدل چې کمانډر صیب سره یې خبرے کولے ۔ شایان هغوی سره اودریدو ۔ کمانډر صیب دَ اے ایس آئی نه تپوس اوکړو"صیب تاسو

کوم خو روان یې "؟

اے ایس آئی :۔ اوس اوس راتـه دَ هسپتال نه فون اوشو چې هسپتال تـه یـو مشـکـوک مـلـزم راغلے دے ۔ دَ هغهٔ گرفتاری پسې ورځم . .تهٔ ښنگه راغلے یې ؟

کمـانـډر صیب:۔ زما یو هلک ناجوړه وو، هغه مِ هسپتال ته راوستې وو"۔

اے ایس آئی :۔ اوس دَ خیره ښنگه دے ؟

کمـانـډر صیـب :۔ اوس ښـه شـوے دے ۔ رخصت یې راکړو " اے ایس آئی شایان ته گوری او وائی "هلکه ستا څهٔ نوم دے "؟۔

شایان :۔ عبدالله ۔

کمـانـډر صیب (مسـکـې شی ) "ولې صیب زما په ځوی دے دَ هغهٔ شک راغی "؟

اے ایس آئی :۔ دا ستا ځوی دے کمانډر صیب ؟

کمانډر صیب :۔ مال دَ خداې دے ۔

اے ایس آئی :۔ ښه صیب ، معافی غواړم ، ځی ورځی په مخه موښه۔

★★★★★★★

★★★★

★★

★





## دولسم باب

عیسیٰ خان او فـدا گـل اگـر چه مفروران وو خو څهٔ دَ خپلې وعدے له خاطره او څهٔ دَ خپل ضرورت له خاطره سحر وختی دَ مشرخان حجرے تـه پـه داسـے وخت اورسیـدل چـې هـغـه ایـلـه دَ نمونځ کړے وو او لا په مـصـلـه ناست وو ، ذکر یې کوو ۔ مشرخان چې دَ هغوی په راتلو پوهـ شـو نـو دعائے اوکړه او دَ هغوی ستړی مشی له ورغی ۔ دَ روغ جوړ نه پـس کـور تـه لاړو او هغوی له یې ناشته راؤړه ۔ هغوی تو له شپه مزل کـړے وو او ښـه اوږی شـوی وو۔ دواړه رونه ورته دوه په دوه کیناستل او ښـه درز یـې ورکـړو چـی نـاشـتـه یـې اوکړه نو بیا ورته مشرخان اووے ، "تـاسـو بـه سـتـړې شـوی یـی ۔ ښه بے غمه ډډے واچوی او په ارام اوده شـی ۔ هـغـوی دغسـے اوکـړل ۔ دواړه سملاستل او اودهٔ شو چې لـس بـجـے شـوے نـو تـحـصـیـلـداران سره دَ پټواریانو ، گرداورانو او اردلیانو راغـلـل ۔ دَ هـغـوی خـوب هـم پـوره شـوے او ستومانی یې اوتے وے ۔ هغوی پاڅیدل ۔ دَ خپلې خپلې علاقے تحصیل داران او پټواریان بیل بیل کیناستل خپلې رجسټرے یې کهلاؤ کړے او خپل حساب کتاب یې شروع کـړو ۔ دَ شیـنـکـی ډهیری پټواریانو او تحصیل دار دَ چل ولی کاکا د زمکے ، دوکانونو او مینو انتقالات بیل کړل ، دَ هغے رقبه او خسـره وغیـره یـې چیک کـړه ۔ دَ هـغـوی پـه انتـقـال کښې ځینی تـکـنیـکـی غـلـطـۍ وی چـی هـغــه تولے پټواریانو دَ تحصیل دار پـه مـخـکـښـے تیک کړے او هغه ورته دستخط اوکړو ۔ دَ یاسمین بی بی دَ



www.pukhto.net

مهر پنځوست جریبه زمکه او دَ شاملات خبره پاتے شوه ۔ چی دا هر ځۀ تیک ټاک شو نو بیا عیسیٰ خان او فدا ګل مشرخان سره دَ شاملات خبره اوچیړله ۔ مشرخان ورته دَ تحصیلدارانو او پټواریانو په مخکښے اووے "دا دومره مسله نه ده که پیسے غواړی پیسے به درکړم او که زمکه غواړی زمکه به درکړم ۔

فدا ګل :۔ پیسې راکړه خان جی ۔ مونږ ته دَ پیسو ضرورت دے ۔

مشرخان :۔ دا اسانه ده خو دَ سیف علی حصه شاملات ماته بیل کړی چې په هغه حساب پیسې درکړم ۔

فدا ګل :۔ مونږ به یې څنګه بیل کړو خان جی ۔ مونږ خو شو شو ځله مخکښے هم دَ تقسیم خوله اچولے وه خو دَ شاملات تقسیم ته څوک تیار نشو ۔

مشرخان :۔ یوه خبر درته کوم ګلونو ، دا شاملات چرے هم نشی بیلیدے ۔ دا په پیړو ، پیړو هم داسے راروان دے او دا به تول عمر هم داسے پروت وی ۔ البته که دَ شینکی ډهیری خانان خپلو کښې راضی شول او دَ شاملات تقسیم یې اوغوښتو نو بیا تقسیمیدیشی خو فی الحال هغوی د دے تقسیم ته تیار نه دی ۔ دَ سیف علی خان دَ تربورانو ځۀ نورے نورے ارادے دی ۔

فدا ګل :۔ دَ هغوی څۀ ارادے دی خان جی ؟

مشرخان :۔ هغوی وائی چی په شاملات کښې به سکولونه ، کالجونه او هسپتال جوړه وو۔



www.pukhto.net



فدا ګل :۔ ماسره دے تقسیم اوکړی ، هغوی به پکښی سکولونه او هسپتال جوړ کړی او زما دا به پرته وی ۔

مشرخان :۔ یَه ګله چی هغوی پکښی سکولونه ، کالجونه او هسپتال جوړه وی نو تاسو هم مسلمانان یې ۔ تاسو هم پکښی دَ خیر ، خیګړی کار اوکړی ۔ دَ ښاروو هسپتال ته یې وقف کړی یا ګینی دَ جنازے جمات ته یې وقف کړی چې ثواب مو اوشی ۔

عیسیٰ خان :۔ ډیره ښه ده خان جی ، مونږ دَ جنازے جمات ته وقف کړو

مشرخان :۔ ډیره ښه ده تحصیلدار صیب د دوی دَ زمکے حساب کتاب اوکړه ۔ او زما دَ زمکے هم ۔ مخکښے زما دَ زمکے انتقال دوی پسې اوخیژوه او بیا د دوی دَ زمکے انتقال شایان پسې اوخیژوه ۔ فداګله چی تاسو پسې زما دَ زمکے انتقال اوخیژی نو ناظر منشی او پټواریان به درسره شی او تاته به زمکه بیله کړی"۔ دواړه تحصیلداران کینی ، حساب کتاب اوکړی او انتقالونه اوخیژوی ۔ دَ انتقال ختونه پس مشرخان هغوی له مبارکی ورکړی او هغوی مشرخان له ۔ چې چائے ډوډی اوشی نو مشرخان تحصیلدارانو، ګرداورانو او پټواریانو ، اردیمانو له خپل خپل فیسونه ورکړی ۔ تحصیل داران چې خپل کار ختم کړی نو لاړ شی او پټواریان دَ مشر خان ناظر او منشی ځان سره واخلی او عیسی خان او فدا ګل ته زمکه بیله کړی ۔ دَ تلو نه مخکښے ورته مشرخان اووائی چی " د دے میاشتی په دولسم تاریخ دَ زیارت په ورځ شینکی ډهیری کښی دَ

شایان په حجره کښې ستاسو جوړه ده ۔ ما هغوی سره خبره کړې ده ۔ تاسو ټول لس بجې هلته ځان را اورسوئ "۔

عیسیٰ خان :۔ خدایې دې په خپل بال بچ خوشحاله کړه خان جی ۔

فدا گل :۔ خدایې دې دَ دنیا ټولې خوشحالی ستا کور ته راولی خان جی۔

مشرخان :۔ مهربانی ، ځی ورځئ ، په مخه موښه ۔

## دویمه برخه

ثنا دَ نورو ملکونو دَ دورې نه علاج دَ پاره برطانیه کښې پاتې شوه ۔ البته نور ټیم په دوره نورو ملکونو ته لاړو ۔ دَ هغې دَ سترګو او نظر ایکسرې ځو ځو ځله اوشوې او دَ جدید ترین کمپیوټری سسټم باندې دَ هغې دَ نظر معائنه اوشوه ۔ اخر ډاکټران په دې نتیجه اورسیدل چې علاج ممکن دې بیا دَ هغې دَ سترګو اپریشن اوشو او مصنوعی خلیې پکښې واچولې شوې ۔ چې کله دَ هغې خلیو کار شروع کړو نو ډاکټرانو یو بل له مبارکی ورکړې ۔ په دې باندې ټولو ډاکټرانو میټنګ اوکړو او چې کله هغوی مطمئن شو نو بیا یې دَ هغې اپریشن اوکړو یو څو ورځې په هسپتال کښې وه بیا یې هوټل نه دَ تلو اجازت ورکړو ۔ ثنا په خپل اپریشن او دَ بینائی په امید ډیره خوشحاله وه ۔ ډاکټران او دَ سفارت خانې عمله هم پُر امیده وه ۔ هغوی به وخت په وخت دَ هغې پوښتنې له راتلل او دَ هغې دَ دارو درملو کمې به یې پوره کوو۔ هغې ته هم دَ خپلی بینایی لږ لږ احساس کیدو او دا یې محسوسوله چې دَ هغې پټو او ړولو سترګو ته دَ نورو چینې راماتې



www.pukhto.net



دی ۔ دَ رڼا ، تیرې او ورځې شپې شعور پکښې دَ مخکښې نه زیات شوې وو۔ دَ بینائی او رڼا امید او احساس دَ هغې په نازبینتیا کښې لږه لږه شوخی او تلخی هم پیدا کړې وه ۔ هغه جذباتی لحاظ سره دَ پیغلتوب دَ مرحلې نه دَ ماشوموالی درجې ته واپس راکوزه شوې وه ۔ په نئ ځئ خبره به یې انیله تنګوله ، رټله او په نئ ځئ خبره به دَ هغې نه مروره وه ۔ بیا به هغه ورسره سملاسته ، دَ هغې سر به یې په خپله سینه کیښودو ، دَ هغې په ملا به یې لکه دَ مور لاس وهلو۔ پستې او خوږې خبرې به یې ورسره کولې او په ډیر ګرانه به یې هغه پخلا کړه۔ دَ ثنا مرورتیا په جامه پیزار ، په خوراک څخاک یا په لامبلو ، وینځلو نه وه بلکه دَ شایان په نوم دَ هغه په خیال او تصور وه ۔ هغې به کله کله دَ هغې نه دَ شایان متعلق داسې تپوس کوو چې دَ هغې جواب به هغې سره نه وو نو هغه به چپ پاتې شوه یا به یې ورته ځئ بله بهانه اوکړه ۔ چې هغې ته به جواب ملاؤ نشو نو هغه به خفه شوه ۔ دَ خوراک څخاک نه به یې هم انکار اوکړو او دَ دارو خوراک نه هم ۔ او تر هغې به په دغه حال کښې وه چې ترڅو به مطمئنه شوې نه وه ۔ یوه ورځ ترینه په دې مروره شوه چې هغې ترینه تپوس اوکړو چې د "شایان ځئ معنیٰ ده " ؟ ۔ دومره لوستې هغه نه وه او غلط جواب یې ورکولې نشو او نه یې ورته ویلې شو چې هغې له د دې ټکی معنیٰ نه ورځی نو هغه خاموش پاتې شوه ۔ په دې باندې هغه مروره شوه او تر هغې مروره وه چې هغه بهر اووته ، ګرځیده ګرځیده چې اخر یې دَ یو پاکستانی



Pukhto.Net

اردو خوان نه دَ شایان دَ معنې تپوس اوکړو او هغې ته یې دَ شایان معنیٰ اووے ....یوه ورځ یې ترینه تپوس اوکړو "شایان څنګه هلک دے"؟ دا تپوس هغے مخکښے هم څو څو ځله کړے وو او هغے څو څو ځله جواب هم ورکړے وو خو اوس چونکه هغے بیا تپوس اوکړو نو جواب ورکول ضروری وو۔ هغے جواب ورکړو "خائسته هلک دے"۔ په دے جواب دَ هغے تسلی اونشوه او مروره شوه ۔ هغے ترینه په یره تپوس اوکړو ولې ماځۀ بده خبره اوکړه "؟ ثنا جواب ورکړو "هاؤ تا ډیره بده خبره اوکړه ، تا به مخکښے وې ډیر خائسته هلک دے تا ورسره دَ ډیر تکې ولے اونه وې "؟ ۔ انیله په خندا شوه او هغے ته یې اووې" اوه ، دا خبره ده ۔ هغه ډیر نه بلکه ډیر زیات خائسته هلک دے "۔ په دے خبره هغه کړس کړس په خندا شوه او بیا یې ترینه تپوس اوکړو " دَ چا غوندے خائسته دے "؟ هغے جواب ورکړو " ستا غوندے " په دے خبره هغے بیا تندے بوټ کړو او هغے ته یې اووے " تاولے وې چې ستا غوندے "؟

انیله :۔ ( په خندا ) " نو څۀ مِ ویلے وے "؟

ثنا :۔ تا به وے چې تانه ډیر خائسته دے "۔

انیله مسکۍ شوه او ورته یې اووے " تانه په څو څو چنده خائسته دے " ؟

دے باندے هغه بیا خفه شوه او ورته یې اووے چې " تا پکښې اضافی تکې ولے اولګول "۔ یو ځل یې ترینه تپوس اوکړو ، ستاشایان خوښ



www.pukhto.net



دے که زۀ ؟ هغے عام غوندے جواب ورکړو " تۀ "۔ په دے باندے هغه خفه شو او هغے ته یې اووے چې " تا ولې وې چې تۀ " ؟

انیله :۔ واه ، دا خو ښۀ خبره ده او ستا په حق کښې ده چې ته مِ دَ هغۀ نه زیاته خوښخه یې "۔

ثنا :۔ تا داسے ولې نه وې چې هغه ؟

انیله :۔ داسے ته ویلے شې او زۀ یې نشم ویلے ۔

ثنا :۔ ته ولے نشې ویلے ؟

انیله :۔ هغه پردے هلک دے او زۀ پردۍ جینۍ یم ۔

ثنا:۔ پردے ولې دے ۔تۀ هغۀ ته پریږدے ولې وایې ؟

انیله :۔ ثنا ۔ ثنا ۔ هغه ستا دے او تۀ دَ هغۀ یې ما دَ پاره خو پردې کنه ۔ دے سره ثنا په خندا شوه ۔ انیله هم په خندا شوه او په خندا خندا کښې یې ورته اووے " تا خو دے خداې زر بینا کړی چې په خپله یې اووینې او زما دَ ویلو ضرورت پاتے نشی ماله خو دے زړه شین کړو "۔ دَ هغے خبره رښتیا شوه ۔ دَ ډاکټر له خوا رنګ اوشو چې " ثنازر تر زره راوله چې دَ هغے پټۍ پرانیزی "۔

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★

## دیارلسم باب

کمانډر عبدالحق هم د دے سیمې دَ سور کانی نوے کلی اوسیدونکے وو۔ دَ هغه کورنۍ پلار په نیکۀ عالمان او دینداره وو۔ هغه په خپله یو نو موړے عالمِ دین وو خو دَ علم سره سره دَ جهاد جذبه دَ هغۀ په خټه کښې اخلې شوے وه ۔ هم د دے جذبے په وجه هغه دَ عمر زیاته برخه دَ غیر مسلم حمله آورو خلاف په جهاد کښې تیره کړے وه ۔ دَ هغۀ دَ نظریے مطابق علم رڼا ده او جهاد په دغه رڼا کښې دَ حق تلاش او حق ته رسیدل دی ۔ هغه لا یو نوخیزه زلمې وو او دَ مدرسے نه ایله فارغ شوے وو چی روس په افغانستان حمله اوکړه ۔ په علاقه غیر کښې هغه ړومبی سړے وو چې دَ روس خلاف یې اواز اوچت اوکړو۔ او علی الاعلان یې اووے چې " په افغانستان دَ روس حمله په عالم اسلام حمله ده دَ روس خلاف جنګیدل نه صرف کارِ ثواب بلکه فرضِ عین جهاد دے ۔ دے سره سره هغه په ټوله سیمه کښې اوګرځیدو۔ خلقو ته یې خپل پیغام اورسولو او په هغوی کښې یې دَ جهاد جذبه پیدا کړه۔
دَ یو مردِ میدان مجاهد په حیث هغه افغانستان ته لاړو او دَ پکتیا او پکتیکا په سیمو کښې دَ ادم خان په نوم جنګیدو۔ مړانه او جنګی حکمت عملی هغه ته دَ خپل بابا خالدؓ بن ولید نه په وراثت کښې پاتې شوی وه۔ دَ هغه ټولګې به دَ لس ، پنځلسو مجاهدونه زیات نه وو خو مقابله به یې دَ روس یوې کمپنۍ او کله کله پوره بټالین سره کوله ۔ په څو څو موقعو په هغۀ او دَ هغۀ په ملګرو لکه دَ باران


www.pukhto.net



ګولۍ او ورولے شوے ۔ په ملګرو کښې ترینه څینې شهیدان او څینی زخمیان شو، دَ هغه جامے هم ځائے په ځائے سورۍ شوې خو دَ بدن یو ویښتۀ یې هم کوږ نشو۔ هم دغه وجه وه چې دَ هغۀ متعلق دا مشهوره شوه چی هغه باندې ګولۍ ځکه نه لګی چی هغه سره تیغ بندی ده ۔ هغه به چې دَ یو بل دَ خولے نه دا وورېدل نو په خندا کښې به یې اووے ، " داسے هیڅ خبره نیشته "۔ دَ هغۀ څینې ملګرو هغه ته څو څو ځله دَ خپل حزب جوړولو او دَ هغے دَ مشرۍ خواست اوکړو خو هغۀ د دے مشورے مخالفت اوکړو او وے وئیل " زما مقصد جهاد دے که دَ هر چا په مشرۍ کښې وی زۀ به یې کوم ، دَ نوے ټولګی جوړولو ضرورت نیشته "۔
دَ روسی مشیرانو په اشاره دَ خلق پارټۍ څینې مشرانو هغه ته په خپله ډله کښې دَ شمولیت او دَ پکتیکا دَ ګورنرۍ بلنه هم ورکړه خو هغه دَ هغوی بلنه په دے وجه قبوله نه کړه چې " دَ چا خلاف چې هغه جهاد کوی دَ هغۀ کرسۍ به څنګه قبوله کړی ۔ په دے حواله یې دَ خپل اسلامی علم په رڼا کښې دَ قرآن شریف او احادیث مبارکه څو څو ثبوتونه پیش کړل ۔ هغه نه دکرسۍ اوږے وو نه دَ مشرۍ اوږے وو بلکه دَ جهاد اوږے وو۔ کله کله به یې په خپل کیمپ کښې دَ شپې دَ الله اکبر چغے وهلے ۔
هغۀ دَ اسامه بن لادن مخالفت په دے وجه اوکړو چې دَ افغانستان جهاد دَ افغانستان او قبائلی سیمې مجاهدینو ته پریږدی او په خپله

فلسطین ته لاړ شی او دَ اسرائیل خلاف دَ جهاد اعلان اوکړی ۔ دا مرد مجاهد دَ اسلام دَ یو سپاهی په حیث دَ نورو مجاهدینو سره اوږه په اوږه تر هغې جنګیدو چې دَ روس فوج په هر محاذ ماتے اوخوړه ۔ ګونټې یې اولګولے او هار یې اومنلو ۔ روس دَ افغانستان نه اووتو ، مجاهدینو ورپسې لاسونه پړق وهل خو دَ هغهٔ په دے سود اونشو اودَ هغوی دَ مقابلے او دَ شهادت شوق پوره کولو دَ پاره ورپسې روس ته لاړو ۔ په چیچنیا کښې یې دَ هغوی خلاف محاذ پرانستو او دَ اسلام بیرغ په لاس یې دَ چچنیا دَ مسلمانانو دَ ازادۍ اعلان اوکړو ۔ هغه لا په دغه محاذ جنګیدو چی دَ مور ، پلار په وینا کلی ته واپس لاړو او هلته یې دَ هغوی دَ ارمان پوره کولو دَ پاره دَ خپل ترهٔ لور سره واده اوکړو ۔ دَ وادهٔ نه کال ، دوه پس هغهٔ فلسطین ته تلل غوښتل خو چی مور، پلار اجازت ورنکړو نو په خپل کلی کښې یې یوه مدرسه جوړه کړه او په هغې کښې یې دَ دینی تعلیماتو درس وتدریس شروع کړو۔ هغه له خدایٔ ګڼ شمیره اولاد ورکړے وو چی پنځه پکښې هلکان او درے جینکۍ وې ۔ دَ هلکانو او جینکو نومونه بالترتیب داسے وو۔ عبدالله، عبدالرحمان، عبدالباسط ، عبدالغفار، عبدالرزاق، طیبه، رقیه او عائشه وو۔

عبدالحق صیب په خپلو مصروفیاتو کښې لګیا وو چې دَ اسامه بن لادن په بهانه امریکے په افغانستان حمله اوکړه ۔ دے سره دَ عبدالحق صیب وینه بیا جوش کښې راغله خو دَ خپلو زلموزامنو عبدالله او


www.pukhto.net



عبدالرحمان دَ جذبهٔ جهاد په وجه هغه خپله اراده او ځانګوله او هغوی دواړه جهاد له لاړل ۔ دواړو دَ پلار په پل ، پل ایښې وو۔ په هر محاذ په مړانه اوجنګیدل خو اخر په قندوز کښې په اوږے خیته دَ څو څو ورځو جنګیدو نه پس دواړه شهیدان شو ۔ دَ هغوی دَ شهادت نه پس هغهٔ په خپله تلل غوښتل خو دَ خپلو شاګردانو په ضد باندے هغه پاتے شو او هغوی لاړل ۔

عبدالحق صیب په افغانستان کښې او خپله سیمه دَ کمانډر په نوم مشهور شوے وو۔ چې په دویم ځل جهاد تلو ته جوړ نشو نو بیا به یې په خپله علاقه کښې مجاهدین تیارول او جهاد له به یې لیږل ۔ ځینې مجاهدین یې په خپل اثر رسوخ دَ افغانستان په فوج او پولیس کښې هم بهرتی کړل ۔ بیا به په افغانی وردۍ کښې ملبوس دغه مجاهدینو دَ امریکے فوجیان ویشتل او مړهٔ کول ۔ امریکے ته چې دَ هغهٔ دَ خفیه سرګرمیو پته اولګیده نو دَ افغان حکام او دَ ځینی سرکاری عالمانو په ذریعه یې هغه سره رابطے اوکړې او دَ ګورنرۍ بلنه ورکړے شوه چې هغه اونه منله نو بیا یے هغه دَ یو څو نورو ملګرو سره بلیک لسټ کړو او دَ هغهٔ دَ وژلو منصوبے یې جوړے کړې ۔ دَ هغهٔ دَ سر قیمت یې په لاکهونو ډالره مقرر کړو ۔ دَ هغهٔ ختمولو پسې ډیر منافقین دَ هغه په ډله کښې شامل شو او دَ هغه دَ وژلو د پاره یې دَ وخت او موقعے انتظار کوو خو چی کله هغه ته پته اولګیده نو هغوی اونیولے شو ۔ دَ باقاعده تحقیق او اعتراف نه پس دَ هغوی سرونه دَ امریکائی فوج

افسرانو له دَ ډالۍ په شکل کښې اولیږلے شو۔
چې په دے اونشوه نو امریکے په خپله دَ هغه مرګ پسې راواخسته او په داسے محال یې دَ هغه په کور ډرون حمله اوکړه چې هغه دَ تهجدو نمونځ له جمات ته تلے وو او دَ هغه بال بچ اوده وو۔ هغه بچ شو خو دَ هغه کور لوټے لوټے شو او دَ هغهٔ بی بی او بال بچ اوده په اوده ټول شهیدان شو ۔ دا دَ امریکے ړومبۍ ډرون حمله وه ۔ دے نه پس دا سلسله شروع شوه او لا تر اوسه جاری ده ۔ دے نه پس هغهٔ خپل زوړ کور پریښودو او دَ غرونو او ځنګل په مینځ کښې یې دَ مجاهدینو په مرسته داسے ځائے جوړ کړو چی څهٔ دَ غرونو په غارونو کښی وو او څهٔ بالکل زمین دوز وو ۔ دا ځائے د ګڼو اونو په وجه دَ امریکے هوائی کیمرو ته نه ښکاریدو، هغه په ګڼه کورنۍ کښې یوائے پاتی شو نو چی کله دے نوے ځائے ته راغی نو دا یې دَ مجاهدینو مرکز کړو۔ دلته به یې مجاهدین تیارول او افغانستان ته به یې لیږل ۔ دَ هغه دا جهادی هلے ځلے لا جاری وې چی دَ افغانستان ځینی عالمانو دَ هغه دَ جهادی سرګرمیو مخالفت اوکړو او دَ هغهٔ لیږلو شوے مجاهدینو ته یې تر هه ګر، دهشت ګرد او شرپسند ویل شروع کړل ۔ دے نه علاوه یې امریکے له په دغه سیمهٔ دَ زمینی حملے او دَ شرپسند عناصرو ختمولو مشوره هم ورکړه ۔ دا ټول هغه عالمان وو چې دَ روس دَ حملے په وخت کښې دَ هغهٔ جنګی کمانډران پاتې شوی وو۔ کمانډر صیب ته چې پته اولګیده نو هغهٔ دَ "دفاع وطن" په نوم یو تنظیم جوړ کړو ۔ دَ


www.pukhto.net



افغانستان پولے سره جخت یې خپلې څوکۍ او مورچے جوړے کړے او د خپلی سیمے دفاع یې شروع کړه ۔ د دے تنظیم کاردَ بیرونی دراندازۍ مخ نیوے او په خپله سیمه کښې په مشکوکو کسانو نظر ساتل وو ۔ دا تنظیم د دے علاقے په چنده ، خیر ، خیرات او عشر زکات چلیدو ۔ دے نه علاوه د دے دَ امدن بله ذریعه نه وه ۔ دَ کمانډر صیب دا اقدام پاکستانی فوج سره لویه مرسته وه خو هغه دَ چا دَ مرستے دَ پاره دا کار نه کوو بلکه دا یې د دے علاقے دَ تحفظ دَ پاره کوو۔
اګر چې پاکستانی فوج سره دَ هغهٔ ښهٔ تعلقات وو ځکه چې د دواړو مقصد یو وو او کله کله به دَ هغهٔ مرکز ته په سپینه جامه کښې راتلل۔ هغه سره به یې چاے ، اوبه هم څکلے او په ملکی او بیرونی حالاتو به یې خبرے هم کولے ۔ کمانډر صیب دَ هغوی ډیر قدر کوو خو سیاسی مشرانو سره یې دَ هغوی په پالیسۍ او دَ امریکے او نورو صیهونی طاقتونو دَ غلامۍ په وجه سخت اختلاف لرو۔ دَ کمانډر صیب هغه سرے خوښ وو چې دَ امریکے دشمن وی او هغه سړی یې دشمن وو چی دَ امریکے دوست وی ۔ دَ امریکے او روس نه علاوه هغه دَ هر ظالم او جابر خلاف وو۔ هم دغه وجه وه چې هغه په خپله سیمه کښې دَ ظالمانو ملکانو زور ختم کړو او خبره دے له راغله چې ټولو دَ هغهٔ په لاس دَ یوے رورولۍ او دَ اسلام دَ سربلندۍ دَ پاره بیعت اوکړو۔
کمانډر صیب چی په ړومبۍ ځل دَ جانو بابا په حجره کښې شایان اولیدو نو دَ هغه په مخ کښې ورته خپل ځوی عبدالله شهید ښکاره

شو ۔ دے سره دَ هغۀ په مخ مسکا خوره شوه او زړۀ غوښتل چې هغه ځان تـه راترغاړه باسی او دَ هغه په مخ کښې زلیدونکی دَ خپل ځوی مخ ځوځوځله ښکل کړی خو خپل عزت نفس اجازت ورنکړے شو۔ بیا روستو په یوه موقعه دَ امریکے دَ دوستئ او دشمنئ په خبرو دَ دواړو مینځ کښې خوږے ترخے راغلے ۔ دَ کمانډر صیب او شایان دا خفګان په ظاهره ډیرے ورځے وو خو چې کله هغوی دَ هسپتال نه واپس شو او شایان ورته خپله قیصه ټکې په ټکې تیره کړه نو کمانډر صیب لـه دَ هغۀ پـه حالت رحم ورغئ ۔ سترګے یې دَ اوښکو نه ډکے شوے او چې کله هغه ته ورترغاړه وتو نو ټولے یې دَ هغه په مخ اوبهولے ۔ او دَ عبدالله نوم یې په هغه پوخ کړو او په ټول مرکز کښې په دے نوم مشهور شو۔

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## څوارلسم باب

دَ ذوالفقار خان دَ ځوی وقار خان او دَ چل ولی کاکا دَ رونړو جوړه په مقرره تاریخ دَ شایان په حجره کښې وه ۔ دا جوړه دَ سیف علی خان دَ څلویښتئ په ورځ وه ۔ مشرخان لوے انتظام کړے وو۔ لوے لوے عالمان ، فاضلان وکیلان، افسران ، دَ هغۀ خپل ټول ځامن ، اینګیاندے لور، نواسا ، نواسی ، خپل خپلوان، دَ خان آباد ، شینکی ډهیرئ او دَ خواؤ شاکلو ټول سپین روبی مشران یې راغوښتی وو۔ دَ جوړے نه مخکښے هغه یو لنډ شان تقریر اوکړو ، بیا یې ورته دَ روروَلی او حسن سلوک تلقین اوکړو او دے نه پس یې ورته دَ شاملات په باره کښې یو څو خبرے اوکړے ۔ مشرخان دواړه فریقو ته دَ جرګے په مخکښے اووے چې "دغه شاملات ما ستاسو دَ ټولو له خوا وقف کړو۔ دیکښې به دوه دَ هلکانو او جینکو سکولونه او دَ هغوی دَ پاره دوه کالجونه جوړیږی ۔ دے نه علاوه یو هسپتال او یو دَ څارو دَ پاره یوه شفاخانه جوړیږی او چې کومه پاتے شی هغه دَ غریبانانو، مزدورانو هدیرے ته وقف شوه ۔

دے نه پس یې هغوی ټول یو بل ته ورترغاړه ویستل ۔ دَ جوړی نه پس د ډوډۍ اوخوړے تیارے شروع شو ۔ مشرخان دَ یو بل دَ سر قاتلان په یو تالی او په یوه مجمعه کینول او په خپله دَ هغوی په مینځ کښې کیناستو ۔ چې ډوډی اوخوړے شوه نو ټولو دَ هغه شکریه ادا کړه او په خوشحالئ خوشحالئ خپلو خپلو کورونو ته لاړل ۔

چې میلمانهٔ رخصت شو نو مشرخان ، مشره بی بی او کونډه بی بی (یاسمین بی بی ) پټو ته په چکر اووتل ۔ هغه دَ زمکے په یوسر او بل سر اودریدو او یاسمین بی بی ته یې اووې " مبارک شه خورے ۔ دوه سوه جریبه زمکه درنه تلے وه او درے سوه جریبه درله راغله ۔ دا ټوله زمکه ستاسو شوه ۔ ستاسو دَ خرڅ شوی دوکانونو نه علاوه دولس دوکانونه درله نور هم راغلل ۔ ستاسو دَ همسایهٔ دَ مینونه علاوه ستاسو دَ تربورانو خرڅے شوے زمکه هم ستا شوه ۔ ستا دَ مهر د پنځوست جریبه زمکے نه علاوه د دے ټولو مینو زمکے او دوکانونو انتقال شایان پسې اوشو ۔ ماستانه یو اورک شوے او مرور ځوې واخستو او دَ هغه په بدل کښې م تاله خپله ژنده لور درکړه ستا قبوله ده "؟

یاسمین بی بی په خوله څهٔ اونه وائی خو دَ هغه په خپو پریوځی ۔ مشرخان هغه په دواړه لاسه نیسی او پاخوی یې ۔ بیا ورته وائی "خورے اوس دعا کوه چې زما اورک ځوی پیدا شی او ستا ژنده لور په خیر راشی " دے سره یاسمین بی بی او مشره بی بی په چغو چغو په ژړا شی ۔

بیا ټول دَ سیف علی خان قبر له ورځی او هغه ته دعا کوی دَ دعا نه پس مشرخان دَ سیف علی خان قبر ته مخاطب شی او وائی " سیف علی خان ماستا دَ دوستۍ حق لا پوره نه دے ادا کړے ۔خفه نشی "۔ دے سره یې سترګی ډکے شی ، مخ بل خوا واړه وی او خپلې اوښکے اوچے کړی ۔





## دویمه برخه

په مرکز کښې دیګونه پخیدل ، دَ اخلی پخلی لوښی کړنګیدل او سهرے او پرپرکی لګیدل . خائسته خائسته خلق په نوے جامه پیزار کښې ګرځیدل ، یو بل سره یې خاندل او دَ یو بل په جامو او ږیرو یې عطر مږل ، مشران بهر دَ اونو لاندے ناست وو او په علمی او جهادی موضوعاتو یې خبرے کولے ۔ کمانډر صیب هم هغوی سره ناست وو خو دَ هغوی په خبرو کښې یې برخه نه اخسته ۔ نن هغه ډیر خوشحاله وو ځکه چې دَ هغه دَ ځوی عبدالله واده وو۔ دَ هغه نیم زړه دَ ناوے په کور وو نیم زړه یې په مرکز کښې وو۔ اګر چه هغه دَ ناوے کور او خپل کور پوره کړے وو خو بیا به هم کله کله دَ هغهٔ زړهٔ کښې راتله چې کیدیشی څه کمی راشی ۔ د دے کمی دَ پوره کولو دَ پاره هغه تیار ناست وو۔ چې کوم نوے میلمه به راتلو نو هغهٔ به هغهٔ له مبارکی ورکوله ۔ کمانډر صیبٔ به دَ هغهٔ مبارکی واخسته او هغه به یې په عزت او احترام نورو میلمنو سره کینولو ۔

هلته دَ جانو بابا په کور کښې دَ ناوے کوټه په ګلونو، امیلونو او سهرو خائسته کړے شوے او دَ اګربتو په وږو خوشبو داره کړے شوے وه، ملغلره دَ ناوے په روپ کښې دَ واده په خائسته جوړه کښې ګوټ خیلو سره ناسته وه او دَ خپل خاوند خیال تصویر ته یې کتل ۔ ګوټ خیلو به ورسره ټوقے ، ټقالے کولے ، هغه به یې تنګوله او خندوله ۔ بهر په غولی کښې دَ کلی جینکۍ راغونډے شوے وی چاخانک او دیګچې



Pukhto.Net
www.pukhto.net

وهلو ، چا لاسونه پړقول ، چا ګډا کوله او چا ورسره دَ بی بی شیرینی لوبه ویله ۔ شایان دَ مشرانو نه په لږه فاصله باندے یو اړخ ته په نوے جامه پیزار ، پټکی په سر دَ واده دَ زلمی په حیث په یوه کرسۍ ناست وو ۔ په ظاهره داسے معلومیده چې دَمشرانو خبرے اوری او په هغے غور کوی خو نه داسے نه ده ۔ هغه په خپل خیال کښې دَ هغوی نه ډیر لرے ولایت ته تلے وو او ثنا سره یې خبرے کولے ۔ ثنا دَ هغه نه ګیله منه وه او هغه دَ هغے نه ۔ ثنا هغۀ ته په ګیله من انداز اووے "شایانه ، تا ماله مبارکی رانکړه "؟

شایان :۔ دَ څۀ مبارکی ؟

ثنا ( مسکۍ شی ) ولے تاته پته نشته چې زمونږ ټیم دَ دریو ملکونو نه سیریز اوګټو ؟

شایان :۔ اوه ، دا خبره ده ؟ تۀ په دے مروره وې ؟ مروره مۀ شې ، مبارک شه ، مبارک شه "۔

ثنا ( مسکۍ شی ) داسے نه ، دا مبارکی ماته قبوله نه ده ۔ ماله دَ مبارکۍ تحفه راکړه ( خاندی )

شایان :۔ څۀ تحفه ؟

ثنا ( خاندی ) تۀ دَ دوو مئینو تحفه نه پیژنې ؟

شایان ( مسکې شی ) ښه ښه ، پوهـ شوم ۔ دے سره هغه دَ هغے دَ ښکلولو کوشش کوی او دَ هغے خیالی تصویر پسې خوله مخکښے کړی خو هغه ترینه روستو شی ۔ شایان پاڅی او دَ هغے دَ نیولو



www.pukhto.net



کوشش کوی خو چې دَ هغۀ دَ هوش سترګی اوغړیږی نو هیڅ اونه وینی ۔ هغه ډیر په مایوسۍ سره په کرسۍ واپس کینی۔ هغه لا دَ هغے په تصور کښې وو چې کمانډر صیب دَ هغۀ خوا له ورغی او ورته یې اووے ، " عبدالله بچے ، ستا دَ خوابښے دَ کوره یو استاذے راغلې وو۔ دَ هغے څۀ خپل خپلوان راغلی دی ۔ د دے سیمې دَ دود، دستور مطابق تاله څۀ نسخه اړدی ۔

شایان:۔ (په یره ) "جی " ؟

کمانډر صیب (مسکې شی ) یریږه مۀ بچے ، دا د دے علاقے دود، دستور دے ۔ ته وار مۀ خطا کوه ۔ ګل مرجان به دے په موټرسائیکل بوځی او هغه به درسره کور ته ورشی خو ډیر مۀ ایساریږه ۔ زر راځی ډوډۍ تیاره ده چې دعا دَ خیر پرے اوکړو ۔ (ګل مرجان ته ) ګل مرجانه دے ځان سره په موټر سائیکل اورسوه ۔ خو زر ترینه ځان خلاص کړۀ او راځۍ چې ډوډۍ شروع کړو "۔ کمانډرصیب میلمنو له ورغی او شایان ګل مرجان سره په مټوټر سایکل کیناستو۔ ګل مرجان په یو غر دَ مرکز نه اووتو او ډیر په تیزۍ روان وو۔ چې دوه ، درے فرلانګه مخکښے لاړل نو ناګهانه یو ګړز اوشو ۔ پرله پسی شپږ میزائیل په مرکز اولګیدل او تورے لوخړے ترینه پورته شوے ۔ هغوی لا مرکز ته کتل چې پرله پسې څلور میزائیل دَ جانو بابا په کور پریوتل او دَ هغے نه هم تورے لوخړے پورته شوے ۔ ګل مرجان ګاډی واپس کړو او مرکز ته روان شو۔ چې هلته اورسیدل نو لویه تباهی شوے وه ۔ دَ مرکز متعلقه غرونه

راپریوتی وو۔ څۀ مجاهدین په غارونو کښې ایره شو او څۀ بهر پراتۀ وو۔ چې دَ اونو لاندې کوم مشران ناست وو څۀ ایره شوی وو او څۀ باندې دا لمبې ګرځیدې ۔ په دغه کسانو کښې دَ میلمنو او دَ شورئ دَ ارکان نه علاوه کمانډر صیب هم شامل وو۔ شایان اوګل مرجان یوه شیبه دم ختلی ولاړ وو ۔ بیا ګل مرجان شایان ته اووے " راځه چې هلته ورشو ګل مرجان ډیر په تیزی سره دَ مرکز نه اووتو۔ چې دَ جانو بابا کور ته اورسیدل نو ټول کور لوټے لوټے وو او اور پرے بلیدو ۔ په دیکښې دَ کلی کسان هم را اورسیدل خو هغوی هیڅ نشو کولے ۔ دَ میاندو ، خویاندو او لوڼو په لاشونو یې دَ اور لمبو ته کتل خو نزدې نشو ورتلے ۔

شایان خپله ناوے نه په ژوند لیدلے وه او نه یې په مرګ اولیده ۔ دَ هغۀ او ګل مرجان سترګے دَ اوښکو نه ډکے وې ۔ ګل مرجان ګاډی سټارټ کړو او هغه ته یې اوې راځه چې مرکز ته ځو ۔ چې مرکز ته ورغلل نو دَ غرونو اور مړ شوے وو خو دَ اونونه لا هغسے لمبې ختلے ۔ ټوله زمکه او کانی داسے سرۀ شوی وو چې څوک نزدې نشو ورتلے ۔ دَ لاشو پیژندګلو نه کیده . . .هغوی دواړو دَ لاشونو دَ هډوکو سپینې ایرے ته کتل او ژړل ۔

### دریمه برخه

هلته مشرخان او دَ هغۀ ټوله کورنۍ دَ ډیرے خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیدل ځکه چې ثنا دَ ولایت نه راروانه وه ۔ مشرخان دَ هغې دَ راتلو خبر ټولو ځامنو او اینګیاندو له ورکړے وو خو دَ هغې دَ راتلو


www.pukhto.net



وخت یې چاته نه وو ښودلے ځکه چې که چرے هغوی ټول خبرے شوے وې نو بیا کور څوک هم نه ایساریدل ۔ بله دا چې مشرخان په خپله مینه کښې بل څوک خو لاپرېږده چې دَ هغې مور هم شریکول نه غوښتل ۔ دے دَ پاره هغه سحر وختی په ګاډی کښې کیناستو او ایرپورټ ته یواځې لاړو۔ چې څنګه هغه دَ ګاډی نه کوز شو نو پاس په هوا کښې یو جهاز ښکاره شو ۔ جهاز په ایرپورټ یو دائره نما چکر وهلو ۔ دَ جهاز تاویدو سره دَ هغۀ زړه پاس په هوا کښې دَ ثنا نه چاپیره تاویدو ۔ چې کله جهاز راکوز شو نو دَ هغۀ زړه مطمئن شو خودَ هغې لیدو پسې یې داسے ټوپونه وهل لکه دَ عمرونو بنده مرغۍ چې په پنجره کښې بهردنیا پسې ټوپونه وهی ۔ چې کله هغه او انیله دَ جهاز نه بهر را اووتل او هغه ورته دَ لرے نه اوکتل نو دَ هغۀ په مخ او سترګو مسکا خوره شوه ۔ دَ امیګریشن کارروائی نه پس هغه او انیله دَ دوو غټو سوټ کیسونو سره بهر رااووتے ۔ ثنا ګلابی سوټ اچولے وو لوپټه یې دَ V په شکل کښې په اوږو پرته وه ۔ تورے زلفې یې څۀ دَ لوپټې دَ پاسه په اوږو پرتے وې او څۀ دَ هغې مخے ته زانګیدے او دَ هغه په سینه تلے راتلے ۔ هغې تورے چشمے اچولے وې او په مخ یې مسکا ګډا کوله ۔ مشرخان چې هغه اولیده نو نور صبر ترینه اونشو او بے اختیاره یې چغه کړه "ثنالورے "دے سره هغه خور غیږ هغې له ورمنډه کړه ۔ هغې چې دَ مشرخان اواز وورېدو نو دَ لرے نه لاسونه خواره کړل ۔ دواړه یو بل ته ورترغاړه وتل او په چپو خولو ډیره شیبه

غیرږ په غیرږ ولاړ وو ـ بعضې وخت چې خوشحالی دَ برداشت دَ حد نه ووړی نو سترګو له اوښکے راځی ـ دغه کار نن مشرخان او ثنا سره هم اوشو ـ مشرخان چې خپلې اوښکے اوچے کړے نو بیا یې ثنا ته اوکتل۔ دَ ثنا دَ سترګو نه ، دَ چشمو لاندے دَ اوښکو دوه لړی دَ هغے په مخ را روانے وې ـ مشرخان چی دَ هغے اوښکے اولیدے نو پوھ شو چی دَ هغے اپریشن کامیاب شوے دے ـ هغه مسکے شو دَ هغے اوښکے یې په دواړه لاسه اوچے کړې ، بیا یے په دواړه لاسه دَ هغے دَ سترګو نه چشمې لرے کړے ـ ثنا ته پته اولګیده چی هغه خپله تسلی کوی نو هغه مسکی شوه ـ مشرخان چې دَ هغے غټی ګولی سترګے اولیدے نو دواړه یې بے واره بے واره ښکل کړے ـ بیا یې ترینه تپوس اوکړو"لورے نظر دے لګی " ثنا په خندا شوه او خندا سره دواړه اننګی ترخے ترخے لاړل او وے وئیل " ابو دومره فرق پکښې راغلے دې چی ما په نابینائی کښې ستا کوم تصویر په زړهٔ کښې جوړ کړے وو خوبخو هم هغه نورانی شکل کښې اوس تاسو وینم "۔ دے سره هغوی دواړه بیا غیرږ په غیرږ شو او یو بل له یې مبارکی ورکړه ـ دَ مشرخان دَ مینے تنده چې ماته شوه نو بیا انیله ورغله او هغه ته یې سلام اوکړو۔ مشر خان دَ هغے په سر دَ مینے لاس کیښودو او دَ روغ جوړ تپوس یې ترینه اوکړو۔ بیا یې سامان په ګاډی کښې کیښودو او انیله ورسره کیناسته چی ګاډی روان شو نو ثنا دَ پلار نه دَ مور او دَ ټول کور تپوس اوکړو۔ دے نه پس یې دَ شایان تپوس اوکړو او پلار ته یې اووے "ابو شایان ولے



www.pukhto.net



رانه غی ؟ مشرخان دَ پاره دَ شایان تپوس غیر متوقع نه وو ـ هغه دَ مخکښے نه جواب تیار کړے وو۔ زر یې ورته اووے "هغه په فوج کښې بهرتی شوے دے ـ فی الحال ټریننګ کوی ، نه ورته چھټی ملاویدیشی او نه دَ تربیت په دوران کښې موبائل استعمالولے شی ـ (خاندی) مونږ به هغه له سر پرائز ورکوو"۔

هغه دَ مشرخان په جواب مطمئنه نشوه ـ هغے ته پته اولګیده چې هغه دَ هغے دَ زړهٔ دَ پاره داسے اووے ـ بهرحال دَ هغهٔ دَ خاطره هغه مسکی شوه ـ دَ ثنا دَ مسکا په جواب کښې هغه هم مسکے شو خو دَ دواړو دَ مسکا په شا هغوی دواړو ته دَ یرونکو طوفانونو نښخے ښکاره شوے ـ

چی کورته اورسیدل نو ټولو ورته دَ vip غوندے هرکلے اووے ـ وړو ګلدستے په لاسونو کښې نیولے وے او غټو پرے ګلونه او دَ ګلونو پاڼی شیندلے ، چا ورته دَ ګلونو سهرے اچولے او چا ورته دَ ګلونو امیلونه۔ بیا به یې دَ رونو ،دَ هغوی دَ ښځو او بال بچے نه یو یو کس دَ هغے مخے ته اودریدو او بل به ترینه تپوس کوو" دا اوپیژنه څوک دے "۔ دا ټول څهٔ نوے کسان نه وو۔ هغے سره به یو کور ، یو تالی او یو نغری پاتې شوی وو۔ هغے صرف په خبرو پیژندل خو اوس به چې ورته هغے کتل نو کړمے به ورته پیښی دے ـ دَ یو کس نوم به یې بل ته او دَ بل به یې بل ته اخستو۔ دا خندا خوشحالی تر ډیر وخته جاری وی ـ دے نه پس هغے ټولو له خپلی خپلی ډالی ورکړے البته دَ شایان تحفه یې

یاسمین بی بی له ورکړه ـ دَ مشرخان دَ جواب نه پس هغې دَ بل چانه دَ شایان تپوس اونکړو ـ هغې نـه غوښتل چې دَ هغې پـه وجـه ټول پریشانه شي بلکه هر څۀ یې الله ته پریښودل او صرف دَ هغه نه یې دَ هغـۀ دَ لیدو او هغه سره دَ ملاویدو دعا غوښتله ـ دَ ثنا دَ سترګو نظر بالکل ټیک شوے وو خو دَ نمر دَ تیزو پلوشونه دَ بچ کولو دَ پاره به یې تورے چشمے استعمالولے ـ هغې په نظر دنیا اولیده ـ مور، پلار، رونړه، خور، اورندارے او ټول خپل خپلوان یې اولیدل خو دَ چا دَ لیدو چې هغې ارمان کوو هغه یې لا تراوسه نه وو لیدلے ـ دَ هغې سترګو کښې دَ نظر راتلو سره هغه دَ یوے لوبغاړے په حیث دَ خپل ټیم دَ لوبغاړو نه اووته څکه چې اوس هغه نابینا نه وه البته دَ هغوی دَ کو چنګ پیشکش متوقع وو.

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★



www.pukhto.net



## پنځلسم باب

چې دَ مرکز اور مړ شو. زمکه او کانی یخ شو نو دَ مړو په ایرو کښې پراتۀ تیر پاتې هډوکی ټول راغونډ کړی شو او په یو کالبوت کښې واچولے شو. دغه رنګے دَ جانو بابا په کور کښې دَ زنانهٔ او وړو ماشومانو هډوکی راغونډ کړی شو او په بیل کالبوت کښې ټول کیښودے شو. دَ ټولو یوه جنازه اوشوه او ټول په دوه اجتماعی قبرونو کښې ښخ کړی شو. دَ جنازے او کفن دفن نه پس ټول خوارۀ شول او خپلو خپلو کورونو ته لاړل خو شایان په هدیره کښې پاتے شو. دَ دواړو قبرونو په مینځ کښې ناست وو او په چغو چغو یې ژړل ـ هغه درے ورځے دَ هدیرے په خاوُرو کښې دَ دواړو قبرونو په مینځ کښې اوږے، تږے پروت وو او دغه قبرونو ته به یې کتل ـ دَ کمانډر صیب مرګ سره دَ هغۀ ملا ماته شوه هغه دَ هغۀ دَ ژوند اخری سهاره وه ـ هغه دَ هغۀ دَ مشر نه مشر او دَ پلار نه پلار وو. دَ هغۀ دَ مینے یوه یوه خبره به هغه ته یادیده او په سرو سترګو به یې دَ هغۀ خیالی تصویر ته کتل.

هغه اګر چه خپله ناوے لیدلے نه وه خو کومه صدمه چې هغه ته دَ هغې په مرګ رسیدلے وه، هغه دَ کمانډریب دَ مرګ دَ صدمے نه کمه نه وه ـ هغۀ په خپل زړه کښې دَ هغې څو څو تصویرونه جوړ کړل. رومبی تصویر دَ یوے حیاناکے او جفاکښې پیغلی په روپ کښې وو چې دَ واخو پنډ په سر دَ حجرے په ګیټ دننه شوه او پټ مخ کور ته روانه وه ـ دَ هغې دویم تصویر دَ ناوے په روپ کښې وو. سره بنارسی

په سر، دَ وادهٔ په نوې جوړه کښې ناسته وه ۔ تورے الوول زلفې یې په مخ زانګیدے ، سور پیزوان یې سرے شونډے ښکولې او دَ سرو امیل یې دَ مینے دَ خزانو په مینځ کښې دَ هغوی په وړمو خاموشه پروت وو ۔ دَ هغے غوږونه دَ هغهٔ دَ خپو دَ کړپ په انتظار وو او سترګې یې دَ کوټے په ور لګیدلے وې ۔ دَ هغے ارمانونه دَ بلوغت نه مخکښے کچه په کچه لاړل ټول ختم شو۔ دَ هغے دریم تصویر هغه وو چې دَ هغے په ټول بدن اور لګیدلے وو ۔ دَ وادهٔ بنارسی، دَ وادهٔ جوړه ، خورے ورے تورے زلفې او دَ وړمو ډک نازک دَ اور په لمبو سوزیدو ۔ هغے دَ اور مړکولو کوشش کوو خو مړ کولے یې نشو ۔ خپل مجازی خداې شایان ته یې دَ مدد دَ پاره چغے وهلے خو چې هغه ورنه غی او دَ هغه نه مایوسه شوه نو په چپه خوله دَ اور ناترسه سرو لمبو سره غاړه غړې شوه ، او ایره ایره شوه ۔ دَ هغهٔ دَ خپل ځان نه کرکه پیدا شوه ۔ هغه خپل ځان دَ هغے دَ ارمانونو او دَ کمانډر صیب دَ امیدونو قاتل ګڼلو ۔ هغهٔ په زړهٔ کښې ویلے چې دا هر څهٔ دَ هغه په وجه اوشو ۔ که هغه دلته نه وی راغلے نو نه به کمانډر صیب مړ شوے وو، نه ملغلره ، نه دَ هغے مور پلار نه دَ هغهٔ مجاهدین ملګری او نه دَ کلی واړهٔ ماشومان او زنانه۔ هغه ته خپل ځان دَ دے ټولو مجرم او قاتل ښکاریدو۔

په ځلورمه ورځ هغه په زمزمبولی پاڅیدو ، جامے یې اوڅنډلے او مرکز ته روان شو ۔ چې هلته اورسیدو نو هیڅوک نه وو۔ نه آدم او نه آدم زاد ۔ البته یو څو سپې دَ غوښے بوئیں پسی،دَ خوراک په طمعه





راغلی وو۔ دَ اونو په سیوری لکه دَ سترو مسافرو پراتهٔ وو او یو څو کوترو په ایرو کښې مستی کولے ۔ هغهٔ ته داسے معلومه شوه چې فطرت د دے هر څهٔ نه بے نیازه دے ځکه چې دَ نمر دَ زیړو پلوشو په ښکلا کښې ، دَ هوا په مستۍ او ګډا کښې ، دَ مرغو په چغار کښې په سرود دَ آبشار کښې او دَ فطرت په کاروبار کښې هیڅ کمې بیشې نه وو راغلے ۔ دَ هغهٔ په غونډو ملګرو کښې یو هغه ژوندے پاتے شوے وو او بل ګل مرجان ، ګل مرجان په ظاهره ژوندے وو خو هغه هم دَ مړو نه کم نه وو ځکه چې دَ هغهٔ ښځه او دَ هغے دَ تی ماشوم ځوے دواړه ایره شوے وو البته دَ درے ځلورو کالو یوه وړه لور یې پاتے شوه ځکه چې هغه مور سره وادهٔ له نه وه تلے ۔ شایان به یو یو غر ته او یو یو کانی ته په دے غرض کتل چې دوی ته به کمانډر صیب کتلی وی ۔

هلته امریکے کښې دَ مجاهدینو او ماشومانو په قتلِ عام باندے دَ خپلې لوے کامیابۍ اعلان اوکړو۔ په خپل اعلان کښې امریکے دے دواړه ځایونو ته دَ غیر ملکی ترهه ګرو اډے اوویلے او دَ هغے په تباهی یې په امریکه او افغانستان کښې خوشحالۍ اوکړے ۔پاکستان د دے ډرون حملو تصدیق اونکړو خو په پنځمه ورځ چې یې په هیلی کاپټر کښې جائزه واخسته نو دَ دوربینو او کیمرو په ذریعه یې د دے تباهی تصدیق اوکړو۔

★★★★

★★



Pukhto.Net
www.pukhto.net

## دویمه برخه

شایان دَ مرکز په ورانو کنډرو کښې ښه په پخه پروت وو ۔ کله کله به تیر پاتے مجاهدین ، دَ کمانډر صیب شاگردان او دَ هغهٔ زاړه دوستان راتلل ۔ هغه سره کیناستل او دَ هغهٔ نه به یې دَ ډرون حملے متعلق تپوسونه کول ۔ یوه ورځ گل مرجان هم راغی ۔ چې شایان یې اولیدو نو هغهٔ سره کیناستو او تر ناوخته پورے یې ورسره دَ کمانډر صیب او دَ خپلو مجاهدینو ملگرو خبرې کولے ۔ چې کله کورته تلو نو هغهٔ ته یې اووے چې "شایانه ماسره گاډی ته اوخیژه چې کورته ځو"۔ شایان هغه ته انکار اوکړو او دا جواز یې پیش کړو چې تر ځلوېښتی پورے به هغه دغلته وی او کیدیشی چې باقی ټول عمر دغلته تیر کړی ۔

گل مرجان:۔ "شایانه زهٔ ستا دَ عقیدت ستاینه کوم خو تر څو به دلته په خاؤرو کښې پروت یې ۔ که ته دَ ځلوېښتی خبره کوے نو دا خو هر ځائے کیدیشی دا دنیا ده شایانه ، دا هم داسے چلیږی ، داسے ډیر زمونږ رونړه مجاهدین شهیدان شو ۔ خو دَ چا په تلو دَ دنیا کاروبار نه ختمیږی۔ ژوند دَ ژوندو نوم دے دَ مړو نه ۔ په خپلو مړو دَ ژړا او ویر کولو نه بهتره دا ده چې ټول متې اونغاړو ، بډے اووهو او دَ هغوی بدل واخلو ۔ که مونږ ټوپکې اوغورځوو، لاس په لاس کینو او په خپلو مړو ژړا کوو نو امریکه به مونږ ژړا ته هم پرے نهږدی ۔ مونږ له پکار دی چې خپل تنظیم منظم کړو او خپلې هلے ځلے بیا شروع کړو ۔ ته داسې اوکړه چې یو څو ورځو له خپل کلی ته لاړشه ۔ مور پلار



www.pukhto.net



سره به لیدل ، کتل هم اوکړے ، هوا به دے هم بدله شی او غم به دے هم لږ ډیر کم شی ۔ که بیا دے شوق کیږی نو راشه ، گینې ته هډو راځه مه ۔ زهٔ به تاپسی په خپله درشم ۔ ما ستاسو کلی لیدلے دے ۔

شایان:۔ یارگل مرجانه ، کلی ته څنگه لاړشم ۔ زهٔ دَ پولیس نه دلته نه خلاصیږم نو هلته به ترینه څنگه خلاص شم (گل مرجان هغه ته گوری او خاندی ) "ماخودَ خندا خبره نه ده کړے چې راپورے خاندې، ماخو درته خپله کمزوری اوویله چې ....

گل مرجان (دَ هغه دَ خولے نه خبره اخلی ) " زهٔ ستا بُزدلۍ پورے خاندم ته اوس دَ څهٔ نه یریږے "؟

شایان:۔ دَ څهٔ نه یریږم ؟ څهٔ مطلب ؟ ولے تاته پته نشته چې زهٔ ملزم یم "۔

گل مرجان :۔ تهٔ ملزم یې ، مجرم نه یې ۔ چې تا جُرم نه دے کړې نو یریږے ولې ؟

شایان :۔ جرم مِ نه دے کړے خو کیس راباندے جوړ دے کنه ۔

گل مرجان :۔ ولې تاته کمانډر صیب ستا دَ کیس متعلق څهٔ نه دی ویلے ؟

شایان :۔ نه ، ماته خو هیڅ معلومات نِشته ۔

گل مرجان :۔ ښه نو رورجانه ،کمانډر صیب ته پته لگیدلے وه چې په تا جوړ کیسونه ټول جعلی وو۔ زهٔ کیس ختمولو دَ پاره کمانډر صیب دَ بنو ن جیل ته لیږلے ووم ۔ هلته مِ داروغه ته دَ کمانډر صیب پیغام ورکړو چې دَ شایان ټول کیسونه ختم کړه گینې دَ خپل بال بچ نه لاس

Pukhto.Net

اووینځه ـ هغه زما ډیر عزت اوکړو او ماته یې اووې چې کله په جیل حمله اوشوه نو په هغې کښې ټول ریکارډ اوسوزیدو ـ او هغوی سره هیڅ ریکارډ نشته ـ البته دَ هغه دَ کلی متعلقه تانې ته لاړ شه هلته دَ هغه ریکارډ پروت دے ـ ما کمانډر صیب سره په موبائیل خبره اوکړه او دَ هغه ځائے نه ستاسو دَ کلی خان آباد تانې ته لاړم ـ هلته چې اورسیدم نو تانیدار له مې دَ کمانډر صیب پیغام ورکړو ـ هغه چې دَ کمانډر صیب نوم او پیغام واوریدو نو رچ پرے راغی ـ زر زر یې فائل راواخستو او ماله یې راکړو ـ په راتلو کښې یې راته دا هم اووے چې "کمانډر صیب ته مې سلام کوه"ـ هغه فائل ما راوړو او کمانډر صیب له مې ورکړو ...خو داسے معلومیږی چې هغه فائل هم لاړو اوسوزیدو۔

شایان:ـ ته ګوره دَ خدای مسلمانه ، دا دومره لوے کار شوے دے او تا زمانه پټ ساتلے دے ـ

ګل مرجان :ـ پټ خو ما ځکه ساتلے وو چې دا کار دَ پټې وو۔ بله خبره دا ده چې دَ کمانډر صیب دَ اجازت نه بغیر ماته چرته خبرولے شوے۔

شایان :ـ ته زمونږ کلی ته کله تلے وې ؟

ګل مرجان :ـ زهٔ دغه تیره هفته کښې تلے ووم ـ ستاسو په کلی کښې دَ مشرخان په کورنۍ کښې څهٔ مړے شوے وے ـ په هغه ورځ یې په یو بل کلی کښې ښلویښتی وه او ټول کلی هلته چلیدو ـ

شایان :ـ دَ مشرخان په کورنۍ کښې څوک مړهٔ وو۔

ګل مرجان :ـ نور معلومات راته نیشته خو چې دومره ګڼه ګونه مې



www.pukhto.net



اولیده نو زما په تپوس راته یو سړی دا خبره اوکړه ...ښه رورجانه ګاډې تیار دے څه چې ځو ، راخیژه ـ

شایان :ـ نه ګل مرجانه نه ـ زما زړهٔ هم خفه دے او په تاسو هم ماتم دے ـ څه ته ورشه زهٔ به خپل سمون ته ګورم ـ

ګل مرجان :ـ ( په موټر سائیکل سوریږی ) ښه رورجانه زهٔ درنه لاړم سلام علیکم ـ

شایان :ـ وعلیکم سلام په مخه دے ښه ـ

## دریمه برخه

ثنا دَ ولایت نه څهٔ راغلے وه چې مشرخان دَ میلمنو دَ لاسه غوږ ګرولو ته اوزګار نه وو۔ یو خوا دَ هغے دَ کرکټ دَ لوبے په ګټلو مبارکی وه بل خوا دَ هغے په بینائی مبارکی وه چې یوه ورځ به یوه مبارکی اوشوه نو بله ورځ به بله مبارکی وه ـ چې یوه جتی نرے ښځے میلمانهٔ به دَ مشرخان دَ خپلوانو او دوستانو راتله نو دوه ، درے جتی به دَ مشرے بی بی دَ انګا بنګا دَ خپلوانو راتلے ـ بهر مشرخان او دَ هغهٔ زامن پوزے له راغلی وو او په کور کښې دننه مشره بی بی او دَ هغے اینګیاندے ناقلاره وې ـ دَ زنانهٔ غرض دَ ثنا لیدو کښې وو او چې هغه به یې اولیده نو بیائے لوے غرض دَ هغے غوښتو کښې وو۔ دَ مشرخان دَ یو لرے رشته دار مور هغه دَ خپل ځوی کپټن عاصم دَ پاره خوښه کړه ـ دَ مشرے بی بی خور دَ خپل ځوی ډاکټر ندیم دَ پاره اومیرله ـ دَ اعجاز خان خوابښے هغه دَ خپل ځوی انجنئیر همایون دَ پاره اونیوه۔

دَ لطیف خان خوابښخے مشرے بی بی سره دَ خپل ځوی بیرسټر سجاد دَ پاره غوړ اوجنګوو۔ هر میلمنے به دَ خپلې مخے غوړه نوړی ثنا ته نیوه ۔ هغے باندے دَ دعاګانو ، رحتمونو، تحفو، ښکولو او دَ من وسلویٰ باران وو۔ دَ هرے یوے دا کوشش وو چې په څۀ ناڅۀ طریقه هغه ځان له کړی ، دَ خپل ځوی تصویر ورته اوښائی ، دَ هغۀ دَ عهدے او کارکردګۍ ذکر ورته اوکړی ۔ دَ هغه اخلاق حسنه ، خوش مزاجی صله رحمی او انکساری ورته ټکې په ټکی اووائی ۔ دَ هغے دَ زړۀ دَ تسلۍ او دَ هغے دَ خوښخے دَ پاره ورته دَ هغۀ تصویر اوښائی او هغے ته ئې پریږدی ۔ دیکښے مشرخان او مشرے بی بی ته دَ اعجاز خان ، وقاص خان ، الطاف خان او لطیف خان او دَ هغوی دَ ښځو دَ سفارش دَ پاره هم اوویلے شو۔ وقاص خان خو چی تنګ شو نو دَ ایمرجنسی کال په بهانه یې دَ مشرخان اجازت واخستو ، بال بچ یې دلته پریښودو او پټ په پټه ترینه لاړو ۔ ډاکټر لطیف خان او ډاکټر انیتا دَ خاص اپریشن به بهانه اووتل ۔ الطاف خان چی هغوی ته اوکتل نو هغه دَ یوې ضروری پیشی په بهانه پټ په پټه لاړو ۔ دَ مشرخان په زامنو کښې یو اعجاز خان پاتے شو ۔ مشرے بی بی دَ ښیخی دَ پاره ټولو ته ځان له په ځان لـه "ښـه" کړی وو خو دَ مشرخان منظوری یې پکښې شرط اینښې وو۔ ډیر وپکښې مشرخان ته هم ځانونه اورسوو۔ هغۀ هم ټولو تـه "ښـه" کړی وو خو دَ ثنا دَ خوښخے شرط یې پکښې اینښے وو۔ یاسمین بی بی په چپه خوله د دغه ټولو ښځو خولو ته کتل او زړۀ به



www.pukhto.net



یې لـکـه دَ شګو دَ کمر رو رو خویدو او دوړیدو ۔ او خویدو به ولی نه ځکـه چې یاسمین بی بی دَ هغوی مخکښے څۀ وه ؟ یوه سابقه خدمتګاره ؟ دَ هغے دَ کورنۍ او دَ هغے دَ جائیداد دَ هغوی دَ کورنو او دَ هغوی دَ جائیداد مخکښے څۀ حیثیت وو ؟ دَ هغے ځوې دَ هغوی دَ زامنو په مقابله کښې څۀ وو؟ یو اواره یتیم ؟ چی په سر یې دَ لاس اینښودو هم څوک نه وو۔ کله کله به دَ یاسمین بی بی په زړۀ کښې راغله چی مشرخان هغه دَ هغے ځوی ته ویلے ده او هغے قبوله کړے ده خو بیا به یې په زړۀ اوخوړه چې هغه وخت هغه نابینا وه ځکه یې ورته ویلے وه ۔ هغه اوس نابینا نه بلکه بیناده ؟ او دَ هغه زاړۀ احسانات آیا کم دی چی هغه ترینه خپل ځوی له لور اوغواړی ؟ او په کوم حیثیت او په کومه خوله ترینه اوغواړی ؟ دَ مشرخان په مخکښے دَ هغے څۀ حیثیت دے ؟ دَ هغے په زړۀ کښې چې دَ ثنا دَ راتلو دَ پاره څومره خوشحالۍ ، څومره امیدونه او څومره ارمانونه وو هغه ټول واره په واره لاړل ختم شو۔ په هغه ورځ خو هغه دَ ډیر خفګان په وجه دَ خپلې کمرے نه هم بهر را اونه وته چی کله هغے دَ ثنا په لاس کښې دَ بیلو بیلو هلکانو څلور تصویرونه اولیدل ۔ یو یو تصویر ته به یې کتل او انیـلـه سره به یې پټ پټ خاندل ۔ او چی کله هغوی دَ هغے په سترګو پوهـ شو نو دواړه په خندا شوے او تصویرونه په لاس چمن ته لاړے ۔ بهرحال هغے دَ چانه ګیله نه کوله البته دَ خپل ځان ، حال او قسمت نه ګیله منه وه ۔ او ګیله منه به ولے نه وه ؟ صبا که ثنا په

ډولۍ کښې واچولے شي او دَ یوے ناوے په حیث دَ بل کور له ځي نو دَ هغے په زړهٔ به څه تیریږي ؟ دَ هغے دَ کامیابۍ او دَ هغے صحت دَ پاره هغے څومره دعاګانے کړے وې ـ دَ هغے دَ صحت دَ پاره په دعاګانو یې څو څو شپې رونې کړے وې ـ دَ خپل ځوی ورسره دومره غم نه وو لکه څومره چې ورسره دَ هغے وو ـ دَ هغے دَ پاره یې څو څو منښتې کړے وې او دَ هغے دَ وادولو دَ پاره هغے څۀ څۀ منصوبے جوړولې ؟ هغه ټولے لاړے تس نس شوے او هغے سره هیڅ پاتے نشو ـ هیڅ ، هیڅ ـ هرڅۀ لاړل ، هرڅۀ ختم شو ـ

## څلورمه برخه

صبا چې شایان هدیرے ته لاړو نو ټولو شهیدانو ته یې دعا اوکړه ـ دَ کمانډر صیب او نورو مجاهدینو اجتماعي قبر له یې غاړه ورکړه ـ په چغو چغو یې اوژړل او په ژړا ژړا کښې یې هغوی نه کلي ته دَ تلو اجازت واخستو ـ بیا دَ ملغلرے او دَ نورو شهیدانے زنانهٔ قبر ته اودریدو ـ په سلګو سلګو یې اوژړل او دَ ملغلرے نه یې کلي ته دَ تلو اجازت واخستو ـ چې روان شو نو څۀ ټوټه به مخکښے تلو او قبرونو ته به یې روستو کتل ـ په دے دے کښې هغه مرکز ته اورسیدو چې دَ ورانو کنډرو آخري دیدار اوکړي ـ ورانو کنډرو ته مخامخ کیناستو او ژړل یې ـ دَ هغهٔ په مخ لا دَ اوښکو لړۍ راروانے وې چې دَ شانه یو اوږد موټر راغلے او اودریدو ـ دَ اودریدو سره ترینه یو لوړ دنګ سور سپین سړے کوز شو هغهٔ سپینی جامے اغوستے وې ، تور واسکټ یې په



www.pukhto.net



غاړه کښې وه ، سپین غټ پټکې یې په سر تړلې وو، تورے چشمے یې اچولے وې لوے لوے ویښتهٔ یې دَ اوږو نه لاندے زانګیدل او توره سو چه ږیره یې دَ مخ نه تر سینې پورے زانګیده ـ هغه پسی یو ګن مین هم کوز شو او دَ موټر خوا کښې اودریدو ـ شایان چې هغهٔ ته اوکتل نو خپلې اوښکے یې دَ خیرن پټکي په ول اوچے کړے او هغه سره یې سترې مشی اوکړل ـ دا میلمه دَ شکل او وضع قطع نه جنګي کمانډر ښکاریدو ـ کمانډر صیب هغه ته یو نظر دَ شک په نظر اوکتل او بیا ئے ترینه تپوس اوکړو "تهٔ دلته څۀ کوې "؟
شایان هغه ته دَ مظلومیت په نظر اوکتل خو جواب یې ورنکړو ـ میلمه کمانډر ته داسے محسوسه شوه چې دَ هغه په زړهٔ ډیرے خبرے دي او هغه نه غواړي چې دَ راز خبرے بل چاته اوکړي یا دا هم کیدیشي چې په دغه شهیدانو کښې دَ هغه څۀ قریبي رشته دار شامل وي ـ دے دَ پاره هغه هم ورسره زیاته نکړه ـ میلمه کمانډر دَ ورانو کنډرو جائزه اخسته او هر څۀ ته به یې په غور کتل ـ میلمه کمانډر په لوړو ، جورو ګرځیدو او ګن مین لا هغسے موټر سره ولاړ وو ـ
شایان مرکز ته مخامخ اودریدو او یوه لویه دعا یې اوکړه او روان شو ـ میلمه کمانډر چې هغه په روانه اولیدو نو هغه هم ګاډي له ورغی ـ هغه ډرائیونګ سیټ ته کیناستو او ګن مین روستي سیټ کښې کیناستو ـ چې یو څو قدمه مخکښے لاړو نو ګاډي یې دَ شایان مخے ته اودروو او هغه نه یې تپوس اوکړو "چرته ځے بچے "؟ شایان په خپل

ځائے اودریدو او هغۀ ته یې اووے "هیڅ پته نه لګی چی چرته ځم خو بس روان یم هره خوا ته که لاړم"۔

میلمه کمانډر:۔ که خکته ځے خو راځه مونږ سره کینه"۔

شایان:۔ تاسو چرته ځئ؟

میلمه کمانډر:۔ مونږ لرے ځو ...بنو ں ته . چې تۀ کوم ځاے کوزیدل غواړے تا به کوز کړو۔ شایان ډیر خوشحاله شو۔ په زړۀ کښې یې وی "بنده اریان خداې مهربان" میلمه کمانډر ورته دَ مخکښې سیټ کړکی لرے کړه او هغه سره فرنټ سیټ کښې کیناستو۔ چې ګاډی لږ مخکښے لاړو نو کمانډر شایان ته اوکتل او وے وئیل "بچے پټکی دَ سر نه لرے کړه او سیټ کښې ډډه شه۔ داسے معلومیږی چې پے ارامه یې "شایانه هغه ته دَ مننے په نظر اوکتل، پټکی یې دَ سر نه لرے کړو او مسکی شو۔ دَ هغے په جواب کښې کمانډر هم مسکے شو"۔

**پنځمه برخه**

معلومه نه ده چې مشرخان دَ چانه مجبوره شوے وو چې هغه ته یې دَ ثنا دَ پاره "ښه" کړی وو۔ کیدیشی دغه ځلورو کسانو کښې یو کس وی۔ دا هم کیدیشی چې د دغه ځلورو امیدوارانو نه علاوه بل څوک داسے غټه ستړه وی چې مشرخان سره یې بهر لیدل کتل کړی وی او هغه ته یې "ښه" کړی وی۔ دا خبره مشرے بی بی ته هم نه وه معلومه او نه ترینه هغے تپوس کولے شو۔ دَ واده سامان راچلیدو او په کور کښې ځائے کیدو۔ مشره بی بی څو څو ځله مشرخان ته ورنزدے



www.pukhto.net



شوه او څو څو ځله یې دَ هغه نه تپوس ته خوله جوړه کړه خو دَ تپوس جرأت یې اونه کړے شو۔ چی اونشوه نو دَ انیله نه یې غلے غوندے تپوس اوکړو۔ چی دَ هغے نه مطمئنه نشوه نو بیا یے دَ ثنا نه تپوس اوکړو۔ هغے ورته اووے "امی چې تۀ نه یې خبر نو زۀ به څنګه خبرشم۔ خو داسے معلومیږی چې شایان آؤټ شو او مقابله دَ دغه ځلورو امیدوارانو ترمینځه ده۔ چا اوګټله او چا بائیله، دا معلومات ماته نیشته"۔

یاسمین بی بی چی دَ ثنا د خولے نه دَ "شایان آؤټ شو" خبره وروریده نو یخے اوبۀ پرے توې شوے۔ خپلے کمرے ته لاړه، وریې ځان پسې پورے کړو او ښه په سلګو سلګو یې اوژړل۔

هغے به چی ثنا او دَ هغے دَ وادۀ سامان ته کتل نو نیمه نه پاتے کیده۔ چې اونشوه نو بیا یې په زړۀ دَ صبر کاڼې کیښودو، نه به یې ثنا ته کتل او نه دَ هغے وادۀ سامان ته۔ په دغه کور کښې اوس دَ هغے هغه زوړ حیثیت نه ۆو پاتے۔ نه ورسره دَ مخکښے غوندے چا صلاح مصلحت کوو نه ورسره مشوره کوله او نه یې ترینه مشوره غوښتله۔ هغے ته خپل ځان په هغوې باندے یو پیټې ښکاریدو۔ ثنا به ورسره مخکښے کله کله خاندل خو کله چی هغے پسې نوے رشتے راماتے شوے نو دَ هغے هم هغه خوند پاتے نشو۔ هغه بالکل یوائے شوے وه۔ نه دَ کور په بندیانو کښې شمار وه او نه په خدمتګارو کښې۔ چې ډیره تنګه شوه نو یوه ورځ یې خپله غاړه غوټه دَ شایان د پاره دَ ثنا

ورکړے شوے تحفه راواخسته ، بورقه يې په سر کړه او دَ ثنا کمرے ته ورغله ـ هغے او انيله لا په ميز پراته څلورو تصويرانو کښې خوښخه ناخوښخه کوله چې ياسمين بی بی ورته دَ شايان تحفه په ميز کيښوده او ورته يې اووے " دا خپل سوغات دے واخله لورې۔ دا به بل چاله ورکړے "۔

ثنا چې هغے ته او دَ شايان سوټ ته اوکتل نو مسکۍ شوه او هغے ته يې اووے "دا خو دَ شايان سوټ دے ـ ماورله ډير په مينه راوړے دے ـ دا ځان سره کيږده چې هغه راشي نو وربه يې کړے "۔

ياسمين بی بی (دَ ناخوالۍ مسکا )"بی بی هغه هسے هم آؤټ شوے دے ـ دَ هغهٔ هيڅ پته نه لګی چې چرته دے او کله راځی "۔

ثنا (په مسکا) تاخو بورقه اوغاړه غوټه راواخسته ، چرته روانه يې؟

ياسمين بی بی :- په کلی کښې راته څۀ اښتنے پوښتنے دی ـ هغے دَ پاره کلی ته ځم "۔

ثنا ( مسکۍ شی ) ماځان سره نه بوځے مورے ؟

ياسمين بی بی :- نه لورے تادے خداې په خپل کور خوشحاله لری۔

ثنا:- بيا به کله راځے؟

ياسمين بی بی :- دَ بيا راتلو مِ هيڅ پته نه لګی ـ

ثنا :- زما وادۀ له خو به راځے کنه ـ ( مسکۍ شی )

ياسمين بی بی :- که چاراته اووے خو رابه شم ګينی مشکله ده ـ

ثنا:- تا پسې به زۀ په خپله درځم او ځان سره به دے راولم ـ



www.pukhto.net



ياسمين بی بی :- ( ډکے سترګے ) ښه لورے لاړم درنه ـ

ثنا:- دَ شايان څۀ پته لګی چې چرته دے او څۀ کاروبار کوی ؟

ياسمين بی بی :- هيڅ پته يې نه لګی ـ

ثنا :- چې راشی نو زما له خوا ورته ډير ډيرسلامونه وايه ، که ماته موقعه ملاؤ نشوه نو ورته وايه چې زما وادۀ له به خامخا راځی ـ که رانه غۍ نو ملګرتيا ختمه "۔ دے سره هغه او انيله په خندا شی او ياسمين بی بی ډکے سترګے اوځی ـ

Pukhto.Net پښتو

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★

## شپاړسم باب

شایان څلور ورځې دَ میلمه په حیث دَکمانډر صیب په بنګله کښې تیرې کړې ۔ دَ کمانډر صیب ګن مین وحید او دَ هغه ملازم او باورچي اسلم کاکا به دَ هغهٔ ډیر قدر کوو۔ دَ هغهٔ دَ خوراک ، څښاک او ارام به یې ډیر خیال یې ساتو خو کمانډر صیب ښکاره نشو ۔ په دې دوران کښې هغه ښه په مړه ډوډۍ هم اوخوړه او په مړه ډډه یې خوب هم اوکړو ۔ کمانډر صیب په پنځمه ورځ ګسټ روم ته ورغې ، شایان چې هغه اولیدو نو پاڅیدو ورته ۔

کمانډر صیب ( هغه ته په لاس دَ ناستې اشاره اوکړه ) مه ، مه ، مهٔ پاڅهٔ ، کینه بچې ۔ معافي غواړم زهٔ یو څو ورځو له کلی ته تلې ووم ۔ دَ چا څهٔ فیصله مې کوله ۔ تا خو به ښه ارام کړی وی ؟

شایان (مسکې)جی صیب ۔

کمانډر صیب :۔ دَ ډوډۍ څهٔ تکلیف خو نه وو درته ؟

شایان :۔ نه جی ستا ملازمینو زما ډیر خیال ساتو ۔ ډیره مهربانی صیب۔

کمانډر صیب:۔ ښه کمانډر عبدالحق صیب هم تیره کړه ، څهٔ عجیبه نر سړې وو۔ زما دَ ډیرې مودې دوست وو ۔ستا ورسره څومره موده اوشوه ۔

شایان :۔ درې ، څلور میاشتې تقریبا ۔

کمانډر صیب :۔ ته هم مجاهد یې ؟



www.pukhto.net



شایان :۔ زهٔ هسې په نوم مجاهد یم خو مالا تنظیم کښې شمولیت نه دې کړې ۔

کمانډر صیب :۔ ستا څهٔ نوم دې ؟

شایان :۔ زما نوم عبدالله دې ۔

کمانډر صیب :۔ دا نوم خو دَ تنظیم له خوا تاته درکړې شوې دې خپل نوم دې څهٔ دې ۔

شایان:۔ زما نوم شایان دې ۔

کمانډر صیب تندی له لاس راچوی او وائی "ښه ، هغه شایان ته یې چې دَ جیل نه تختیدلې وو"۔

شایان :۔ هاؤ جی ۔

کمانډر صیب :۔ تهٔ واقعي مجرم یې او که هسې دَ املوکو په تول کښې راغلې یې ؟

شایان :۔ هیڅ مې نه دی کړې صیب ۔ هسې پکښې راغلې یې ۔

کمانډر صیب:۔ تاسره خو نور ملګری هم وو کنه ۔

شایان :۔ مونږ ډیر ملګری وو الزامات په ما او طارق کمال تپکی شو۔

کمانډر صیب :۔ ښه ښه ، هغه خو اوویشتلې شو او لاش یې حکومت ته حواله شو ۔

شایان :۔ بالکل جی ۔ هغه سره دغسې اوشو۔

کمانډر صیب:۔ تاسره څهٔ اوکړو ؟ ( شایان ته نیغ نیغ ګوری )

شایان :۔ څهٔ مطلب صیب ؟ زه پوهه نشوم ۔

Pukhto.Net

کمانډر صیب :۔ مطلب دا چې دَ طارق کمال لاش حکومت ته حواله شو ۔ ستا لاش سره څۀ اوکړو ۔ستا دَ مرګ نه پس ستا لاش دلته ښخ کړو او که ستاسو کلی ته یې ستا مور ، پلار له اولیږو ، اوس پو هـ شوې؟

شایان :۔ صیب ، زه نه مجرم یم ، نه مې جُرم کړې دې او نه زما خلاف څۀ ثبوت شته ۔

کمانډر صیب:۔ زۀ ستا دَ کیس خبره نه کوم تا باندې یو بل تور دې ( شایان رنګ اووهی ) ''تا او طارق کمال په ملالۍ کلی کښې اخری شپه غنچه ګل سره کړې وه ''؟

شایان :۔ جی صیب ۔

کمانډر صیب :۔ تاسو دَ چا په مرسته دَ هغوی دَ کوره اوتختیدئ۔

شایان :۔ زۀ یې پیژنم نه ، خو ځوک زنانه وه ۔

کمانډنټ :۔ هغه زنانه دَ غنچه ګل پیغله خور ګل ورینه وه ۔ دَ کلی خلقو ته چې پته اولګیده چې تاسو دَ ګل ورینې په مرسته تختیدلې یې نو په دیکښې ډیرې خبرې راغلې او اخر دا چې خبره په تا ټکې شوه

شایان :۔ څۀ خبره په ما ټکی شوه ؟

کمانډر صیب :۔ ګل ورینه په تا توره شوه . . .ستا تلاش دَ ډیرې مودې نه شروع ووخو چا تـه معلوم نه وې ۔ ستا په تـس کښې هغه اوویشتلې شوه او مړه شوه ۔ د دې علاقې دَ تور سزا دا ده چې یا به دواړه ودیږی او یا به دواړه مړۀ کیږی ۔ چونکه هغه مړه شوې ده نو دَ



www.pukhto.net



واده خو سوال نه پیدا کیږی البته ستا سزا دا ده چې دَ هغې وارثان به تا وژنی ۔ غنچه ګل دَ شرمه رانه غیٔ خو دَ هغې نور وارثان راغلی دی ۔ خو دا راته اووایه چې تا واقعی هغې سره څۀ غلط حرکت کړې دې ۔

شایان :۔ نه صیب داسې نه ده ۔ زۀ به درته په سور قرآن لاس کیږدم چی نه مې لیدلې ده ، نه یې پیژنم او نه مې څۀ غلط حرکت کړې دې۔ دا خو لاده چې زۀ درته داسې قسم خورم چی زۀ په ښۀ بده پو هـ شوې یم زۀ خدای دَ داسې کارونو نه ساتلې یم ۔

کمانډر صیب :۔ ته واقعی قسم خوړلو ته تیار یې ؟

شایان :۔ صیب زۀ ورته یواځې دَ ګل ورینې نه بلکه دَ خپل ټول ژوند دَ غلط حرکتونو قسم خورم ۔

کمانډر صیب:۔ زۀ هم دَ ناحقه مرګ په حق کښې نه یم خو چې تۀ قسم خورې نو خبره ختمه شوه ۔ تاسره بله صفا جوړه جامې شته؟

شایان :۔ نه صیب جی ، ماسره بله جوړه نشته ۔

کمانډر صیب (وحید ته ) ''وحیده دۀ له تولیه ، صابن او هغه نوې جوړه راواخله او په دغه غسل خانه کښې یې ورته کیږده ۔ ځه ورشه او لامبه او ځان قسم ته جوړ کړه ''۔

چی هغه اولامبلی او نوې ډرس واغوندی نو لوې آئینے ته اودریږی په سر کښې ګمنز اووهی او په شا یې واړه وی او بیا دَ ګسټ روم ورلږې کړی په یوه کرسی کینی او دَ کمانډر صیب او دَ ګل ورینې دَ وارثانو انتظار کوی ۔ لږ شیبه پس کمانډر صیب راشی ، مسکې شی او هغۀ

ته وائی "واه ، واه ، تاته خو ماشاء الله ښکلی ځوان اووتو . . . ښه بچے ما هغوی سره خبره اوکړه هغوی وائی چې دے قسم اوخوری او بے گناه ثابت شی نو بیا خو گل ورینه هم بے گناه شوه ۔ چې هغه بے گناه وژلې کیږی نو دے ولې پاتے شی ۔ دَ کلی خلقو ته به څۀ وایو . . .ښه ستا څنگه خوښخه ده ۔

شایان :۔ کمانډر صیب :۔ زۀ هر څۀ ته تیار یم ۔ زۀ ورته قسم دے دَ پاره خورم چې زۀ صفا شم ، دے دَ پاره نه خورم چې هغوی په ما رحم اوکړی او ما پریږدی ۔

کمانډر صیب:۔ ته خو په والله چې نر هلک یې چې دَ مرگه هم نه یریږے ۔

شایان :۔ کمانډر صیب :۔ که رشتیا راباندے وائې نو زۀ هډو په خپل ژوند خوشحاله نه یم ۔ دا څه ژوند دے چې لمحه لمحه قتلیږم او لمحه لمحه بیا ژوندے کیږم ۔ ښه خبره دا ده چې په یو ځل مړ شم او دَ دنیا دَ تورونو او غمونو نه خلاص شم ۔

کمانډر صیب :۔ مبارک شه ستا سوال قبول شو ۔ دا ځل به ترینه خلاص شے ۔ تۀ بچے خپل تیارے اوکړه توبه اوباسه ، تسبیحات اوکړه چې ستا مرگ دَ شهید مرگ شی ۔ . . .او شهید نه مرم بلکه ابدی ژوندے وی . . .ښه مونږ شوټنگ سکواډ ته خبر ورکړے دے ۔ پنځه منټه کم شپږ بجے به هغوی راځی ۔ شپږ بجے به تا د دے ځائے نه شوټنگ سپاټ ته بوځو او تیک لس منټه دَ پاسه شپږ بجے په تا



www.pukhto.net



گولۍ وریږی . . .شپږو بجو ته لږ وخت شته ته دَ هغے پورے خپل ذکر اذکار کوه "۔

کمانډر صیب :۔ ډیر په تیزۍ سره بهر اوځی ۔

## دویمه برخه

شایان دَ کمانډر صیب په گسټ روم کښې خفه ، دلگیر او د دنیا نه بے زاره یواځے ناست وو۔ دَ هغۀ سترگې په مخامخ دیوال اویزانده دَ طلائی رنگ په گهړیال لگیدلے وی ۔ دَ هغۀ شونډے رپیدے او دَ سیکنډونو دَ ستنې هر ټک سره به دَ هغۀ ساه تله راتله دَ پنډولم ډنگ سره دَ هغۀ زړۀ هم آهنگ وو۔ هغه دَ مخامخ گهړیال دَ ستنو دَ رفتار سره دَ خپل ژوند آخری لمحے شمیرلے ۔ کله کله به یې دَ گسټ روم زیب وزینت او نقش ونگار ته هم کتل خو ډیر زر به یې ترینه مخ واړه وو او سترگې به یې بیا په گهړیال اونختې په دیکښې د گهړیال نه یو سرود نما اواز راغۍ ۔ دے اواز سره پنډولم په گډا شو ۔ دَ گهړیال یوے جۍ او بلے جۍ له به تلو راتلو او لکه کلب دَ مست شرابی به یې کله یوه او کله بله نازنینه ښکلوله ۔ دَ گهړیال نه شپږ اوازونه راغلل او شپږ ځله دَ پنډولم ښکلول اوشو ۔ هغه لا په دغه تماشه کښې مصروف وو چې کمانډر صیب او وحید دواړه گسټ روم ته راغلل ۔

کمانډر صیب مسکی شو او هغۀ ته اووے "ښه بچے ته تیار یې ۔ شوټنگ سکواډ راغلے دے او ستا انتظار کوی "۔

شایان :۔ زۀ بالکل تیار یم صیب ( پاڅی) ځۍ چې ځو(روانیږی)

کمانډر صیب:۔ نه داسې نه ، ( وحید ته ) "وحیده شایان له په توره ټکره سترګې اوتړه ۔ هسې نه چې دَ شوټ کیدو نه مخکښې مړشی "۔ وحید په توره کپړا دَ هغه سترګې تړلی ۔ چې سترګی ورله اوتړی نو کمانډر صیب ورته وائی "وحیده ، دې دَ لاس نه اونیسه او هلته یې بوځه ، خیال کوه چرته څۀ سره ډغره اونه خوری په ارام یې بوځه"۔

وحیده :۔ ډیره ښه ده صیب ۔

شایان په کور کښې دننه شوټنګ سپاټ ته بوتلې شو ۔ یو اوچت دیوال سره اودرولې شی ۔ او دَ هغه لاسونه اوچت کړې شی ۔ بیا کمانډرصیب شوټنګ سکواډ ته وائی "زما دَ تهری سره به فائر شروع کوئ "۔

بیا شایان ته وائی " شایانه ، زمونږ دا اصول دی چې دَ مرګ نه مخکښې مونږ دَ مجرم نه تپوس کوو ، که ته څۀ ویل غواړې نو ویلې شې ۔"

شایان :۔ " هاؤ صیب بل دا چې زما لاش دې خان آباد ته یوړې شی او که ثنا راغلې وی نو زما له خوا دې ورته دا اوویلې شی چې ته ازاده یې ، تۀ په خپله خوښه واده کولې شی ۔ زما انتظار مۀ کوه ، زۀ تا نه ډیر لرې لاړم "۔ بیا ځان سره وائی " اې دَ نمر زیړو پلوشو ، تاسو ګواه اوسئ چې ما خپله وعده پوره کړه . . والسلام "۔

کمانډر صیب (سکواډ ته ) "سکواډ ریډی ( تول ټوپکې لوډ کړی ) ون ، ټو ، تهری " تهری سره یو زبردست باړ اوچلیږی خو په شایان یوه ګولۍ هم اونه لګی ۔ کمانډر صیب غصه شی او په غصه کښې وائی



www.pukhto.net



"ریلوډ (reload) سکواډ ټوپکې بیالوډ کوی ۔ هغه بیا ئی وائی "ون . . .ټو . . .تهری" بیا یو زبردست فائر اوشی خو یوه ګولۍ هم په شایان اونه لګی ۔ کمانډر صیب بیا غصه شی او غصه کښې وائی ریلوډ . . .ریډی . . .ون . . .ټو . . .تهری ، په دریم ځل هم ښه زبردست فائر اوشی خو یوه ګولۍ هم دَ شایان په طرف ورنشی ۔ کمانډر صیب وائی "فائر بند . . .دې نه معلومه شوه چې یا زمونږ ټوپکې خراب دی ګولۍ نښخې ته نه رسوی یا شایان صادق دې ۔ دۀ له سترګې پرانیزئ" دې سره کمانډر صیب روانیږی او دَ شایان سترګی پرانستلې کیږی چې هغۀ سترګی اوزبوی نو مخامخ ورته ثنا غړیدلې سترګې ولاړه وی ۔ دواړه په ځان پوهـ نشی ، یو بل ته ورترغاړه وځی ۔ دواړه په چغو چغو او سلګو ژاړی ۔ انیله چا چې دَ شایان سترګې پرانستې وې په هغه کپړا دَ دواړو اوښکې اوچوی ۔ په دیکښې مشرخان ، مشره بی بی ، یاسمین بی بی او مریم دَ هغوی خواله ورشی ۔ شایان چې هغوی تول اوینی نو ورمنډه کړی او هغوی سره ملاویږی ۔ هرخوا خوشحالی او خنداګانې شی ۔ په دیکښې وقاص صیب راشی او دَ هغوی نه په حیرانتیا تپوس کوی "دا هلک ثوک دې ؟ شایان نه دې ؟ شایان هغه له غاړه ورکوی او وائی "کمانډر صیب ، تا خو په ما دَ مرګ چپې تیرې کړې "۔

وقاص صیب:۔ ول ډن بوائې ، آئی ایم پروډ آف یو ۔ تۀ یو نر او بهادر انسان یې ۔ شاباش ۔ او رشتیا وادۀ دې مبارک شه ۔

شایان ( په حیرانتیا ) واده ؟

وقاص صیب:۔ هاؤ ، واده ۔ تهٔ خو ځان ته اوګوره دَ ولایت سوټ دې اغوستې دے ۔ او ثنا ته اوګوره چې دَ وادهٔ جوړه یې اغوستې ده او سرهٔ بنارسۍ یې په سر کړے ده "۔ بیا ټول شایان او یاسمین بی بی له مبارکی ورکوی ۔

وقاص صیب ( مشرخان ته ) ډولۍ به کوم خوا اوړی ؟

مشرخان :۔ ډولۍ به شینکۍ ډهیرۍ ته اوړو ۔ دَ ولیمے پروګرام هم هلته دے ۔ ځان تیار کړه چې ځو"۔

وقاص صیب :۔ زهٔ درسره نشتم تلے ۔ زهٔ به انشاء الله صبا درځم ۔

مشرخان :۔ ولې نشې تلې څهٔ چل دے ؟

وقاص:۔ یوه ایمرجنسی ده ۔ دَ کمانډرعبدالحق په حق کښې دَ امریکے خلاف یو احتجاجی جلوس اوځی ، دَ هغے دَ پاره دَ ستهینډ ټو حکم شوے دے ۔ زهٔ به انشاء ا لله صبا مازیګر درشم ۔

مشرخان :۔ ښه ټیک ده خو دَ ثنا نه اجازت واخله ۔

وقاص صیب ثنا له ورځی دَ هغے په سر لاس اړدی او هغے ته وائی "ثنا ماته یوه ایمرجنسی پیښه ده ، خفه نشې ، زهٔ به انشاء الله صبا درځم" دے سره هغوی دواړه یو بل ښکل کړی ۔ دَ هغوی دَ تلو تیارے شروع وی چې په دیکښې په اسمان کښې یو ګړز اوشی ۔ ګړز سره هر خوا مکمل خاموشی شی په اونو کښې دَ مرغو چغار بند شی ، دَ هوا په رفتار کښې کمې راشی او په فضا کښې دَ چا اواز اوکړنګیږی۔



www.pukhto.net



۔ دنیا دَ مینے کوردے خو ناترسه ستمګرو
ته ماسره دشمن کړے زهٔ یې تاسره دشمن کړم
په خپله خونه نه یم څهٔ ورانه ، څهٔ ویجاړه
فکرونه دَ ګلونو، دَ بلبلو او دَ چمن کړم

ټول یو بل ته اوګوری ګاډو کښی کینی او روان شی۔

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★

★

Pukhto.Net پښتو





www.pukhto.net



Pukhto.Net
پښتو